

wyaarh.ashnaghar@gmail.com
دسمبر 2012
قام بابا وطن
حسین رضی الله عنه
۱٤۳٤ھ
مو پیاوړي شه!
MONTHLY
WYAARH
ASHNAGHAR
میاشتنۍ اشنغر ویاړ
چیف ایډیټر
حیات روغانی
د پښتون ویاړ او مرام شهید
ملاله د هیلې وړانګه
اودل سمد خان اڅکزے بابا
ایمان، اتحاد، تنظیم
اتحاد، اعتماد، تنظیم
FAITH.UNITY.DISCIPLINE
UNITY.FAITH.DISCIPLINE
د محبت د لار شهید را نه ورک شوے واخله!
مونږ ژوبل شوي ناست یو، خپل خپل پرهرونه زیادو
غزه
نړیواله چپیا ژبې کومو
کوتونیولې دي
کالاباغ ډیم
لاهور هائي کورټ
درې صوبې څه وېني؟
چارلي چپلن
ریښتونے
تلپاتې
مزاح
PTA NADRA
لے وخته استاد تګ لاړي ......
21 دسمبر 1940 - 16 نومبر 2012
د سم کارډ او پیژند تړون
100% ناکړدي به منځ نه ځي



تکل
# سر
اشرف غمګین




سیکولر جناح.....
مذهبي رنګ چا ورکړو؟

# جناح نامه






دیناجناح اؤ دیناواډیا
منځ کښي ورک کردار
# دیر بائي






د دانشور بټېربازانو دام
اؤ د افتاب شېرپاؤ لومه
چغمټ

# اشر
د پښتنو د ټولنیز ژوند نیازبین رنګ





د افغانستان ديموکراتيک ځوانانو سازمان د افغانستان

میاشتنی ویاړ اشنغر
کښي اشتهاراتو لپاره
تماس شمېر
0300 933 9128
0301 886 2384
0311 886 2384
0333 886 2384

THE MONTHLY WYAARH ASHNAGHAR

میاشتنی ویاړ اشنغر

چیف ایډیټر
حیات روغانی

ISSN201212

ایډیټر: معظم جان معظم

اعزازي ایډیټر: ډاکټر زبیر حسرت

بیورو چیف: اصف علي

سرکولیشن منېجر: حمید الله جان

Wyaarh.ashnaghar@gmail.com
Monthly.wyaarh@groups.facebook.com
0300 933 9128: Asif Ali
0343 965 5035: Inayatullah Roghani
0311 886 2384: Hameedullah Jan

پاکستان کښې:

بیعه: 40 روپۍ (کلیزه چنده 450 روپۍ)

| بدل اشتراک | د یوې ګڼې بیه | د کال لپاره |
|---|---|---|
| افغانستان | 25 افغانۍ | 300 |
| یورپ | 5 امریکائي ډالره | 50 |
| خلیج | 10 یو اے ای درهم | 200 |

مخپاڼه: حمنا ګرافکس

لیکچارې: داؤد ساکر

انځورګر: فوټوسټې چارسده

چاپ چارې: حمنا پبلیکېشنز پښتونخوا
0300 933 9128

| | | |
|---|---|---|
| سپېڅلے قران (ژباړه) | 01 | مفتي حنیف الله |
| اداریه | 02 | اداره |
| کابل راپور | 04 | شېر محمد زرمل |
| هاغه جناح چې مونږ ئې پېژندل نۀ غواړو | 06 | عزیز احمد (نیو یارک) |
| جناح: د لوي سیاستمدار ژوند ته ځلغنده نظر | 08 | وقاص وردګ |
| دین بائي: د "ډیناجناح" اؤ "ډیناواډیا"..... | 11 | ویاړ راپور |
| اسلام کښې ټولنیز ژوند | 14 | شېر بهادر افتاب |
| زمونږ جوماتونه | 16 | جاوېد احمد غامدي |
| د کربلا ښونه | 17 | عبد العلي (شاه جي) |
| بحر الادب: اعراب اؤ اصلاحات | 19 | ارواښاد شېرشاه ترخوي |
| هو! د اشنغر ادب اؤ ادیب یتیم شو | 21 | معظم جان معظم |
| روښان ادبي جرګه (راج) جده ـــ روداد | 24 | فضل مومند |
| ټپې متلونه | 26 | اداره |
| سر (ټکل) | 27 | محمد اشرف غمګین |
| د "سم کارې" اؤ "پېژند" ترون ـــ د امن ضمانت | | |
| محمد علي جناح انځورونو کښې | | |
| کالاباغ ډېم......X | | |
| ویاړ انځورپاڼه | | |
| د پښتون مرام پښتون ویاړ شهید: اڅکزے بابا | 34 | دوست افغان |
| لاهور هائیکورټ کښې د شهید اڅکزي بابا بیان | 36 | سیال سباؤن |
| اشر: د پښتون ټولنیز ژوند نیازبین رنګ | 37 | ویاړ راپور |
| د دانشورو بېړبازانو دام | 39 | چغمټ |
| قبائیلي سیمو کښې اصلاحات | 41 | افراسیاب خټک |
| قبائیلي سیمو کښې د تعلیم اصل صورتحال | 43 | احسان داور |
| غزه: د نړۍ ژبې کومو ګوتو نیولې دي؟ | 45 | عمر خټک |
| د افغانستان دیموکراتیک ځوانانو سازمان | 47 | اسد افغان |
| سوشل میډیا: چې څۀ په خُلۀ ورځي | 49 | زرګل مومند |
| ویښ پښتون ـــ اوده پښتون | 51 | سیال سباؤن |
| ملاله د پاکستان لور نۀ ده | 52 | خان زمان کاکړ |
| موسیقي اؤ تهاتهونه | 55 | خیام یوسفزے |
| چارلي چېپلن: ربښتونے تلپاتې مزاح | 57 | ویاړ راپور |
| د پښتون فلم قبصه اؤ سندره | 61 | روزي خان ناز |
| مسافرې دې نصیب مۀشه! | 62 | شاهد قماش |

**غزلونه:** سید شاه سعود، اقبال شاکر، شوکیر اتمانخېل، غلام حېدر حېدر

د میاشتني "ویاړ" مرام د پښتون اولس د تعلیم سره مینه، د پښتنو په خاوره امن اؤ د پښتنو د اقتصاد د پرمختګ د پاره هلې ځلې کول دي، هغه په پاکستان کښې دي، کۀ افغانستان کښې اؤ کۀ د نړۍ په نورو برخو مېشته دي ـ دغه لړ کښې مونږ هیله لرو، چې د پښتنو د ژوند په هر اړخ چې تاسو ژور نظر لرئ اؤ دغه نظر د پښتنو ژوند کښې بدلون راوستلے یا د بدلون لاره ښودلے شي، نو مونږ سره ئې زمونږ په بْرېښنائي لیک شریکې کړئ ـ

مونږ ئې د خپرولو ژمنه کوو ـ اداره

د سورة البقرة [غوا] تېر پسې برخه......

پـه نامه د الله چې رحمان اؤ رحيم دے

اؤ کهٔ چرې تاسو په هغه څهٔ (قران) کښې شک لرئ، کوم چې مونږ خپل بنده (محمد ﷺ) ته ورکړے دے، نو د دې په څير يؤ سورت راؤړئ اؤ (دې لړ کښې) الله نه پرته خپل مرستيال (هم مرستې د پاره راؤبلئ)، کهٔ (خپله لاپه کښې) رېښتوني يئ ـ خو کهٔ داسې (د قران په څير سورت منځ ته راؤړل) ؤ نهٔ کړے شئ اؤ ارومرو به ئې ؤ نهٔ کړے شئ، نو د هغه اور (غرغنډو) نه ؤوېرېږئ، خشاک چې ئې کاڼي (بُتان) اؤ وګړي (د خدا ے اؤ محمد ﷺ اؤ قران نهٔ منونکي اؤ شر خورؤنکي) دي اؤ (دغه اور) د رېښتيا نهٔ منونکو د پاره تود کړے شوے دے ـ اؤ هغه باور لرونکو اؤ د ښېګړې کارونو کؤنکو ته د (داسې) جنتونو زېرے ورکړه، چې (دغه جنتونو کښې د مانيو اؤ ؤنو) لاندې ويالې بهيږي، دوي (جنتيانو) ته به (چې دغه جنتي ؤنو څخه) د خوړلو لپاره مېوه (کله هم) ورکړې شي، نو (دا جنتيان) به وائي، داسې (مېوه) خو مونږ ته دې نه اګاهو (نړۍ کښې) هم راکړې شوې وه اؤ دوي ته به (څهره اؤ رنګ کښې) يؤ ډول (مېوه) ورکړې شوې وي (خو خوند به ئې بېل وي) اؤ دوي د پاره به (دې جنت کښې) سپېڅلې (اؤ ښې) ښځې وي اؤ تل به (په دغه جنتونو کښې) اوسيږي ـ بېشکه خدا ے (د وګړي پوهې د پاره) د ماشي (هومره (غټې نه غټه)) اؤ يا د ماشي د پاسه (چې کومې نړۍ رېښې غوندې دي اؤ يوازې په خوردبين سره ليدې شي (ورېوې نه وړه)) بېلګه هم وړاندې کوي ـ نو هغه (څوک) باور لرونکي پوهيږي، چې دا (بېلګه) د هغوي د څښتن لخوا رېښتيا (پېلام) دے اؤ هغه (څوک) مخ اړؤنکي وائي، خدا ے د دې (بېلګې) څخه څهٔ غواړي؟، په دې (بېلګه) سره ډېر (نېغې لارې نه) کاږهٔ شي اؤ ډېر (پرې) نېغه لاره ؤمومي اؤ نېغې لارې نه (خو يوازې) نهٔ منونکي کاږهٔ کيږي ـ دا (نهٔ منونکي) هغه څوک (دي) چې د خدا ے سره (کړے) لوظ د پخلاوي نه وروستو ماتوي اؤ هغه (تړون) شلوي، چې (د کوم) د ساتنې (ورته) الله وئيلي دي اؤ زمکه کښې فساد کوي، دوي (نهٔ منونکي) زيانمن دي ـ تاسو څنګه خدا ے نهٔ منئ اؤ (رېښتيا خو دا دي، چې) تاسو مړهٔ (نيشت) وئ، نو ژوندي (شته) ئې کړئ، بيا به مو ؤوژني، بيا به مو (پس له وژنې) ژوندي کړي، بيا به (تول) دهٔ پله را ستنېږئ ـ هغهٔ (خدا ے) ستاسو د پاره د زمکې دا (بهر اؤ دننه) هر څهٔ روغ کړل، بيا ئې اسمان ته پام ؤکړو، نو اووهٔ اسمانونه ئې (دربانديې) څپرکړل اؤ هغه (خدا ے) د هر څيز (تول په تولهٔ) پوهه لرونکے دے ـ اؤ (ياد کړه) کله چې ستا خدا ے پرښتو ته په زمکه د (خپل) خليفه {څارونکي} د لېږنې ؤوئېل، (نو) پرښتو ؤوئېل، (ايا) زمکې ته هغه (څوک) لېږې، چې فساد به کوي اؤ (د يؤ بل) وينه به تويوي اؤ مونږ ستا د پېرزؤنو اؤ سپېڅلتيا يادؤنې کوو (د پرښتو په دغه خبرو ورته خدا ے) ؤوئېل، بېشکه زهٔ (په هر هغهٔ څهٔ) پوهېږم (چې) تاسو (پرې) نهٔ پوهېږي ـ اؤ (خدا ے) ادم ته د تولو څيزونو نامې ؤښودلې، بيا ئې پرښتو ته (دغه څيزونه) وړاندې کړل، نو ؤوئېل ئې (پرښتو ته) د دې څيزونو نومونه ؤوايئ کهٔ خپله خبره (چې د خليفه پحقله کوئ) کښې رېښتوني يئ ـ(31)

Editorial WYAARH
ویاړ اداریه

## لاهور هائي کورټ کښې کالاباغ ډېم

د دومره ذمه وارې ادارې نه دومره غېرذمه واره غږ اوږېدو سره به هم دا ؤوايو، چې دا ځل د پاکستان په مرۍ بيا د پاکستانيت لاپې کوئنکو چاړه ايښې ده. يؤ نۀ، دوه نۀ، درې صوبو د کالاباغ ډېم په ضد قراردادونه وړاندې کړې دي اؤ دا ټول قراردادونه د پاکستان دننه هره اداره کښې رېکارډ دي. داسې حالاتو کښې چې هېواد نورو ګڼ شمېر شخړو سره مخ دے، بلوچستان باندې پيريان ناست دي اؤ قبائيلي سيمې اؤ پښتونخوا کښې د مرګ اؤ ژوند ضمانت نۀ خو امنيتي ځواکونو سره شته اؤ نۀ نورې سرکاري مشېنرۍ سره، د لاهور هائيکورټ د دې پرېکړې غږ کولو په وخت د نوموړي قاضي سترګې د درې صوبو په پاڅون اؤ د پاکستان په بده ورځ پټې وې. د اتلسم ترميم تر مخه د ورو ډېمونو روغولو د پاره وفاق صوبو اؤ په ځانګړې ډول پښتونخوا ته تر اوسه فنډونه اجراء کړي نۀ دي اؤ نېکانو بيا کالاباغ کالاباغ پېل کړل. کۀ د پاکستاني سياست دا يوه بله وخت سره اوچته کړې شوې شوشه وي، نو سر دې ؤخوري، وي دې ــ خو بيا هم دا پرېکړه د وفاق منځ کښې چاؤدې کولو د پاره د پنجاب هائي کورټ يوه "غېر دانسته" هڅه ګڼو. پښتانۀ کۀ هر څو د بېرغونو شمېر کښې چڼ وڼ دي، خو د کالاباغ ډېم په ضد بايد يؤ غږ شي. د پنجاب شېرازۍ د پاره د کالاباغ ډېم تنور بيا غرغنډه کول د نورو صوبو رايه پسې ملنډه ده.

## د کراچۍ امن اؤ د سرلښکر خبره

په کراچۍ دننه د رېنجرز په هېډکوارټر شوي بريد اؤ د سپريم کورټ حکمنامه دواړه سرلښکر پروېز کياني په دې وېنا سره ؤوينځل، چې کراچۍ کښې د پوځي عملياتو اړتيا نشته. د داسې پرېکړو سره د دواړو ادارو مشرانو يؤ بل ته د رموس په ژبه کرښې راکښلې دي اؤ د باتۍ په بوي پوهه لرونکي پوهه شوي دي، چې څوک د کوم ځاے نه چا ته ګوابڼ کوي. يؤ اړخ ته په "مني پاکستان" کښې داسې ورځ حرامه ده، چې جنازې نه ؤځي اؤ بل اړخ ته په يؤ درشل دننه د **653** ووټونو اندراج ښائي، چې سياسي ډلو د دې ښار نه خندا، ځلا، ژوند اؤ سوکالي تړرولي دي اؤ داسې حالاتو کښې چې يؤ څوا ابم کيو ابم کراچۍ کښې امن د پاره اؤ بلخوا د پوځي عملياتو مخنيوي د پاره واک آؤتې کوي، د اولس ژوند لا درکو سره مخ شوے دے اؤ کراچۍ لکه د ميرات د برخې مرګ، ژوبلې اؤ ورانکارۍ ته سپارلې شوې ده.

## قاضي حسېن احمد اؤ مُلا نذير باندې ځانمرګي برېدونه

د لوي څښتن پېرزو ده، چې د يؤ پکښې هم نُوک ازار شوے نۀ دے، خو بيا هم دا خبره تولې نرۍ د پاره عجيبه ده، چې د نومبر نيمايه کښې په قاضي حسېن احمد اؤ په پايله کښې په مُلا نذير شوي برېدونه لوي ابهام لري. ورومبے د "طالبانيت" فکري بنسټ ايښودونکے اؤ دوېم ئې عملي کارنده دے. دې برېدونو سره داسې برېښي، لکه چې دې جنګ يؤ نوے اړخ ؤنيولو. تر اوسه په قام پرستو برېدونه کېدل، چې هغوي د هر ډول ميليټنسي په ضد ولاړ دي اؤ اوس د "جهاديانو" په نظرياتي پلرګنۍ برېدونه ؟ وخت پخپله د

امریکا پلویانو ته د اصطلاحاتو د غلطې ژباړې سبق ورکړے دے او دې وخت کښې باید دغه مذهبي ګروهې د قام پرستو مُلاتړ وکړي.

## ملل متحد څخه فلسطین ته زیرے

دا ځل د فلسطنیانو ټوټېدونکو اوښکو ته ملل متحد د نړۍ د 138 لخوا د ''څارونکي هېواد'' په توګه د منلو رومیال وَنیولو. په دې خبرو نېتن یاهو وَوئېل، ''فلسطین په دغه څوکۍ تر لاسه کولو ازادي ګټلې نۀ شي، بلکې د فلسطینیانو د خپلواکه هېواد غوښتنه به ورسره نوره هم وَځنډېږي. د فلسطین د خاوَرې او اولس بدمرغي ده، چې ټوله نړۍ او په ځانګړې توګه د پښتنو په خاوَره د جهاد ژوندي ساتونکي د فلسطین د کلیمې، وینې او جغرافیې وروڼو په شام خپلې مرۍ وَچې کړې، خو د فلسطین په رنګون او د فلسطینیانو په وژنه ئې په ژبه ګېتې پُرته وه. فلسطینیانو د ''څارونکي هېواد'' زیرے هم وَنمانځلو. یاده دې وي، فلسطین ته تر اوسه د یؤ خپلواکه هېواد په توګه د ملل متحد غړیتوب ترلاسه شوے نۀ دے او د فلسطین په اړه څلور شپېتۀ پاڅونونه (قراردادونه) اسرائیل تر پښو لاندې کړي دي.

## سوئس عدالت ته خط او این آر او

د فېسبوک، ټوئټر، ایمېل او ګرځنده نړۍ کښې د پاکستان دننه د دې پېړۍ د ټولو نه زیات یادېدونکے لیک خپلې ''منطقي'' پایې ته وَرسېدلو. د سپریم کورټ خبرې اتارني جنرل یؤ لیک کښې خوندي کړې او سوئس واکمنو ته ئې د رسولو ذمه واري هلته پاکستانۍ سفارتخانې ته سپارلې شوې دي. دې لړ کښې د دې عهد دوېم وزیراعظم د سر نه هم ځوړنده تُوره لرې شوه. د پاکستان سیاست دننه د حادثاتي طور اوچتو شوؤ شخړو حادثاتي حل د اولس په ذهن کښې د ډېرو تپوسونو بزغلے نولي، خو د تهېتر د واکدارانو خوښه، چې په کومه ډرامه څومره لګښت کوي او څومره وخت ورکوي. دلته خو د ''سین'' پېل نه اګاهو ''ډراپ سین'' بلکې ''کلائمېکس'' لیکلے شوے او رېکارډ کړے شوے هم وي.

## د ''رباني رباني جرګه'' او د ''پنجاب پنجاب بزنس کونسل''

د افغان امن کونسل مشر صلاح الدین رباني او د پاکستان د بهرنیو چارو وزیره حنا رباني کهر د دواړو ګاونډو هېوادونو په خاوَره د سولې او روغې د پاره اسلام اباد کښې مذاکرات کول او په لاهور کښې د پاکستانې پنجاب او هندي پنجاب تر منځه د ''مشترکه بزنس کونسل'' غونډه کېدله. هلته نیمګړے کشمیر نناري وَ او دلته د اسلام اباد او کابل منځ کښې پُرته پښتنه وینه. هلته ډېر پرمختګ شوے دے. هېوادونه بېل بېل دي، خو دواړه پنجابونو د اقتصاد او تجارت پلؤونو له غوټې ورکړې د ''بې څوکه'' کشمیر نه تاؤ شوي دي او د مذهب د نوم کربښه د وخت ضرورتونو ورانه کړې ده. دلته اوس تګلاره ټاکلې کېږي او دې تګلاره کښې ورومبۍ پؤړۍ هغه طالبانو مشرانو له خوندي لاره ورکول دي، چې د غېر ریاستي او ریاستي ځواکونو تر منځه د سولې لاره وَباسي. ډېر وخت شنډ تېر شوے دے، خو ښېرازه وختونه لا اوس هم شته. کۀ د سُولې د پاره اوس هم لاره وَټاکلې شي او عملي کړې شي، نو راتلونکي کښې به دا ټوله سیمه د جیګې اقتصادي ګټې د پاره د نړۍ یوه سَتره لاره او پراخه بازار وَګرځي.

## کابل راپور
## REPORTING KABUL

**شېر محمد زرمل**

۞ د پښتو ژبې تکړه شاعر، ليکوال او خبريال شرر ساپي د يوې ناوړه پېښې له کبله روغتون کښې پروت دے ـ د ښاغلي د ځاندرې ځلوښت سلمه برخه سوزېدلې ده او د روغتيا د پاره ئې لوې لګښت پکار دے ـ هغه دا وخت پاکستان کښې دے، خو د رنځپوهو د وېنا تر مخه د هغهٔ غوره علاج پاکستان يا افغانستان کښې کېدلے نهٔ شي او داسې د نوموړي روغتيا د پاره مونږ چارواکو څخه غوښتنه کوو، چې د نوموړي د روغتيا دې په سرکاري توګه تابيا وکړي شي ـ هغهٔ خپلو لفظونو کښې د وطن مينه او ننګ پاللے دے، بايد سرکار د هغهٔ سره مينه او ننګ وپالي

۞ د افغانستان د بيا ودانۍ لړ کښې د هند مرسته کهٔ هر څو پاکستان د پاره د خواشينۍ امل منلے کيږي، خو دا ريښتيا دي، چې هند نهٔ يوازې د افغانستان ودانۍ کښې لويه برخه واخستله، بلکې دغسې ئې خپل اقتصاد ته هم افغانستان کښې اوږه ورکړه ـ د اولسمشر د ډيلي اوسنۍ دوره او په څلور لوظونو لاسليک ته د ايشيا د امورو پوهان د اولسمشر لويه لاس راوړنه بلي او په دې هر څهٔ باندې افغانستان ته هند نه استثمار راوړلو د پاره د اولسمشر تګلاره د لاستائنې وړ ده

۞ اوسينو کښې د بشري حقونو کميسون لخوا په هېواد کښې ښځو سره د زياتي پېښې په ليکه شوې دي او نهٔ يوازې د افغانستان بلکې د نړۍ رسنيو او کميسونو ورته هم ګوتې نيولې دي ـ د خوست او پکتيا ولايتونو کښې د ناموسي وژنو خبرونه هم تر چارواکو رسېدلي دي ـ هېواد کښې هسې هم د جنګ له امله ژوند په سُور اور کښې دے او داسې حال کښې ټولنيز ژوند کښې هم د ښځو ژوند ته داسې تيلے وهل به يقيناً چې ټولنه يو ناخوښه اړخ ته بوځي او په راتلونکي به ئې ناوړه اغېزې څرګندې شي ـ داسې حال کښې د امنيتي ادارو دا سُتر مسئوليت دے، چې په تورسرو د تېرې او زياتي کؤنکو نيول يقيني کړي او د دغه تېرونو مخنيوے وکړي ـ

۞ پاکستان يو ځل بيا د افغانستان په کډوالو غږ کړے دے، چې د دسمبر مياشتې دننه د پاکستان خاؤره پرېږدي او خپل هېواد ته ستانهٔ شي ـ دې لړ کښې به د ملل متحد د کډوال پروژې لخوا هرې کورنۍ ته يو نيم سال ډالرې هم ورکولې کيږي او کهٔ چرې کومې کورنۍ دغه تګ وځنډولو، نو د پاکستان چارواکي به ئې بيا د ويستلو د پاره ګام اخلي ـ د يو اسلامي ګاونډي هېواد په توګه د افغانستان د جنګ ځپلي افغان کډوال دېرشو کلونو پورې پاکستان کښې مېشته وو ـ دې موده کښې پاکستان خپله هم د ترهګرۍ جنګ سره مخ شوے دے او افغانستان کښې د پاکستان په نسبت امنيت زيات دے ـ هم د دغه امنيت تر مخه لوي شمېر افغان کډوال خپل هېواد ته بيا ستانهٔ شوي هم دي او چې کوم لا پاتې دي، د هغوي سيمې د پاکستان پولې ته نژدې دي او هلته اوس هم د ترهګرو او د ملل متحد د ځواکونو ډزو ساه اخستلې نهٔ ده ـ بله دا چې د ژمي په راتګ سره کډه وړل او هلته په ځاے کول به د هغوي ژوند کښې نور ستونزې هم مخې ته راوړي ـ غوره به دا وي، چې د افغانستان کډوالو په حقله د نړيوالو غونډو د وېنا په ترڅ کښې بايد پاکستان دغه کډوال ته نور مهلت ورکړي ـ دې لړ کښې ايران هم د افغان کډوال د زورنې او د بې دخله کولو ګامونه اخستلي دي، چې نهٔ يوازې د افغان کډوالو ژوند ئې لا کړاؤنو او ځپنو ته ځپلمه کړے دے، بلکې د نړيوالو غونډو او پروژو ماتؤنه هم شوې ده ـ

۞ مولوي قيام الدين کشاف رسنيو ته وئيلي دي، چې ډېر زر به په افغانستان کښې د عالمانو نړېوالو غونډه تابيا کړي . هغهٔ زياته کړې ده، چې دې لړ کښې د پاکستان، ايران اؤ تاجکستان مذهبي لارښودونکو سره خبرې اترې شوې دي اؤ نورو هېوادونو سره هم تماسونه نيولي کيږي . د غونډې موخه د نړۍ د مذهبي لارښودونکو تر لارې د ځانمرګي بريدونو مخنيوي دے . مونږ دا ګڼو، چې د دې غونډې تابيا ډېره وړاندې پکار وه . د ځانمرګو بريدونو په ترڅ کښې اولس ډېر ځپلے شوے دے . د مذهب په نوم د کوچنيو ماشومانو نه "انساني بمونه" روغ کړے شوي دي، چې تيکنالوژي ئې هم د مخنيوي لاره نهٔ لري . دا نهٔ يوازې د اولس ژوند د پاره لويه درکه ده، بلکې دغه ماشومان هم زمونږ بچي دي، چې د خپلو هېوادملو ژوند پرې شوکوي . د پاکستان اؤ افغانستان چارواکي بايد د دې غونډې تابيا کښې اسانتياؤ د پاره خپل ټول سرکار په يوه پښه کړي، ځکه چې دا غونډه به يوازې د افغانستان اؤ پاکستان نهٔ، بلکې دې ټوله سيمه کښې به د امنيت لړ کښې لوي رول ؤلوبوي .

۞ تېر په اخره ملګري ملتونه يؤ غږ شول اؤ حقاني شبکه ئې د يوې ترهګرې ګروهې په توګه غږ کړله . حقاني شبکه باندې نهٔ يوازې پاکستان په ځان غوړونه راچولي وو، بلکې امريکا هم د دغه شبکې په اړه د خلې سپړدلو نه ځنډه کوله، خو افغانستان په هر دريز د دغه شبکې غندنه کوله اؤ پايله کښې ملګري ملتونو څخه د يوې ترهګرې ګروهې په توګه نړۍ ته ؤپېژندله . يؤ خوا په بهرني ډګر د افغانستان چارواکو کهٔ د دغه غږ د پاره چړچقې کولې، نو بلخوا ئې د صلاح الدين رباني مشرۍ کښې د افغان امن کونسل جرګه اسلام اباد ته لېږلې وه، تر څو د پاکستان چارواکو سره د داسې مهمو طالبان مشرانو د خوشې کولو خبره ؤکړي، کوم چې افغانستان کښې د وسله والو ډلو سره خبرو کښې منځګړي کېدلے شي . صلاح الدين رباني خپلو خبرو کښې زيات زور په مُلا برادر ورکړو، خو د غوږ ګنګوسه اؤرېدونکي وائي، چې مُلا برادر يا خو وژلے شوے دے اؤ يا مړ شوے دے . هر صورت کښې به افغانستان د مُلا برادر بېلات لوي درينجق ګڼي . د هغهٔ د طالبانو وسله واله ګروهو سره اړيکې زياتې ټينګې اؤ ژورې وې اؤ کابل باور لرلو، چې د جرګې په محال به د هغهٔ نه امن راوستلو کښې لويه ګټه ترلاسه کړي . کهٔ د افغانستان دا تګلاره بريالۍ شي اؤ طالبان افغانستان چارواکوځهٔ ورکړه راکړه ؤشي، نو د دې نېغ په نېغه اثر به په پاکستان هم پرېوځي، ځکه چې د افغانستان اؤ پاکستان انګڼ کښې دېوال نشته اؤ دا دېوال په اسانه کېدی هم نهٔ شي، ځکه چې د کرښې په دواړه اړخو مېشته پښتانهٔ د جغرافيې سره د ژوند په هره پېژندګلو شريک تاريخ لري . اوس دلته خبره دا ده، چې په پاکستان اؤ افغانستان کښې دريم لوبغاړی هم شته، بلکې کهٔ د لوبغاړي په ځاے ورته د لوبې څښتن ؤوايو، نو زياته غوره به وي . مونږ دا خبره کوو، چې اسلام اباد اؤ کابل خپلو تګلارو ټاکنه اؤ پرېکړو کښې دومره خپلواکه نهٔ دي، چې ګنې څهٔ ډول جرګې به تابيا کړي . دې لړ کښې امريکا اؤ د هغې سره بدرګه نور هېوادونه چې افغانستان جنګ سره تړون لري، هغوي هم لاس کښې اختستل پکار دي . مونږ اوس اوس په پاکستان اؤ افغانستان دواړو کښې ؤليدل، چې د ترهګرو په ضد پوځي عمليات نه اګاهو دغه نړېوال ځواکونه د خپل اړخ ترهګرې ډلې خوندي ځايونو ته رسوي اؤ دا هر څهٔ هم په افغانستان پسې شمېرلي کيږي . د افغانستان سره چې نړۍ څومره هم مالي کومکونه کړي دي، د هغې لويه برخه دې جنګ ؤخوړه اؤ د اولس د پاره څهٔ ګټې کښې دغه کومکونه پکار راغلي نهٔ دي (څومره ګټه چې بايد راغلې وه).


ISSN201212




# هغه جناح، چې مونږ ئې پېژندل نهٔ غوارو

عزيز احمد (نيويارک)
aziz.akhmed@tribune.com.pk

دلته نيويارک کښې زما سره د کور په دېوال زمونږ د "قائداعظم" محمد علي جناح يوٰ سټر انځور ځوړند دے. دا ډېر پخوانے دے ـــ چې هغهٔ پکښې په ډېر ښهٔ ډول اغوستن کښې ښکاري. هغه دغه انځور کښې په شينکى کښې د پښو په سر ناست دے ـــ شونډو کښې ئې سيګرټ نيولے دے او دواړو لاسونو کښې يوٰ وړوکے، سپين د اوږدو وېښتو سپى، ويستي (چې دغه نوغ نوم دے) او ويستي ته خوا کښې ناست غټ تور سپے "دوبرمېن"، چې غاړه کښې ئې پټى پرته، غوږونه ئې جيګ کړي دي ـــ دغه درې واړه (جناح او دوه سپي) نېغ کېمرې ته ګوري.

د جناح په مخ يوٰ موسکے رنګ خور دے. دا نهٔ شو وئيلے، چې دغه رنګ سيګرټ زيات ځرګند کړے دے، کهٔ بل څهٔ لامل (وجه) لري

هغه د شپېتهٔ کلونو شاوخوا ښکاري. هغه ښکلے برېښي او سپين شوے څتوکے ئې په شا اړولے دے.



د شرم خبره ده، چې د پاکستان سرکار د هغهٔ داسې انځورونه مخې ته نهٔ راوړي. لکه هغه په يوه غټه څوکۍ ناست او خوا کښې ئې ولاړه لور او د دواړو خلهٔ د خندا نه ډکه ـــ لکه د جناح او د ګاندهي د خندا انځور ـــ لکه جناح د بنچ په غاړه د خپلې خور او دوه ملګرو سره ناست او داسې نور ګڼ شمېر انځورونه.



پاکستانيانو خپل قائداعظم د نصاب کتابونو او په کرنسۍ د شېروانۍ او کيشتۍ هسې قراقول سره ؤچ بې موسکا انځورونو کښې ويني، چې دغه قراقول ئې هم اوس د هغهٔ نوم سره تړلے دے.

ISSN201212

جناح د ژوند ورستنو لس دولس کلونو کښې دغه شېرواني، پرتوګ اؤ قراقول د اولسي غونډو د پاره اغوستل پېل کړي دي ـــ خو هغهٔ بیا هم زیاتره انګرېزي اغوستن اغوستے دے، سپو سره مینه ئې پرېښې نهٔ ده اؤ (له بدمرغئ) سیګرټو نه ئې ځنډه کړې نهٔ ده.
جناح یؤ جدید اؤ مغربي ډول خوښوُنکے سړے وُ. د هغهٔ چې هره عقیده وه، خو چرې ئې هم د مذهب نخښنه خپل تندي ته پرېښې نهٔ ده ـــ حج یا عمرې د پاره د هغهٔ یؤ انځور هم د احرام حالت کښې نشته ـــ نهٔ چرته د روژه ماتي غونډو کښې اؤ نهٔ په زیارتونو د ګرځېدلو اؤ دعاګانو غوښتلو ـــ



مونږ یوازې د جناح انځور په سرکاري توګه د خپلې خوښې جوړ کړے دے، بلکې د هغهٔ نوم مو هم د خپلې خوښې په تورو (حرفونو) لیکلے دے. جناح به خپل نوم Mohamed لیکلو، کوم چې په نومبر1946ء کښې د هغهٔ په پاسپورټ ځرګند دے اؤ دغه پاسپورټ باندې ځرګند انځور کښې هغهٔ مغربي جېکټ، ټائي اؤ جناح کېپ په سر کړي دي اؤ زهٔ ګنم، چې دا هماغه انځور دے، کوم چې په کرنسۍ ښکاري، خو دومره ده، چې د انځور اسلامائز کولو د پاره ټائي ترې سنړدلې شوې ده اؤ د مغربي جېکټ غاړې نه د شېروانۍ غاړه روغه کړې شوې ده.



ځرګنده خبره ده، چې د جناح یوې "مذهب پلوه پېژندګلو" تراشلو د پاره دا هر څهٔ شوي دي. دا خو د انځورونو خبره ده، د جناح د یؤ یاد تقریر څخه د "Unity, Faith and Discipline" ترتیب هم "Faith, Unity and Discipline" کړے شوے دے، چې دغسې د (اتحاد، اعتماد، تنظیم) نه ئې د Faith معنا په "ایمان" اړولې ده، چې مذهبي انځور برخېره کړي اؤ ریښتیا خو دا دي، چې د دغه تقریر دننه Faith د "اعتماد" په معنا راوړے شوے دے.

❁❁❁❁❁❁❁❁❁❁

# د محمد علي جناح سیکولر فکر

د پاکستان جوړښت د پاره د دوه قامي نظریې چغه وهونکي هغه وخت لکه کاڼے غلي ؤدرېدل، کله چې د پاکستان وړومبي ګورنر جنرل د مملکتِ خداداد د وړومبي وزیرِقانون په حېث د یؤ هندو لارښود جوګېندرا ناتهه مېنډل (29/1/1904- 5/10/1968) ټاکنه ؤکړه. مېنډل د اسلامي پاکستان نه درې کلونو کښې دننه هغه وخت نهٔ یوازې د وزارت نه لاس په سر شو، بلکې په ختیز پاکستان کښې د هندوانو په وژنه ئې دا هېوادا هم پرېښودلو اؤ پاتې اتلس کلونه ئې د پښېمانۍ پېغور سره ؤویستل. قائداعظم د کابینې ټاکلو په وخت خپل پیاوړے سیکولر فکر ښودلے ؤ.

ISSN201212




**وقاص وردګ**

د دسمبر په پنځویشتمه 1876ء کراچۍ کښې یوې ګجراتۍ کورنۍ دننه د پونجا جناح بائي او میتي بائي کره زېږېدلے ؤ ـ د هغهٔ نور دوه وررونه احمدعلي او بندےعلي او څلور خوېندې رحمت بائي، مریم، شیرین او فاطمه وې ـ د ښوونځي په کاغذونو کښې د هغهٔ زېږون نېټه شلم اکتوبر 1875ء ده، خو وئېلے شي، چې ارواښاد جناح خپل زېږون کال 1876 د دسمبر پنځویشتمه لیکلې ده ـ جناح د خپلې کورنۍ سره د اسلام خوجا شیعه ښاخ سره ترون لرلو، خو وروستو ئې د شیعه مذهب بله څانګه "اثناعشرۃ" خپله کړه ـ د خپلې زدکړې لړۍ د ګوکل داس تیج پېلیز ښونځي (پرائمري سکول) نه سندهٔ مدرسة الاسلام، د مسیحي تبلیغي ښوونځي پورې او بیا مومبۍ پوهنتون نه ئې لسم پورې زدکړه ؤکړه ـ هم دغه کال 1892ء کښې انګلستان ته د ګراهم تجارتي کمپنۍ سره د زدکړې په لړ کښې روان شو چې د تګ نه اګاهو ئې د مور په خوښه د ایمي بائي سره وادهٔ ؤکړو ـ د هغهٔ مور او ښځه دواړه د هغهٔ هند ته راتګ نه اګاهو مړې شوې وې ـ کال 1893ء کښې د هغهٔ کورنۍ کراچۍ نه ممبۍ ته کډه ؤکړه او جناح د ګراهم کمپنۍ سره اړیکې غوڅې کړې او لنکن اِن انګلستان نه ئې د وکالت سند په نولس کلنۍ کښې ترلاسه کړو، چې دغه سند ترلاسه کؤنکے تر ټولو لږعمره هندوستانے ؤ ـ

په انګلستان کښې هغهٔ د شېکسپئیر ډرامو کښې د اداکارۍ شوق هم تر سره کولو، خو د پلار لخوا یوه سْتغه لیکنه ورته لاره کښې خنډ شوه ـ هند ته په راتګ هغهٔ په ممبۍ کښې وکالت پېل کړو ـ شل کلن او یوازینے مسلمان وکیل ـ وکالت کښې نوم ګټلو موقع په وړومبي ځل هغهٔ ته د ممبۍ اېډوکېټ جنرل جونز مولزورتھ هغه وخت ورکړه، کله چې ئې هغه خپله ډله کښې واخستلو ـ بیا د ممبۍ پرېزېډنسۍ د عارضي مجسټرېټ په توګه شپږ میاشتې کار کولو سره د هغهٔ نوم چاپېره خور شو او بیا ورته په پنځلسوه روپۍ میاشت د کار کولو وړاندیز ؤشو ـ هغهٔ دغه وړاندیز په دې وېنا ؤ نهٔ منلو، چې "زهٔ د ورځې پنځلسوه روپۍ ګټلو تابیا لرم" ـ دا بېله خبره ده، چې اتهٔ ځلوېښت کاله پس هغهٔ د پاکستان د ګورنر جنرل په حېث یوه روپۍ میاشت واخستله ـ وروستو د سر فېروز شاه مهته سیاسي مقدمه ګټلو باندې هغهٔ په ټول هند کښې نوم ؤګټلو ـ

هم دغه کلونو کښې ئې سیاست ته پام شو او په1905ء کښې کانګرېس سره ملګرے شو ـ هغهٔ په 1916ء کښې تاده شوي مسلم لیګ کښې په دې فکر ګډون ؤ نهٔ کړلو، چې مسلم لیګ یوازې د هندوستان د مسلمانانو خبره کوله ـ په لسم نومبر 1913ء جناح د مسلم لیګ د غړي په توګه ؤلیکلے شو ـ په نومبر 1915ء کښې هغهٔ د هندوستان مسلمانانو باندې غږ ؤکړو، چې د هند په ازادۍ لاس ته راوړلو کښې د هندوانو او نورو قامونو سره اوږه په اوږه ؤدرېږي او دغسې خپله برخه لاس ته راوړلو د پاره تابیا ؤکړي ـ دې لړ کښې د کانګرېس او مسلم لیګ تر منځ میثاقِ لکهنؤ په 1916ء کښې لاسلیک کړے شو ـ د دې لاسلیک

لږه موده پس بیا د مسلم لیګ او کانګرېس منځ کښې اختلافاتو سر پورته کړو، خو د اینې بسنت لخوا د "هوم رول لیګ" پېل یو ځل بیا دواړه ګوندونه یو نغري ته کښېنول. وروستو د دې خوځښت مشرتابه ګاندهي ته وسپارلې شوه او جناح دغه خوځښت نه څنډه وکړه

19 اپرېل 1918ء کښې هغهٔ د پارسي مذهب یوې جینۍ رتن بائي (چې د جناح منلې مذهبي لاره ئې خپله کړه او مریم بائي نوم ئې غوره کړو) سره دوېم واده وکړو. رتن بائي د جناح د ملګري "سر ډینشا پټیټ" لور وه. په 15اګست 1919ء د هغهٔ لور دین بائي وزېږېدله. د کورنۍ شخړو له امله رتن او جناح ډېر زر یو بل نه بېل شول، تر دې چې په 20 فروري 1929ء ئې دوېمه ښځه هم مړه شوله او بیا ئې د لور د روزنې چارې د خور فاطمه شولې.

په 1920ء کښې د ګاندهي لخوا "د مالګې ستیاګره" غږ سره چې چرته بې شمېره مسلمانان د خلافت عثمانیه د ژغورنې هیلې د ګاندهي سره ملګري کړل، هلته جناح د کانګرېس غړیتوب نه لاس په سر شو. هر څو کهٔ څهٔ موده هغهٔ د مسلم لیګ نه هم څنډه کوله، خو د مسلم لیګ او کانګرېس شریکو غونډو کښې به ئې بیا هم ناسته کوله. په 1924ء کښې په لاهور کښې د مسلم لیګ یوه غونډه کښې هغه درې کلونو د پاره د مسلم لیګ سرمشر وټاکلے شو او هغهٔ د مسلم لیګ مړه ځانده کښې ساه پوکلو د پاره هلې ځلې پېل کړې. هغه په هند کښې د مذهب په نامه د بېلو ټاکنو مرستیال و او کانګرېس د شریکې ټولټاکنې غږ کولو. دې لړ کښې په مارچ 1929ء کښې هغهٔ په څوارلس خبرو اډانه یو پاځون وړاندې کړو، چې دا پاځون د مسلمانانو د پاره د بېلې ټاکنې او د هغوي د ځنې تحفظاتو خوندي کولو هڅه وه.

1930ء کښې د ګول مېز کانفرنس ناکامۍ او د مسلمانانو لاربنودانو خپلو کښې وراني سره هغه 1932ء کښې د عملي سیاست نه څنډه وکړه او انګلستان ته لاړلو. اکتوبر1934ء کښې هغه لا په انګلستان کښې و، چې مسلمانانو د مرکزي اسمبلۍ د پاره بې مقابلې وټاکلو. هغه د مختلفو مسلم لیګي مشرانو په بلنه هند ته بیا راغلو او د مسلم لیګ چارې ئې لاس کښې واخستلې. په فروري 1937ء کښې د هندوستان عام ټولټاکنو کښې مسلم لیګ بریالے نهٔ شولو او د کانګرېس او مسلم لیګ تر منځه سیاسي پرزونې رواني وې. په 30 ستمبر 1939ء انګلستان د دوېم نړیوال جنګ غږ وکړو او د انګلستان نه د هندوستان د ازادۍ لاس ته راوړلو د پاره کانګرېس په دوېم دسمبر د ټولو وزارتونو نه استعفاګانې ورکړې. جناح دغه ګام د مسلم لیګ بریالیتوب وبللو او په 22 دسمبر مسلم لیګیانو د ژغورنې ورځ (یوم نجات) و نمانځله.

د مارچ په دیریشتمه نېټه 1940ء مسلم لیګ د مسلمانانو د پاره د ځانګړي هېواد غوښتنه وکړه او دغه غوښتنې ته ئې "د پاکستان پاځون" نوم ورکړو. د دغه پاځون نه شل میاشتې وروستو د هند د وېش لاره ویستلو د پاره انګلستان نه یو استازے راغلو، چې "کرپس مشن" ونومولے شو، خو دغه مشن څهٔ لاره ویستلو کښې بریالے نهٔ شو. 1942ء کښې کانګرېس "هندوستان پرېږده" وکړو، چې ځواب کښې ئې جناح د "وېش وکړه، نو هندوستان پرېږده!" چغه اوچته کړه.


ISSN201212

اګست 1945ء انګلستان کښې د لیبر ګوند واکمني راغله اؤ هغوي د هند د ازادۍ غږ ؤکړلو اؤ په اپریل 1946ء کښې کابینه مشن هندوستان ته راغلو .هغوي خپل وړاندیزونه د مسلم لیګ اؤ کانګریس مخې ته کېښودل . په 2 ستمبر 1946ء د پنډت نهرو مشرۍ کښې یؤ عبوري حکومت تاده کړے شو اؤ بیا په 24مارچ 1947ء د پیرنګي واکمن لخوا د هندوستان اخیرے وائسرا ے لارډ ماؤنټ بېټن هندوستان ته راغلو اؤ په دریم جون 1947ء ئې د هندوستان د وېش تګلاره مخې ته کېښودله، چې پکښې د هندوستان د یؤ هېواد په توګه د ازادۍ په ځاے د دوه ځایه کولو خبره منلې شوې وه اؤ دغسې په 15اګست 1947ء هغۀ د پاکستان د وړومبي ګورنرجنرل سوګند واخستلو. د کانګریس سره د هندوستان د وېش نۀ منونکے خدائي خدمتګار خوځښت د پاکستان اؤ هند تر منځه پاتې شولو .د دغه مشر باچاخان د پاکستان وړومبۍ قانون ساز اسمبلۍ ته خپله وینا کښې ؤوې، "مونږ د هندوستان وېش د زمکې د یوې برخې نۀ بلکې د مسلمانانو وېش ګڼلو (لکه څنګه چې وخت ثابته کړله) .اوس پاکستان د یؤ ریښتیا په توګه زمونږ مخې ته راغلو . راځئ چې یؤ اسلامي جمهوري پاکستان د پاره یؤ بل لره لاسونه ورکړو".

د باچاخان د دغه وړاندیز ځواب نه اګاهو د څۀ مسلم لیګیانو لخوا د جناح غوږ کښې شک ؤپوکلے شو اؤ دغسې د پاکستان د اسلامي جمهوریت دننه بې د څۀ جواز اؤ تور نه په دې صوبه کښې د ډاکټر خان صاحب اولسي حکومت ړنګ کړے شو اؤ عبدالقیوم خان وزیراعلی ؤټاکلے شو .هم دې عبدالقیوم خان خپل کتاب "د پښتنو په خاؤره ټوپک اؤ زر" کښې باچاخان د خپل هر چا نه خوښ لاربښود په حېث یاد کړے ؤ اؤ د کتاب ترون ئې د ډاکټر خان صاحب په نوم کړے ؤ اؤ بیا په دغه لویه څوکۍ ناستې سره ئې خپله پخپل کتاب بندېز پورې کړو . دغه موده کښې د پاکستان د پاره شپه ورځ یؤ کړے اروابښاد جناح ژوندے ؤ . د پاکستان د بې وزله اؤ ښځونک جمهوریت نه کرکه کؤنکي د قیوم خان وزارت اعلی ته د پاکستان تاریخ کښې د لوټاکرېسۍ تاده وائي . په دولسم اګست 1948ء چې کله د دې مملکتِ خداداد د وړومبۍ کلیزې نمانځلو تابیا کېدله، د بابړې پېښه مخې ته راغله، کومه چې د پښتنو د عدم تشدد د تاریخ کربلا یادیږي .

محمد علي جناح په یؤلسم ستمبر 1948ء د دې نړۍ نه سترګې پټې کړلې . (اِنَّا لِلّٰهِ وَ اِنَّا اِلَیْهِ رَاجِعُوْن) د هغۀ د مړینې په شا د هغۀ د اوږدې ناروغۍ رنه قبصه پُرته ده اؤ دغه رنې قبصه سره د شک داسې سیوري هم دي، چې کۀ هند کښې دېرشمه جنورۍ باندې مهاتما ګاندهي څرګند وژلے شوے ؤ، نو پاکستان کښې د قائداعظم مرګ ته هم ډېر پوهان په دغه چشمو کښې ګوري .

د پاکستان د دوه برخو ختیز پاکستان اؤ لویدیز پاکستان جغرافیه، د کشمیر پُرېکړه، د حېدراباد پېښه اؤ (د هغه وخت) د صوبه سرحد سره خپله شوې رویه څرګندوي، چې د اروابښاد جناح سره د عملي جدوجهد کوم زړۀ اؤ ټوان ؤ، دومره سیاسي ځیرکتیا اؤ جغرافیائي پوهه ئې نۀ لرله . دا څرګنده خبره ده، چې هغۀ د هند مسلمانانو د پاره ځانګړے هېواد غوښتلو، خو د دغه هېواد د پاره هغوي ډېره توندي کړې وه .


ISSN201212




یوه ورځ د 1948ء د ستمبر وه اؤ یوه ورځ د 2014ء د مارچ وه، چې د نړۍ تاریخ یؤ داسي هېواد ته د یوې لور د پردي وطن نه د راغلي مېلمنې په توګه ننداره ؤکړه، کوم هېواد چې د هغې پلار تاده کړے ؤ. دغه هېواد پاکستان، دغه لور دین بائي اؤ دغه پلار اروابناد محمد علي جناح ؤ. په وړومبي ځل هغه د خپل پلار په مړینه راغلي وه اؤ په دوېم ځل د پاکستان اؤ د هند تر منځه د کرکټ ننداري له.

په نړۍ کښې د پاکستان د ځاے موندلو نه څۀ اتۀ ویشت کلونه اګاهو د اګست په پنځلسمه نېټه 1919ء کښې دین بائي په لندن کښې د ښاغلي محمد علي جناح اؤ مېرمن مریم جناح (رتن بائي) کره زېږېدلې وه. د هغې د مور اؤ پلار تر منځ مینه لکه د فلمي قېصې وه. د هغې پارسۍ مور رتن بائي چې د شپاړس کلونو وه، نو د ځان نه څلېریشت کلونه مشر محمد علي جناح باندې مئېنه شوه اؤ وادۀ د پاره د خپل پلار دینشا منوکجي ناخوښۍ باندې ئې دوه کلونه د اتلس کلن کېدلو لاره ؤڅارله، تر څو قانون ورته د وادۀ برخه ورکړي . دا قېصه د مومبۍ (هغه وخت بومبۍ) ښار ټولو نه زیاته ویونکې اؤ اؤرېدونکې قېصه وه. څومره په زور چې ئې پېل شوے ؤ، هم دغسي زر ئې خوارۀ تراخۀ شول اؤ لرې نۀ وه، چې په ورنې کښې نغښتې دین بائي خپلې مور سره د هند نه بیا لندن ته لاړله.

د پېغلتوب په درشل پښه ایښودلو سره دین بائي هم د خپلې مور مریم جناح غونډې په یؤ پارسي نیویلي واډیا مئېنه شوه اؤ هغۀ سره ئې د ژوند تېرولو پرېکړه ؤکړه. د اروابناد محمد علي جناح په ژوند Jinnah of Pakistan کتاب لیکونکے ستانلي ؤلپرټ وائي،

"کله چې دینا پلار ته د زړۀ خبره ؤکړه، نو هغۀ ورته ځواب کښې ؤوې، چې د هندوستان په ملیونونو مسلمانانو کښې ستا څوک هم خوښ نۀ دي، چې یؤ پارسي مذهبه سره وادۀ کوې؟ د دې ځواب کښې ورته دینا د هغۀ اؤ د رتن بائي خبره ؤکړه اؤ پلار ئې ورته بیا ؤوائي، چې هغه مسلمانه شوې وه".



بیا هم، دین بائي خپل هغه پلار داسي ازمېښت کښې واچولو، چا چې د هند د مسلمانانو د پاره د بېل وطن اخستلو دروند پېټي ته اوږه ورکړې وه. دین بائي د نیویلي واډیا سره وادۀ ؤکړو اؤ دغه رنګ د "دینا جناح" نه "دینا واډیا" شوه. د پاکستان سرکاري تاریخ لیکونکو د ورې ؤچې د تاریخي واقعاتو ډیره اؤ سنت سمولو سره سره د اروابناد محمد علي



جناح شخصي ژوند هم دومره "اسلامائز" کړے دے، چې د دغه تاریخ کره کتنه اؤ تول پارسنګ به نور په لسګونو کلونه غواړي.

د پاکستان اسلامائز تاریخ لیکونکو په سپینه پانه په تور رنګ سره ؤلیکل، "هاغه لویه ورځ، چې دینا جناح د پلار درشل نه پښه بهر کېښودله، بیا تول ژوند کښې پلار خپل مخ ور ؤ نۀ ښودۀ" اؤ دې تاریخ سره هغوي د اروابناد جناح هغه مخ نړۍ نه پټ کړو، کوم چې د خپلې ناویاته لور د پاره د بشپړې مینې لرونکي پلار مخ ؤ ـــ هغه مخ چې په نیمه شپه به ئې د خپلې مړې ښځې اؤ وادۀ شوې لور اغوستن ته ژړل. بیا لرې نۀ وه، چې دینا واډیا سره د هندوستان د ټولو نه د شتمنې کورنۍ "واډیا" تش نوم پاتې شو اؤ د هغې اؤ د خاوند تر منځه ئې د یؤ ځوي نوسلي واډیا زېږون سره سم بېلتون راغلو. د نیویلي سره تړون کښې هغې "جناح" نوم ؤبائېللو، خو نیویلي سره بېلتون نه وروستو هم د "واډیا" نوم هغې سره دے،خو د "دین بائي" خپله پېژندګلو د "دینا جناح" اؤ "دینا واډیا" منځ کښې ورکه شوه.



تاریخ خپلې څۀ خبرې هغه وخت رڼې کړې، کله چې نوموړي شریف الدین پیرزاده ؤوئېل،

... جناح صېب دوه لکهه روپۍ د لور په نوم حبیب بینک کښې ایښې وې.

... جناح صېب د دینا واډیا سره دوه ځله مخ شوے ؤ. یؤ ځل هغه وخت، چې پخپله ئې بلنه ورکړې وه اؤ دینا ئې لیدلو ته راغلې وه (شنېدن دي، چې دا هغه وخت شوي وو، کله چې د دینا اؤ نیویلي منځ کښې بېلتون راغلے ؤ) اؤ په دوېم ځل هغه وخت کله چې 1943ء کښې په هغۀ د وژنې بْرید شوے ؤ چې تور ئې په خاکسار خْوځښت ؤ. (وائي چې په دې دوؤ لیدنو کښې جناح صېب خپل نمسي نوسلي واډیا ته خپل "جناح کېپ" هم ډالۍ کړے ؤ، چې تر اوسه هغۀ سره خْوندي دے).

نومووړے زیاتوي،

"نیویلي واډیا پارسي مذهب پْرېښے ؤ اؤ مسیحي شوے ؤ، خو د شتمنۍ د پاره ئې څۀ وخت پس بیا د پلار مذهب خپل کړو اؤ دې سره سره ئې رنګین مزاجۍ نه هم اروابناد محمد علي جناح خبر ؤ، ځکه خو ئې د دینا هغۀ سره د وادۀ کولو ته غاړه نۀ ایښودله. کومه خبره چې یوازې د "مذهب" سره تړلې شوې ده، دغه خبره یوازې د "ایم سي چاګله" د کتاب په حواله شوې ده.

شریف الدین پیرزاده دا هم وئیلي دي،چې د جناح لخوا د دینا اؤ نیویلي د وادۀ نه د انکار یوه بله وجه دا هم وه، چې اروابناد جناح د هغې وادۀ د بېرسټر اکبرعلي سره غوښتلو، څوک چې د جناح نزدې ملګرے ؤ.




ISSN201212



دینا اوس ژوند د نیویارک او ممبۍ په ښارونو وېشلې دے . هغې مسیحیت خپل کړے دے . خپل ځوي نوسلي واډیا او دوه نمسو جهانګیر واډیا او نیس واډیا سره سوکاله ژوند کوي . 2004ء
هغې



د جناح په قبر ؤوي، "دعا کؤم، چې د هغهٔ (جناح) د پاکستان خوب رېښتونے شي". هغې د درې انځورونو غوښتنه هم پاکستان نه ؤکړه. یؤ انځور کښې هغه خپل پلار او ترور (فاطمه) سره ولاړه وي، دوېم ئې د مور رتن بائي انځور دے او درېم کښې اروابناد جناح یؤ لیک لولي.

د ژوند په دې ګوټ پېر، چې هغه پنځهٔ پنځوس کلونه وروستو د خپل پلار ځلي ته ؤدرېدله، نو د هغې په زړهٔ دننه احساس به هغه انځورونو کښې ؤلټوو، کله چې هغه د خپل پلار سره ځاے په ځاے لیدلې شوې ده او بیا د خپلې ناویاتې او نیازبینې لور د پاره د اروابناد جناح دا مینه، چې د خپلې ښمنۍ نه ئې هغه وخت دوه لکهه روپۍ هغې د پاره په حبیب بېنک کښې ځوندي کړې وې . د مور مړینې نه وروستو فاطمه جناح د خپلې وړېرې روزنه کوله او مونږ د ترور او وړېرې منځ کښې تړون نه کهٔ هر څو خبر نهٔ وو، خو اوس اوس دینا خپله یوه مرکه کښې وئیلي وو، "زما او زما د پلار تر منځه ټولو نو اوچت دېوال زما ترور وه". د دې خبرې په شا به د لفظونو معنې لټؤنکي کهٔ هر څهٔ هر څهٔ معنا ؤمومي، خو دا به رېښتیا وي، چې د پلار او لور یؤ بل د پاره د مینې ستر هر کله مات شوے دے، کله چې هم د یؤ بل یاد سره مخ شوي دي. جناح چې به د هغې اغوستن را ؤسپړدل نو اوښکې به ئې نهٔ ؤدرېدلې او دینا چې د هغهٔ په ځلي ؤدرېدله، نو سلګیو ساه اخستلو ته نهٔ پرېښوده.

د پاکستان تاریخ لیکونکي نن هم د یؤ څرګند دروغ پلؤ د جناح خپلې لور سره مینه پټه کړې ده. په ممبۍ کښې د جناح کور د کوم په اړه چې نهرو جناح ته لیک استولے ؤ، چې څهٔ ورسره ؤکړي او جناح ورته وئیلي وو، چې دغه کور دې یؤ یورپي هېواد ته قونصلیټ د پاره ورکړے شي. نهرو د دغه کور ایجاره درې زره روپۍ میاشت هاغه دور کښې جناح ته وئېلې وه، خو د لاسلیک نه اګاهو جناح په حق ؤرسېدلو. پاکستان پخپله د دغه کور د پاکستان قونصلیټ په توګه اخستلو نه لاس په سر شوے دے، خو دینا د خپل پلار د کور دعویٰ په عدالت کښې کړې ده.

المیه دا ده، چې هند کښې د جناح وصیت هغه د پلار د کور نه او پاکستان کښې د پلار سیاست هغه د پلار هېواد نه لرې ساتلې ده.

مونږ هیله کوو، چې تاریخ به چرته د دینا جناح او دینا واډیا منځ کښې ورکه دین بائي ؤمومي.






# اسلام کښې ټولنيز ژوند

**شېر بهادر افتاب**

نورو سره ژوند کولو ته ګروهېدل اؤ د دوست غوښتې غريزه، د لومړي پېغمبر له وخته د اسلام تر راتلو پورې د يوې حياتي مسئلې په توګه د اسلام ــــ چې د پيداينښت له اوله د قيامت تر ورځې، د خداے پاک يوازينې کلتور دے ، د پام وړ وه اؤ په دې حقله ئې د انسان د دې غريزې د هدايت لپاره ډېرې ګټورې مسئلې اؤ قانونونه بيان کړي دي، چې د دې هدايت په برکت، د دوستۍ اؤ معاشرت دا ؤنه په دنيا اؤ اخرت کښې يوه اساسي اؤ ښه مېوه اؤ محصول ورکړي.
د قران مجيد ايتونو اؤ روايتونو په هره زمانه کښې د معاشرت مسئلې ته ډېر پام کړے دے اؤ په دې حقله ئې انسان ته ډېره لارښؤنه کړې ده.
قران مجيد بد معاشر اؤ بد دوست چې اخلاقي رذائلو سره ککړ وي ــــ چې هغۀ سره ناسته پاسته د ګمراهۍ اؤ تباهۍ اؤ د انسان د بنياد د ورانيدو سبب کيږي، د يؤ شيطان په شان ياد کړے دے اؤ داسې معاشر اؤ دوست ئې په ټول تاريخ کښې له خداے د منعې کيدو سبب اؤ د انسان د دنيا اؤ د اخرت د خوشبختۍ خطرناک دښمن ګڼلے دے اؤ هغه ئې د ککړتيا اؤ پليتۍ سبب ګڼلے دے اؤ هغه ئې يؤ خيال ساز اؤ بد ملګرے ګڼلے اؤ د دا رنګ دوستۍ اؤ معاشرت نتيجه پښيماني اؤ ابدي حسرت ګڼي.
"اؤ بې شکه چې دوي (شېطانان) دا رنګ کسان د خداے له لارې منعې کوي، په داسې حال کښې چې دوي سختې ګمراهۍ سره دا ګمان کوي، چې دوي لارموندونکي دي، تر دې چې (د قيامت په ورځ) ما ته راشي نو دوي به (خپل شيطان ته وائي) اے کاش! زما اؤ ستا تر مينځ د ختيځ اؤ لويديځ فاصله اؤ وټ وے، نو څومره بد دوست ؤ

## د معاشرت دوه اړخونه

معاشرت، ناسته پاسته اؤ دوستي د اسلام له نظره په ټولې معنې سره د انسان لپاره د خېر برابرولو سريزې اؤ يا په ټولې معنې سره د شر برابرولو سريزې دي . کله کله نېکبختي اؤ سعادت د صحيح معاشرت نتيجه وي اؤ کله کله بدبختي اؤ شقاوت د غلط اؤ ناسالم معاشرت اؤ دوستۍ نتيجه وي . د ځينې پروګرامونو خېر جزئي دے اؤ ډېر د پام وړ نۀ دے اؤ د ځينې چارو

ISSN201212

شر اؤ بدي کمه ده اؤ ډېر د پام وړ نۀ دي، خو ډېر زيات واقعيتونه داسې دي، چې د هغې خېر ډېر زيات دے اؤ همدارنګ د ځينې مسئلو شر ډېر زيات دے اؤ د هلاکت اؤ سقوط سبب کيږي.

نورو سره معاشرت اؤ دوستي اؤ خلکو سره معاشرت اؤ دوستي له هغه چارو ده، کۀ چرې مثبت وي اؤ صحيح ؤټاکلے شي، نو د هغې خېر هم دنيا ته شامليږي اؤ هم اخرت ته اؤ کۀ باطله اؤ منفي وي اؤ صحيح ؤ نۀ ټاکلے شي، نو شر ئې د دنيا اؤ اخرت دواړو ژوندونونو ته شامليږي.

کله کله انسان د باطن د بدۍ اؤ بد کرچار اؤ شيطاني چارو له مخې تر دوزخي شونې وړاندې ځي، خو د يؤ سالم اؤ زړۀ سواندي اؤ خېر خواه مؤمن د دوستۍ په سبب خپل طرف بدلوي اؤ له هغه ښۀ دوسته د اثر قبلولو په سبب پاک اؤ مؤدب جوړيږي اؤ د جنت په حقه لاره روانيږي.

مونږ له هغه ټولو څيزونو اثر اخلو، چې مونږ سره اړيکې لري اؤ په ډېرو څيزونو هم مونږ اثر کوو.

کله چې مونږ له جسمي اؤ بدني نظره اثر کؤنکي اؤ اثر قبلؤنکي يو، نو په يقين سره په روح اؤ روان اؤ نفس اؤ جان کښې هم لطافت اؤ رقت اؤ نرمي لرو، نو په دې حقله به اثر قبلول اؤ اثر کول ډېر زيات وي.

تاسو يوازې د يؤ کس خپل ځان ته بېلا بېل نظرونو ته په غور سره ؤګورئ، تاسو به ؤينئ چې د هغه هر ډول نظر ستاسو په روح، روان اؤ زړۀ باندې څنګه اثر لري.

د غصې يؤ نظر يؤ رنګ اثر لري اؤ عام نظر بل رنګ اؤ د مينې اؤ محبت د خوشالۍ اثر لرونکے اؤ حيرانتيا سره د کتلو يؤ خاص اثر دے اؤ د پوښتنې په نظر سره د کتلو يؤ خاص اثر دے.

بېلا بېل غږونه اؤ طريقې اؤ بېلا بېلې غوښتې په انسان باندې بېلا بېل اثرونه لري.

د معاشرت کيسه، د دوه زړونو يؤ بل سره د پېوند اؤ تړون قېصه ده اؤ د دوؤ روحونو يؤ بل سره د مينې په اړيکو سره د يؤځاے کېدو قېصه ده چې د اثر کولو له مخې ډېره زياته قوي ده.

کوم کس چې چا سره مينه کوي اؤ دوستۍ اؤ ملګرتيا سره هغۀ سره مينه لري، کۀ هغه بل طرف ئې مثبت وي کۀ منفي وي، دا کس غواړي چې په ټولو کړو وړو کښې د هغۀ په شان څرګند شي چې د دې تړون د زياتې مظبوطيا لپاره د هغه رضا تر لاسه کړي. په نورو ټکو، کله چې يؤ انسان بل انسان سره دوستي ؤکړي اؤ د زړۀ اړيکې ورسره ترسره کړي اؤ د هغۀ د کشش اؤ راکښلو په سبب د هغۀ د سيطرې اؤ قدرت لاندې راځي اؤ څۀ وخت وروسته د هغه دويم کس لپاره، دې يؤ دوېم وجود جوړيږي، تر دې حده چې خلق کله هغه ؤويني، نو د هغۀ له کړو وړو ورته د هغۀ ملګرے ور ياديږي. کۀ په ظاهري چارو کښې وي يا په اخلاقي اؤ عملي چارو کښې اؤ وائي، "داسې معلوميږي چې دا کس هماغه کس دے".

په دې رابطې اؤ اثر اخستلو کښې دا ضروري نۀ ده، چې د انسان د محبوب فيزيکي وجود موجود وي. کله کله انسان له مثبت صفتونو اؤ پاکو انساني طريقو د مطالعې اؤ له نورو د اؤرېدو په وسيله خبريږي اؤ په زړۀ کښې ئې د هغۀ مينه پېدا کيږي اؤ د دې مينې په وسيله د خپل محبوب په شان کېدل غواړي اؤ د هغۀ په لور ځي، تر دې حده چې په خپل وجود کښې د محبوب يؤ دوېم وجود احساسوي.

(نور بيا کۀ ژوند ؤ)


ISSN201212

# زمونږ جوماتونه

جاوېد احمد غامدي

زمونږ په ټولنه کښې د هر څۀ نه جوت اثر د جوماتونو دے. نیازبین پېغمبر حضرت محمد ﷺ چې د دې په حقله کوم سنت قائم کړي دي، د هغې تر مخه به د جمعې خطبه اوّ د نمونځ امامت د ریاست امیر اوّ د هغۀ عمال کوي. د هغوي د څۀ شرعي حجت ترمخه د معذرت په حالت کښې چې څوک هم په منبر ؤدرېږي، هغه به د قائم مقام په حېثیت خطبه اوّ امامت کوي.

اصل کښې د نیازبین پېغمبر حضرت محمد ﷺ لخوا دا د دې خبرې اعلان ؤ، چې ریښتوني دین کښې جومات د اقتدار ایوان دے. دلته به نۀ څوک پوپ وي اوّ نۀ برهمن ـــ مسلمان چې څوک د خپل سیاست امام کړي، هماغه به ئې د عبادت امام هم وي. د مذهب اوّ سیاست ترمنځه هر توپیر له منځه ویستلے شوے ؤ.

د نیازبین پېغمبر حضرت محمد ﷺ نه وروستو د هغۀ صحابه کرامو (رضوان الله علیهم) هم دغه سنت پوره شان سره قائم ؤساتلو، خو راتلونکو وختونو کښې چې کله واکمن د اولس وړاندې د ؤدرېدلو نه ؤوتل، نو د جومات منبر ئې هم مُلا ته ؤسپارلو. دا زمونږ د تاریخ لویه حادثه ده. د دې په نتیجه کښې مونږ وینو، چې مذهب خپل جلال اوّ سیاست خپل جمال بائېللے دے. څوک چې باید سرلوړي وو، ټیټې سترګې ولاړ دي اوّ چې څوک ټیټې سترګې پکار وو، هغوي سرونه داسې هسک نیولي دي، چې کۀ د ټیټولو هڅه ئې کوې، نو زرګونه فتنې به ورسره هم ولاړې شي.

جوماتونه د مختلفو فرقو قلعې دي، چې دغه قلعو څخه د دغه ډلو مشران په یوّ بل کاڼي وروي. منبر ته په رسېدلو، هغوي ته داسې یوه واکمني په لاس ورغلې ده، چې د پېښه ورو مُلیانو یوه ډله ئې زمونږ ټولنې له ورکړې ده اوّ د دغه مُلیانو وجود د علماء د پاره پېغور ګرځولے شوے دے. دوي چې کله هم د چا مخالفت کوي، نو په سر ئې خاؤرې باد کړي اوّ ځکه خو د ریښتیا مُلاتړ کؤنکي د دوي په غشو ژوبل شي اوّ د علم اوّ تحقیق خبره کؤنکي د دوي ښکار شي. جوماتونه د ډلئیزې کرکې خپرلو د پاره پرانستې اوّ د قران اوّ سنت دعوت د پاره بند کړے شوي دي. یوّ د علم څښتن هم کولے نۀ شي، چې د الله په کور د تعلیم اوّ دعوت هغه فرض ترسره کړي، چې د الله لخوا پرې کوم فرض سپارلے شوے دے.



زمونږ د جوماتونو دا مخ د نظر خاوندانو نه پټ نۀ دے. د دې اصلاح یقیناً چې د هغه سپېڅلي سنت په ژوندي کولو سره کېدے شي، کوم چې مونږ په تمهید کښې ذکر کړے دے اوّ دې د پاره دا ګامونه پورته کول ضروري دي:

i. ریاست کښې د هر انتظامي وحدت مرکز دې جومات وګرځولے شي اوّ انتظامي وحدتونه دې داسې ؤویشلے شي، چې جامع مسجد

(چرته چې د جمعې نمونځ ورکولے شي) د هغه ابادۍ د پاره کافي وے.

ii. ټولو وحدتونو د پاره ضروري انتظامي دفترې او عدالتونه دې جوماتونه سره ملحق شي.

iii. د رياست صدرمقام او د هر صوبائي دارالحکومت دننه دې يو جومات مرکزي جومات وټاکلے شي.

iv. د جمعې خطبه او امامت دې رياستي واکمن او د هغوي عمال کوي.

v. د جامع جوماتونو نه پرته دې هر ځائے کښې د جمعې نمونځ او خطبه منع کړې شي.

vi. د جوماتونو بندوبست دې رياست پخپله کوي

vii. هر عالِم ته دې دا حق وي، چې هغه د خپل نقطه نظر اولس ته وړاندې کولو د پاره په هر جومات کښې تعليم او تدريس کولے شي.

("مقامات" نه ژباړه)

❁❁❁❁❁❁❁❁❁

د مور پلار دا اخلاقي ذمه واري ده، چې د دې خبرې معلومولو کوشش وکړي، چې د هغوي بچي مذهبي زده کړه چرته کوي. دلته چې کله بچے وزېږېږي، نو مور پلار ورته ځۀ لږ ډېر بنيادي مذهبي معلومات ورکړي او بيا ئې چرته قاري صېب ته وسپاري ــــ هغه ورته د قران ځۀ برخه او څو دعاګانې يادې کړي. دې سره هغه ماشوم د دې جوګه شي، چې جومات ته لاړ شي، نمونځ وکړي او ځۀ مذهبي خبره نيمه هم هلته واوري، خو د علمي او عقلي استدلال سره چې کوم مذهبي حقيقي تعليم دے، مونږ چرې هم خپلو بچو ته ورکړے نۀ دے (او دا مونږ خپلو بچو او خپلې ټولنه باندې ډېر لوی ظلم کوو). جاويد غامدي

# د کربلا ښونه

عبدالعلي (شاه جي)

زۀ پخپله د اسلام دننه د فرقه بندۍ قائل نۀ يم او نۀ د سني او شيعه په مباحثه کښې پړېوځم ــــ ما د پاره په شخصي توګه دکربلا پېښه او د امام حسينؓ شهادت کښې دا خبره د هر څۀ نه لويه ده، چې خبرې ته ځېر شه ــــ په دليل او منطق د دغه خبرې جاج واخله او بيا کۀ چرې تۀ ورسره اتفاق نۀ کوې، نو په دليل سره خپله خبره په بل وُمنه، ګنې هم په دغه دليل د بل وُمنه.

د امام حسينؓ او کربلا واقعې له کۀ هر مذهبي رنګ هر څو ورکړے شي، خو زۀ ئې په هر حال کښې د هغه وخت يوه سياسي مسئله ګڼم. سره د دې چې زۀ پخپله د يوې شيعه کورنۍ سره تړون لرم او زما ټول تشيع دومره دے، چې څومره زما د کور خلقو سره ما تړلے ساتي. زۀ پخپله شپږ څلوېښت کلونه ژوند کښې دې خبرې ته فکر ورے يم، چې د مدينې منورې په تخت د دوه داسې وګړو جنګ په ټوله اسلامي نړۍ کښې (يا چرته چې هم مسلمانان اوسيږي) د مسلمانانو تر منځ ولې د کرکې او وژنې سبب ګرځېدلے دے او بيا دغه جنګ کښې د يو بل وينې تويولو له د مذهب په نوم تقدس هم ورکولے کيږي.

بيا کۀ وکتلے شي، نو د محرم د مياشت راتللو سره مونږ د دې مياشتې حرمت بيخي هېر کړو، چې د جنګ او شر نه به د يو مسلمان په حېث هسې هم ځنډه کوو، خو دې مياشت کښې به په خصوصي توګه د جنګ و جدال نه ډډه کيږي، ځکه چې د دې مياشت حرمت د يو مسلمان په حېثيت مونږ نه دا غوښتنه کوي.

خبره خو دا ده، چې که سني مکتبِ فکر دے او که شیعه ـــ دواړه د دې میاشتې حرمت مني او پوره پوره ئې مني. بیا د دې میاشت راتللو نه اګاهو ځنګه په دې میاشت کښې د وینې تویولو د پاره تګلارې ویستلې کیږي؟

دې تپوس سره یوه خبره منځ ته راځي، چې ممکنه ده، د سني او شیعه خپلو کښې جنګولو د پاره بل څوک دا کړکڼ او ناوړه کار کوي او د مسلمانانو وینې تویوي ـــ نه سني دا کوي او نه شیعه.

که داسې ده، نو بیا خو باید سني او شیعه خپلو کښې کښیني او د دغه پټو لاسونو څرګند کولو د پاره یوه شریکه کړنلاره وباسي او که داسې نه کوي، نو د دوي په خپل اسلامي وجود سوالیه علامت ښکاره کیږي، ځکه چې دوي که اسلام مني، نو د اسلام د تعلیماتو تر مخه به د دې میاشت حرمت هم ساتي.

بیا که لږ خپل وسیع نظر د لرې نه راوګرځوو او د خپل چاپېرچل پورې ئې محدود کړو او نظر پرې واچوو، نو د کربلا واقعې سره تړلې د ټولو نه زیاته وینه د پښتنو په خاوره کښې تویږي. ولې؟

د دې ولې ځواب چا سره هم نشته. که شمېر ته شي، نو په پښتونخوا او دې سره تړلو قبائیلي سیمو او پولئیزو سیمو (FR) کښې چې څومره شیعه او سني ابادي ده، دوي نه زیاته ابادي په کراچۍ، سندھ، بلوچستان او پنجاب کښې ده ـــ هلته خو دومره انساني زیان نه کیږي.

په ځائے د دې چې مونږ د امام حسینؓ د شهادت واقعه د ځان د پاره د یو سپېڅلي اصول په توګه خپل ژوند کښې خپله کړو، مونږ دغه واقعه د کړکې د پاره د یو جواز په حېثیت خپله کړې ده. دغه کړکه نه مونږ د محرم د میاشت حرمت باندې تینګ ساتلو ته پرېږدي او نه د انسان د وینې حرمت ته.

مونږ خو دا ووې، چې خپل وسیع او پراخه نظر لږ د دې ویرې نړۍ نه رانغاړو او خپل کور پورې ئې محدود ساتو. خو خبره پسې خبره راغلې ده، نو اوس به ئې بیا لږ خور کړو. سني او شیعه مکتبِ فکر نه یوازې په پښتنو کښې دے او نه یوازې پاکستان کښې ـــ د نړۍ نورو هېوادونو کښې هم سني او شیعه یو ځائے ژوند کوي، خو هلته زمونږ په نسبت د محرم حرمت هم په ځائے دے او د سني او شیعه په نوم د انسان د وینې حرمت هم. خلیج او عرب ملکونو کښې دا شمېر لا نور هم زیات دے، خو هلته مونږ نه د یو بل د مسلکي فکرد سپکاوے وینو او نه د یو بل د وینو دا تنده بیا خپل کور ته راځو. زمونږ پښتنه خاوره هسې هم د نړیوال جنګ سنګر دے. مشران وائي، چې د جنګ په ګټه او تاوان دواړو اور پورې شه! ـــ دې جنګ کښې د کوم نړیوال زورَور ګټه ده، دا پخپل ځائے پرېږدو، خو تاوان پکښې د پښتون نه بغېر د بل چا هم نشته. یو خوا د دغه تود جنګ په لمبو کښې سوزېدونکې پښتنه خاوره او د پښتنو وژنه او بل اړخ ته خپل کور کښې په یوه او بله خبره دا اوچت شوي دېوالونه او تاوده شوي بورجلونه ـــ مونږ پښتانه د ژوند په هر ډګر انتها پرست یو ـــ مینه وي که کرکه، مذهب وي که سیاست. چې کومه کلیمه مونږ وایو، د هغې نه بهر را ته څوک د ژوند تېرولو حقدار نه ښکاري او د کوم رنګ د بېرغ لاندې چې مونږ کښېنو، د بل رنګ منلو ته په یو حالت غاړه نه ږده. هم دا انتهاپسند خوی د پښتنو تر ټولو لوی زیان هم دے او تر ټولو لویه ګټه هم. د منځ لاره د امن، ګټې او پرمختګ ده.




## بحر الادب

## [اعراب اؤ اصطلاحات]

**اروانباد شېرشاه ترخوي**

(تېر پسې)

**اشتقاق:**

د يؤ خاص حرف نه چې نور حرفونه جوړ کړلے شي، نو هغې ته "اشتقاق" وائي اؤ کوم حرف يا لفظ چې تړې نه وُځي، نو هغه حرف ته "مشتق" وئيلے شي. لکه شعور نه شعر، ليک نه ليکونکے يا ليکنه.

**تلميح:**

ځنې وخت کښې په يؤ کلام کښې څۀ قيصې يا واقعې ته اشاره کيږي، نو دغې اشارې ته "تلميح" وائي. مثلاً واقعۀ بدر، آتشِ نمرود اؤ داسې نور.

**واؤ معروف:**

معروف "و" هاغه واؤ دے، چې د وېنا په وخت کښې په پوره وضاحت سره ادا کيږي اؤ بله علامه ئې دا ده، چې په ما قبل حرف خالص (ُ) وي. لکه نُور، خلُوص اؤ داسې نور.

**واؤ مجهول:**

مجهول "و" هاغه واؤ دے، چې د وېنا په وخت کښې په پوره وضاحت سره نۀ ادا کيږي اؤ بله چې په وړاندې حرف غېر خالص پېښ (ُ) وي. لکه زور، شور، کور وغېره.

**واؤ معدوله:**

معدوله "و" هاغه واؤ دے، چې په ليکلو کښې راځي، خو په وېنا کښې نۀ ادا کيږي. لکه خور، خُپور، خوش وغېره.

**"ه" ملفوظي يا "ه" اصلي:**

"ه" ملفوظي هاغه "ه" ده، چې په تلفظ کښې په پوره ډول سره ادا کيږي. لکه "واه"، "گواه"، "شاه".

**"ه" مخفي:**

مخفي "ه" هغې ته وئېلې شي، چې د وېنا په وخت کښې په ښکاره تلفظ نۀ ادا کيږي. لکه دانه، جامه، پروانه وغېره.

د عصر په مروجه املاء کښې صرف دوه "ی" ګانې يعنې غونډه "ی" اؤ اوږده يا پرته "ے" مستعملې دي، چې د حرکو په لګولو سره ئې په وېنا اؤ معنا کښې بدلون راځي.

**غونډۍ يا معروفه "ی":**

غونډۍ يا معروفه هغه "ی" ده، چې ما قبل حرف ترې خالص زېر لري اؤ بله علامه ئې دا ده، چې په وېنا کښې په ښکاره ډول ادا کيږي. لکه ستی، مستی، خواری، ښادی وغېره.

**مثقله يا تانيثي "ئ":**

دې "ئ" ته ثقليه يعنې دروند "ئ" ځکه وائي، چې دا په وېنا کښې سخته وئېلې کيږي اؤ علامه ئې دا ده، چې زورکے (ٴ) لري. دا "ئ" د تانيث اؤ فعل لپاره هم پکارولې شي، لکه پګړئ، سپوږمئ، ؤکړئ، ورشئ اؤ داسې نور مثالونه.

**مجهوله يا اوږده "ے":**

د مجهولې يا اوږدې "ے" علامت دا دے، چې د دې د ماقبل حرف غېر خالص زېر ( ـے ) وي اؤ بله دا چې په واضح اواز سره نۀ وئېلې کيږي. لکه لشے، ورلے، خوړلے وغېره.

**پسته يا ملينه "ے":**

دا هغه "ے" ده، چې په لنډ اواز سره وئېلې کيږي، لکه پټے، سړے، زمرے وغېره.

اوس اوس يوه نوې املاء هم رائج شوې ده، چې ژبپوهانو پرې ښۀ تحقيق کړے دے، نو په دغه املاء کښې د "ی" ګانو شمېر پنځۀ ته رسېدلے دے چې تعريف ئې لاندې کولے شي:

ي + ې + ی + ئ + ے

**معروفه "ي":**

دا هغه "ي" ده، چې لاندې ئې ځنګ په ځنګ دوه ټکي لري اؤ اکثر په اسمونو کښې دا واحد نه د جمع جوړولو په صورت کښې واقع کيږي. لکه سړي، لوښي اؤ داسې نور.

**مخصوصه "ې":**

دا هغه "ې" ده، چې لاندې ترې دوه نقطې يعنې ټکي لاندې باندې ليکلې شي اؤ ترې ما قبل حرف غېر خالص زېر لري. اصل کښې د دې شناخت په اواز کښې دے، ځکه چې دا د معروفه اؤ مجهولې (ې+ی) د اوازونو تر منځه يؤ مخصوص اواز لري لکه په حرفونو کښې چې، کښې، ترې اؤ دغسې په متصل ضميرونو کښې ې، دې، مې يا لکه په دې حرفونو کښې ؤګورئ، مېکدې، کتبې .

**تانيثې "ی":**

دا هغه "ی" ده، چې د مؤنث لپاره استعماليږي اؤ علامت ئې دا دے، چې په اخيري لمن يؤ کش لري .لکه ځپلی، کټوی، مرغی اؤ داسې نور.

**فعلي "ئ":**

د فعلي "ئ" علامت دا دے، چې د پاسه پرې د پښتو ژبې مخصوصه حرکه ليکلې شي، چې زورکے ورته وائي، لکه ؤکړئ، ؤخورئ.

**مجهوله "ے":**

دا "ے" هلته پکارولې شي، کوم ځاے کښې چې اسم يا اسم صفت يا په فعل کښې د تذکير علامت راشي، لکه نرے، تندے، پټے، سړے، دے، ليکلے، تللے وغېره. (نور بيا)

**ويار اداره هڅه کوي، چې د قافيې د اصولو په رڼا کښې ليکلې شوې شاعري لوستونکو ته وړاندې کړي**


ISSN201212

# هو ! د اشنغر ادب اؤ اديب يتيم شو

**معظم جان معظم**

اشنغر دے کان د مشکو د عنبرو
ځکه نشته په دا کان دوکان د مشکو

نن د علي خان بابا د "کان" يؤ بل درّمرجان، د پښتونخوا د ادب د اسمان يؤ بل ستورے د ابدي ژوند په لوي سفر روان شو.
ډاکټر محمد اعظم اعظم. اِنَّالله وَ اِنَّا اِلَيْه رَاجِعُوْنَ
ډرامه ده، ناول دے، افسانه ده، تکل دے، تحقيق دے، تنقيد دے، علوم دے، عالم دے، د لفظونو سوچونو انځور گر دے، شاعر دے، اعظم دے اؤ په ريښتيا اعظم دے. په قام محمدزے، په ټبر محمدزے. د اشنغر خاوره د روحانيت، علميت اؤ د شاعرانو زېږون کور رځړ، د غني بابا مورنۍ، د ساقي صېب، مفتون صېب، نياز صېب پلارنے ټاټوبے رځړ د اعظم زېږون کور دے. د هند د ازادۍ انقلاب په غورځنگ ؤ ــ نولسوه څلوېښت دنيا کښې سترگې غړوي. د زدکړې ورومبے ښوونځاے ئې خپل کلے رځړ اؤ بيا د رحمان بابا کور پېښور د پښتونخوا د علم سرچينه سمندر اسلاميه کالج ئې خپله غېږه کښې اخلي. د علم سره ئې د شعور اؤ لاشعور خمار اؤ ستار، جنون اؤ جانان سره اشنا کوي اؤ اعظم چغه کوي،

اعظمه! لېونۍ شي دا دنيا کله نا کله
راؤړه ورله په سترگو کښې خندا کله نا کله

اؤ اعظم د درسي علومو سره د لاشعوري علومو فني انځورگري کمال ته رسوي اؤ د ادب په دنيا خپله پېژندگلي د ادب د هر صنف د استاذ په حېث راؤړي. د کائناتو خالق کم خلق دومره په کمال نمانځي، نازوي، نيازبينوي لکه اعظم.



**21دسمبر1940-16نومبر2012**

چې دې لارې د ديدن رابانديې بند کړي
زما اوښکې په گرېوان ځي لارې لارې
خوشحال

زما استاذ، زما رهبر، زما لالا اؤ زما يار اعظم نۀ يم خبر نيمه شپه ده، د اعظم لالا د لوي بېلتون دوېمه شپه ــ قلم دے، زۀ يم، منتشر ذهن دے، لوندې سترگې ــ د رهبر د بېلتون قيصه ده، د لالا اؤ د يار د لوي سفر غمژن داستان دے. بيا زۀ يم کۀ زۀ ؤژاړم، کۀ اشنغر ؤژاړي، کۀ د پښتو شاعر ؤژاړي، خو فطري عمل دے. د ورور، پلار، يار په بېلتون ژړا خو وي. خو نۀ يم خبر، چې کوم سِحر دے، کوم جادو دے، کومه مينه ده، چې د هندکو کۀ د فن هنرمند دے اؤ کۀ د قلم خاوند ــ غُر ئې ډک دے، سترگې ئې لوندي. داسې محسوسېده، لکه چې خاطر غزنوي فارغ بخاري د اعظم لالا سره يؤ ځاے په لوي سفر روان وي يا د اعظم لالا مينه ده. هغه مينه هغه رشته، چې اعظم د پښتو اؤ هندکو د شاعر هنرمند د

سوچ او د برش د انځور تر منځه ترلې ده او اوس
به ئې د اعظم مئينان تر قيامته پالي انشاءالله.

د اعظم لالا ادبي، علمي، فني ژوند ډېره لويه لمن لري. اعظم لالا په خپل وجود کښې اکېډمي وه. څېړنې به کيږي، مقالې به ليکلې کيږي، مجلسونو تحقيقونه به کيږي. اعظم د علم سمندر دے، د علومو خزانه ده. راتلونکي نسلونه به ترې استفاده کوي. زۀ خپله قبصه او د لالا يادونه درسره شريکوم.



ما په لسم کښې سبق وئېلو. اعظم لالا په اسلاميه کالج کښې استاذ ؤ. زۀ به رځړو کښې اوسېدم. دغه زمانه د اعظم صېب د غورځنګ زمانه وه او هر سړي به غوښتل، چې ما اعظم صېب وُليدلو، خبرې مې ورسره وُکړې او بيا لکه زما چې د ادب مينه په ورنې د ځانه سره راوړې وي، نو په اعظم صېب به نۀ مئينېږې، نو څۀ به کيږي؟ زۀ به د ماما کور کښې اوسېدم. د نوښېروان ايډوکېټ کور کښې د هغۀ د کور شا د عنايت ماما چې زما د چارسدې په سکول کښې استاذ هم ؤ، خو د رځړو د لويو ورو ماما ؤ او ادے. اعظم صېب به د ماما حجرې ته کله کله راتلو، خو عجيبه اتفاق ؤ، چې زۀ به کلي وردګې ته راتلم، نو هم په هغه ورځ به هغه رځړو ته راتلو، نو د ليدو وخت سمون نۀ خوړلو. يوه ورځ مې کلکه اراده وُکړه. ما وې، نن به خامخا اعظم صېب وينم. د ژمي مازيګر زۀ د سړک په غاړه د ماما د کور سره ولاړ وم. خدا ے دې د ماما نمسے ساجد وُبخښي، اوس اوس څو ورځې وړاندې هغه هم په لوي سفر لاړو، ما ته رانزدې شو، وئېل ئې، دا اعظم صېب دے. اعظم صېب زمونږ په څوا واوړېدو. بل ورسره نعمت الله خان انجينئير ؤ. خدا ے دې هغه هم وُبخښي. نعمت الله خان زما د ترور د ځوے الطاف خان انجينئير ملګرے ؤ. ما به ترې نه انګرېزي وئېله. کله کله به مې ورته خپل مات ګوډ شعرونه، د اجمل صېب شعرونه، د مفتون صېب، د غني بابا، د اعظم صېب شعرونه وئېل او عجيبه خبره دا وه چې د دوي پوره نظمونه او غزلې به راته يادې وې اوس خو را نه خپل هم هېر وي. زۀ ورپسې د ماما حجرې ته ورغلم. نعمت الله خان چې وُليدم، نو ؤ ئې وئېل، "اعظم صېب! دا زمونږ کشر دے. د الطاف د ماما ځوي دے، معظم. د دۀ ستا ليدل ډېر ارمان دے. مات ګوډ شاعر هم دے". اعظم صېب وې، "ما ته انعام خان جي د دۀ ذکر کړے ؤ. ښه ده چې د دۀ دا شوق پوره شو". بيا هغوي خپل ملګري راټول شول، چې ټول تقريباً زمونږ د تبر وو. زما مشران وو. زۀ ترې نه را روان شوم او بيا اعظم صېب زما لالا زما استاذ زما رهبر زما يار شو. ما چې د خپل کتاب د مخکتنې د دستورې نه څو ورځې پس يو طنزيه، مزاحيه کلام (صاحبِ ديوان شوم) وُليکلو، په هغې کښې مې د خپل کلي د ټولو شاعرانو اديبانو ذکر کړے ؤ. په هغه ورځو کښې لا د اعظم صېب شعري ټولګه نۀ وه چاپ. ما ورکښې د هغې ذکر کړے ؤ. نۀ يم خبر، چې اعظم صېب ته چا وئيلي وو، کۀ چرته چا ملګرو ورته ښودلې وه. په خانۀ فرهنګ ايران

کښې پروګرام ؤ ـ چې زهٔ ئې ؤليدم، نو په خندا شو ـ وې "کافره! تهٔ په ما خامخا کتاب چاپ کوې!" ـ ما وې، "لالا! کوم کتاب؟" وې "ښه! تهٔ نهٔ ئې خبر؟ ما ته دې ودود اشنغرے اؤ شوکت حسين حسرت په دوه ښې کړې دي اؤ لا دا هم وائي، چې نهٔ يم خبر ـ خدا ے شته کافره! نهٔ ؤم خبر چې دومره دې خوښ يم ـ ما خو وې کهٔ يوازې په غني بابا مئين ئې، خو د ماسټر کريم د ورځ په نمانځلو درنه ډېر خوشحاله يم ـ شوکت را ته وې، چې د عبدالاکبر خان اکبر د کليزې د نمانځلو اراده هم لري اؤ د ساقي صېب هم ـ معظمه! دا زمونږ اتلان دي ـ د دوي په مونږ حق دے اؤ ستا سره د جذبې سره د وسائلو قدرت هم شته ـ نوي کهول ته د دوي پېژندګلو ډېره ضروري ده ـ زهٔ درسره يم ـ بس ما خبروه! زهٔ به درته حاضر يم" ـ چې کله به هم چرته پېښور کښې پروګرام ؤ، ما ته به ئې ټيليفون ؤکړو ـ وې به ئې، حکم دے چې ځان سره ودود، شوکت اؤ ګران باچا راوله ـ بيا به انکار زما پلار کړے ؤ اؤ پروګرامونه به اکثر ماښام وو ـ زمونږ خبرې څو ورځې وړاندې د ټيليفون د لارې د علامه اقبال د ورځ په مناسبت ؤشوې اؤ حسب دستور لالا حکم ؤکړو ـ ما ورته وې، "لالا! د بلوچستان څهٔ ملګري هم په دې ورځ را روان دي اؤ نثار ملګري ټيليفون کړے دے، چې ډوډۍ به تا سره خورو ـ لالا! کهٔ د وخته ؤزګار شوم، خامخا به حاضر شم ـ دا زما د لالا سره اخيرۍ خبرې وې ـ د هغې لالا سره زما د مينې په برکت چې د قلم خاوند يم ـ د هغهٔ ډاډګيرنې اؤ د هغهٔ مينې د اشنغر نه خيبر، بولان اؤ په سپين غر کښې پېژندګلي راکړه ـ نهٔ يم خبر د هغهٔ د قيادت نه بغېر به د ادب راتلونکے سفر څهٔ رنګ وي؟ وي به کهٔ نهٔ به وي؟ کهٔ وي، نو څومره به ګران وي؟ د دوست محمد خان کامل صېب خبره "په ادب کښې استاذ د پير حېثيت لري ـ بې پيره کمال ته رسېدل ناممکنه وي" ـ زهٔ تر ډېره حده د خدا ے بخښلي کامل صېب په دې فکر قانع يم ـ اعظم صېب زما استاذ ؤ، خو ورسره زما ادبي، فکري، روحاني رهبر هم ؤ ـ



اعظم صېب نظم، نثر، ډرامه باندې زرهٔ پورې يوؤلس کتابونه چاپ شکل کښې ليکلي وو اؤ نهٔ يم خبر چې ناچاپ څومره دي؟ د ژوند تر اخيرۍ سلګيو د پښتو ادبي بورډ سره تړلے ؤ ـ د ادب ماليار هم ؤ اؤ د ژوند روزګار ئې هم ادب ؤ ـ خو د کمال خبره دا وه، چې په سياست ئې ادب غالب کړے ؤ يا کېدے شي، ما داسې محسوسوله ـ ډېر کم به ئې په سياسي هلوځلو داسې په طنز مزاح کښې خپل فکر ښکاره کړو ـ تقريباً د ټولو سياسي ډلو د مشرانو سره ئې د تعلق پېژندګلو رشته وه ـ خو اسفنديار ولي ئې د جوتې يار ؤ، د ورکوټوالي ځلميتوب يار ـ کله کله به ئې ما سره داسې په ټوقه د هغهٔ د ملګرتيا څهٔ قيصه ؤکړه ـ

اعظم صېب په خوي بېخي ډاکټر اعظم نهٔ ؤ ـ د رځړو د حجرې يو ساده باده پښتون اعظم ؤ اؤ په ادب کښې هم داسې نهٔ لګېده، چې کامل صېب قلندر لالا، خټک صېب، پرېشان صېب وي ـ بېخي اعظم لالا ؤ، زما د کلي اعظم لالا ـ کله کله

به د چا په حقله د خبرو د پاره ملګرو ستېج ته راوغوښتلو . داسې به نهٔ وه، چې ډاکټر اعظم اعظم لګيا دے . د رڅرو د کلي اعظم لالا بيخي ساده کليواله لهجه، اشنغرۍ ژبه، د ستېج نه به ئې د حجرې مجلس جوړ کړو . په داسې انداز به ئې په هغه بنده خپل فکر څرګند کړو، تا به وې، دے عامې خبرې کوي . د سپينې خبرې ملګرتيا اؤ وېنا ئې په جار کوله. ادبي اختلاف به ئې داسې په رموز کولو، چې د ادب لار بې ادبه نهٔ شي . اعظم صېب په ريښتيا په ادب مئېن ؤ . په مړينه هم ښکارېده، چې نن ادب د اشنغر نه، د پښتونخوا نه، د دنيا نه په لوي سفر روان شو . په انسانانو مئېن.



خدائے دې ورته د لوي سفر ژوند هم دومره نازولے، دومره سرلوړے ورکړي، څومره چې په دنيا نازولے اؤ سرلوړے ؤ . (آمين ثم آمين)

د وياړ اداره د پښتو ژبې د ډرامې اؤ افسانې د نوموړي
ليکوال، محقق، نقاد اؤ شاعر ډاکټر محمد اعظم اعظم
په مړينه د ژورې خواشينۍ څرګندؤنه کوي
مونږ لوي ښتن څخه د هغهٔ تلپاتې ژوند د پياوړتيا اؤ د
هغهٔ غمځپلې کورنۍ د پاره د دې لوي غم د زغم د توان
غوښتنه کوو
د پښتون ادب اؤ پښتو ډرامې تاريخ به د ارواښاد ډاکټر
محمد اعظم اعظم نه بغير نيمګړے وي
ځاے ئې د رڼا کور شه

# روداد د روښان ادبي جرګه (راج)

فضل مومند



کال 2012ء د نومبر په اتمه نېټه د جمعې په شپه 11بجې د فضل مومند په ډېره کښې هم د فضل مومند د صدارت لاندې د (روښان ادبي جرګه) جده (سعودي عربستان) مياشتنۍ غونډه ؤشوه . د نظامت چارې سترسپکتر مظهرجان سر ته ؤرسولې . په غونډه کښې په وړومبي ځل د ګډون د پاره راغلي ځوان شاعر اخلاص افريدے د مشر مېلمه په توګه موجود ؤ .

د غونډې پېل د قران پاک تلاوت سره ؤشو، چې سعادت ئې شاکر يوسفزي ته حاصل شو . د هر څهٔ نه اول فضل مومند د تېر اجلاس روداد واؤرولو، چې ملګرو پرې ډېرې ګټورې خبرې ؤکړې اؤ د روداد ستائنه ئې ؤکړه . د غونډې دوېمه برخه کښې غېر طرحي مشاعره ؤشوه، چې دې ملګرو پکښې برخه واخسته:

فرمان همدرد، شاکر يوسفزے، اخلاص افريدے، فضل مومند، فخرعالم يوسفزے، مظهر جان يوسفزے، مناف باغي، رسول خان، سراج ادېزوال، نورالدين وردګ، تنوير اؤ شاد محمد .

په اخره کښې د ښاغلي مناف باغي د ټرور بي بي په مړينه باندې ټولو ملګرو خفګان ښکاره کړو اؤ د مرحومې د پاره ئې د مغفرت دعا ؤغوښتله . راتلونکې غونډه به د دسمبر په څلورمه نېټه وي .


ISSN201212

## د ارواښاد قلندر مومند سره عقيدت کښې "وياړ" د غزل برخه سُوچه قلندري ليکدود کښې ليکي

وچو دشتو نه تر ښاره د غږه کاڼي
دي پراته په هره لاره د غږه کاڼي

همالې ته ئې شمله په سر ترلې
ستا نظر کښې دي بېکاره د غږه کاڼي

بره اوسي، لاندې نه را ښکته کيږي
سمندره! ستا له ډاره د غږه کاڼي

بيا قدم به ترېنه هم څوک پورته نه کړي
که خوارهٔ شول په هواره د غږه کاڼي

له جماله ډک جهان لري پرده کښې
هنرمند سړي لپاره د غږه کاڼي

په خوبونو کښې راځي را له **سعوده**!
هم زما غوندې بې شماره د غږه کاڼي

**سيد شاه سعود**

دروغ رېښتيا به سرے څومره زمانې ته وائي؟
ژوند به تر څو د ځان مئېنو نظريې ته وائي؟

د دې خبرې په راز يؤ سړے هم پوهه نه دے
چې پتنګ پټ په غوړ کښې څه بلې ډيوې ته وائي؟

لاړې، ساهو جذبې مو هم بې مُروته شولې
محبت خلق ضرورت او ملازې ته وائي

چې دې سړي ته لږ اداب د زندګۍ وښايو
زما قيام، زما رکوع، زما سجدې ته وائي

د ځينو ټکو په لغاتو کښې تصحيح پکار ده
لکه پرونے چې نرۍ شان لوپټې ته وائي

**شاکره**! ټول جهان ته دا خبره ورسوه!
چې محبت يوې سپېڅلې عقيدې ته وائي

**اقبال شاکر**

ښکلے درله هر يؤ د خپل سر په بيعه اخلمه
يه ساده زړګيه! تا له شر په بيعه اخلمه

خبر که غريبي مې ده، په خپته باندې وږے يم
يؤ مازيګرے له ټول ګودر په بيعه اخلمه

څنګ به مې جونګړې له دا وړان چتر اباد کړمه؟
زهٔ په خپل ځنګل کښې خپل نخښتر په بيعه اخلمه

څو پورې تياره به لر کؤمه د ذهنونو نه؟
څو به مې دې رونړ قام له نظر په بيعه اخلمه

زهٔ **شوګير** که څومره خپله ګټه تاوان پېژنم
ستا د کوڅې کاڼي به د زر په بيعه اخلمه

**شوګير اتمانخېل**

بيا دې د وعدې د مازيګر نه مزه اخلمه
ستا د انتظار د هر منظر نه مزه اخلمه

خبر دے،ما دې قتل کړي،خو تهٔ را تهٔ راؤګوره!
نن دې د قاتل قاتل نظر نه مزه اخلمه

هر طرف چې اوړم،درپسې د نمر پرست غوندې
ښکليه! زهٔ ستا د حسن نمر نه مزه اخلمه

تا چې د ښو په تېرو څوکو ژوبل کړے دے
زهٔ د ژوبل زړهٔ د هر پرهر نه مزه اخلمه

جوړ ئې هر يؤ بت وي، د مئېن د زړهٔ د څريکو نه
ځکه د سندرو د **حېدر** نه مزه اخلمه

**غلام حېدر حېدر**




ستړګې به هر چا تورولې
په دې دله مالت کښې زۀ په ګوته شومه

زۀ د موذي نه کونډه ښه یم
د چا غوجل به غورځوم، ځان به ساتمه

په جوارۍ ناسته لالیه!
په داؤ دې نۀ یم ستا په ؤچو شونډو یمه

دومره مجال مې د زړۀ نشته
چې په جانان پسې په زور زور ؤژاړمه

زما د یار وربل ئې وران کړو
سپوږمۍ په لاره د رندو په شانتې ځینه

یار بل وطن ته روانیږي
په غرغره نتکۍ مې چړ د اوښکو ځینه

په ما دې شنې اډۍ ګانه کړې
تا د دادا په کور کښې څۀ لیدلي دینه

جانان په توقو نۀ پوهیږي
ما په لواندۀ وربل وهۀ، مرور شۀ نه

تا چې ګل کړے رومال را کړو
زۀ به سبزلې ځواني خنګ نۀ درکؤمه

اوس مې دردونو ژبې ؤکړې
غم مې د زړۀ له کوره ځکه کډې وړینه

چې روانیږې لاس دې را کړو
چې فنا کیږې، مخ را واړوه مئینه!

د کور په ور مې اختیار نشته
د زړۀ په ور مې زنځیر نشته دے مئینه!

نیکبخته! اخوا را نه مۀ ځه!
ما په پلیسکي کښې نیني راوړې دینه

ولې مې توره توره بولې؟
خداے دې په خیر کړه، مور په ناز ساتلې یمه

## هغه مشران وائي:

- نور اس شوے دے، خو لکۍ ئې پاتې ده
- بن کۀ د کوچو وي، هم ښه نۀ ده
- کافره ښځه د زبرګې نړور نه غوره ده
- رڼا ورځ ده، خو غلو هسې په ځان تیاره کړې
- کاڼي ډیر دي، خو خبره په سپر خلاصیږي
- ګیډه هم ځان خوري، هم قام خوري
- یؤ لیونے خلق په کلي ساتي
- خوري! لښکر څۀ؟ خو ستا میړۀ زما میړۀ
- وریژې تر "ورۀ" ـــ ډوډۍ تر "غرۀ"
- ما ئې خوند وران کړو، تا ئې رنګ وران کړو
- ما له خو منه ـ د املوک نه وي کۀ اینځر نه
- سیند خپل کاڼي په وخت شاربي
- ؤچې لښتې نه وندنے نۀ کیږي
- د نورو نورې، د لیونو خو د ډوډو تپا
- خورم خپله، ښکم خپله ـــ نوکر د خان یم
- تا له به ئې ابۍ پخې ـــ ما له ئې تبۍ پخې
- بې د باجې ګلزرین هیڅ شے نۀ دے
- پردي خرۀ مۀ جوپې جوپې کوه!


ISSN201212

# تکل سر

**محمد اشرف غمگین**

بنیادم کلهم سر سترګې درلودي. دا ښېله خبره چې ځنې سر کښې مازغهٔ نهٔ وي او سترګې لیدل نهٔ کوي. د ماضۍ په کندو کپرو سر وي او د حال نه بې پروا وي. نهٔ ګوري، چې دا څهٔ کیږي او څهٔ روان دي؟ خوشحال خان ختک علیه الرحمة خو فرمائي، "هر کلام مې "واردات" دے".

خدا ے خبر دے، چې د خیال پرستۍ یو توپیائي زهر به تر کومه خپریږي؟ چې ګټه ئې تل "بورژوا" او "اپرچونېسټ" طبقې ته رسیږي. جاسوسي طیارې په کورونو حملې کوي. د ایشیا زړهٔ ورانیږي. د امریکا او د امریکې د اتحادیانو د اووهٔ سمندرونو د پورې به دا توسیع پسندي مهم بازي څو چلنده وي؟ په جرګو خو ئې نهٔ خاتمه وشوه او نهٔ قام ویښ شو او نهٔ پرې د چا سر خلاص شو. د آل انډیا د غلامۍ په دور کښې د سول نافرمانۍ تحریک چلنده شو. خلقو د سرکاري ملازمتونو نه استعفا ورکړه، د ولایتي کپړو اخېستل او خرڅول ئې ترک کړل. د اشنغر کریم مظلوم وؤېل،

"ؤ به نهٔ کړي یو خود دار ملازمت
بیا په تېره د سرکار ملازمت

د پښتو د نوموړي شاعر، ادیب، مفکرِاسلام محمد اکبر خادم بابا دوه شعرونه

نهٔ کلونه د غلام په غلامۍ کښې
نهٔ ساعت د ازادۍ، کهٔ ځنکدن وي

پښتو ټېنګه کړه پښتونه! چې هم ژبه ده هم تُوره تهٔ پښتو ئې پښتون کړے، تهٔ هم دا کړه مشهوره سره د وروره ئې پتواری پرېښودلې. افغانستان او بیا تاجکستان ته ئې هجرت وکړلو. خادم بابا خو بېرته راغلو، خو ورور ئې سره د بال بچه تر ننه واپس را نهٔ غلو. د انګرېز خلاف د جنګ ازادۍ ډېر ضخیم تاریخ غواړي.

د چارسدې د ترنګزۍ کلي بوډا خدائي خدمتګار شاعر حبیب الله کاکا مالیه په سرکار بنده کړه. همېشه به په مالیه کښې په حوالات کښې ؤ. یو ځل افسرِ مال انګرېز اسسټنټ کمېشنر ته بوتللو. چې انګرېز اسسټنټ را ښکاره شو، افسرِ مال ؤوې "ګوډ مارننګ سر!"

ورپسې حبیب الله کاکا ؤوئېل،

"ګوډ مارننګ سر نهٔ، د هتې سر"

انګرېز اسسټنټ د افسرِ مال نه تپوس ؤکړو،

"وَتِز دَ هتي سر؟"

افسرِ مال ؤوئېل، "سر! ناممکنات ئې مطلب دے".

دغه ځل درې کلونه قېد شو. دا خو د انګرېزۍ ژبې د "سَر" قېصه وه. هر څهٔ ته چې سر وائي، خو دوي ته به خپلو غلامو نمک خورو "سَر" وئېل او دوي به هم د "سَر" خطابات ورکول. مونږ په ساده روانه پښتو کښې د غوړونو تر منځ د چا دړې او د چا لکه د نؤلي چیتاکۍ سر بولو. هغه ورځ یو ماشوم کور ته په ژړا لاړو. چا ورته وئیلي وو، چې ستا د پلار سر د غوړونو تر منځه شوے دے. مور ورته وئېل، "خېر دے کهٔ اوس ما ته په کنځل وېنا منع شو".

خبرې ډېرې او سر ئې یو ـــ سر انسان او حېوان دواړه درلودي. خو حېوان ځناور اسپه ټانګه د کلي نه بازار ته بوتللې راوستلې شي، خو کهٔ صرف اسپې ته ؤوائي، چې ټانګه راکاږه او یوه بورۍ وړهٔ او څهٔ تېل مالګه راوړه، دا به ناممکن


ISSN201212

وي ـ څۀ خلق وائي اؤ ليکي چې، "د قيادت يعني
د سر سړي کمے دے، ځکه دهشت ګردي ده".
هلکه! تۀ خو هم سړے یاست ـ تۀ پخپله وړاندې
شه! سر لښکر شه! د کون و مکان دې معاشره اؤ
سماج کښې خو ډېر د پخوا نه د سر د سړي خلق
خاتمه کوي، چې سر ئې ورک شي ـ چې وروستو
وړپسي د تحصل کچهرو ځوک پاتې نۀ شي ـ
د ترقي يافته، غېر ترقي يافته، وروستو پاتې
ملکونو وغېره اصطلاحات ډېر استعماليږي ـ د
مخ په وړاندې ملکونو امريکا، برطانيه، فرانس
جرمني اؤ نورو ډېرو تکيه کيږي ـ کۀ غر لوي
دے، په سر ئې لاره ده ـ د پښتو ځو ښکلې ټپه ده،

په تورو غرونو خدا ے مئېن دے
په سر ئې واورې وروي، په وېخ ګلونه

وروستو پاتط ملکونه هم مخ په وړاندې تللي شي
بايد د زړونو ائينې صفا کړي ــ د تنګ نظرۍ د
تورو تيارو نه راوځي ــ تواهم پرېږدي ــ ژوند
سره ترغاړه وځي ـ زمونږ خوږ نبيﷺ صلح حديبيه
کړې وه ـ کفارو ته ئې پخپله عبادت ګاه کښې د
عبادت اجازت ورکړے وُ ـ د يهودو دوکاندار نه د
سودا اخستلو ممانعت ئې کړے نۀ وُ ـ سوشل
لائف ئې کندم کړے نۀ وُ ـ رحمت اللعالمينﷺ وُ ـ
دغه دېوال ئې باندې چاکېنګ دے، چې چرته
کافر وينئ، قتل کوئ ئې! ــ
"قانونِ مکافات" انټرنېشنل ډِکشن دے ـ د خاکو
نه پس تازه د فلم کتلو ستوري په مسلمان ملکونو
کښې د جلسو جلوسونو، هړتالونو، مظاهرو اور
په غرغندو کړے دے ـ د امريکې نيم ګز د کپړې
جنډه سوزول اؤ خپلې موټرې، بسونه، بازارونه،
املاک اؤ د خلقو د سر اؤ مال زيان دغه ترقي
يافته ملکونو اؤ د دوي غېرانساني دسيسې اؤ
طوطيې ته نقصان رسولے نۀ شي، تبر پخپله خپلو
پښو له راګوزارول دي ـ دوي سره سر په سر اؤ
اوږه په اوږه ودرېدل دغه بين الاقوامي
سامراجيت له غاښ ماتونکے ځواب دے ـ بايد از
سرِ نو د تاريخ نه زده کړه وُشي ـ انسان پښتون
افغان مسلمان د يؤ بل وينې زوې ځښکل بند کړي
غريب مظلوم بې وسه بې وزله اولس ترقي وُکړي ـ
فرعون، نمرود، شداد څۀ شو؟ ايا نمرود پوزه
کښې يؤ وړوکے شان ماشے ننوتلو د مرګ کُومې
ته وُ نۀ رسولو ـ چې سر لري، شوخلې ډېرې ـ



"سر" تکے، لفظ يا اصطلاح پښتو شعر اؤ ادب
کښې ډېر استعمال شوے دے ـ

مال دې لاړ شي، سر دې لاړ شي، پت دې نۀ ځي
د سړي د چارې کل خوبي په پټ دي
خوشحال خان خټک

ديدن د سر په بدله دے
چې سر ساتې خاوړې به وُکړې ديدنونه

د کتاب سرپاڼه، سريزه، کتاب سرسري لوستل،
سر پړې ستړے کول، سر پړې ماتول، سر په سر
کېدل، سرلوړي، سر غړونه، بيا له سر کول، چرته
سر نخښتل، ټوپۍ په سر، پټکے په سر، سر تور
سر، تورسرې، سپين سرې، انګرېزي سر، د چښو
سر ـ په يؤ فلم کښې سيم سيم د لېلا پوځ چې ګڼ

هتیان پکښې وو . سیم سیم ته د خر بوتاړ (سر) په لاس ورغلو . هغه د خر سر چې به هتي په لاس کښې لیدلو، په رووستو به په تېښته تللو .

سر د پاسه وېښتهٔ هم لري . اوس خو معامله ګډه وډه شوې ده . بیا هم د مردانو په سر وېښتهٔ واړهٔ وي اؤ د ښځو په سرونو وېښتهٔ لوي لوي وي . بلکې سر ورته هم وائي اؤ په سر کښې ښیرے اؤ سْپږې هم وي اؤ دا فصل هم کیږي . څکه ښځې سر ګوري اؤ ښځې اؤ سړي دواړه سر هم وینځي . استعاره کښې وئیلے شي، چې "سر ئې را ته مهٔ وینځه!" (بد سړي نه ښهٔ سړے مهٔ جوړوه!) . خبرې ته په انکار اؤ په اثبات کښې صرف سر ړقولے هم شي . د چا څهٔ شے به تا سره وي اؤ نهٔ به دې لیدلے وي، خو مالک به ئې درته وائي، "زما پېن تا سره دے"، دې ته "د سر نه نیول" وائي . د بابړې د شهیدانو مرثیه کښې استاد عبدالمالک فدا فرمائي،

سر په تلي کښې د الله دربار ته وړْمه
مرګیه! مهٔ راځه! درځمه

سر شیندنه، د "دُواوې" د سنډا سر، سر به دې څهٔ خُوړوُم ــــ د سر لویه انشائیه تکل دے، چې پاس ذکر ئې د سر تکے ؤ . د سر امن دې وي . په ګودرو اکثر جینکۍ منګي په سر اؤ ټْرخونو کښې قطارونه لیدلے کیږي . د بعضې جینۍ د اوبو ډک درې منګي په سر وي، څکه خو وائي،

کهٔ خْلهٔ مې اخلې، زر شه! راشه!
منګے مې څهٔ له ړقوې؟ لونده دې کړمه

په حېواناتو کښې سنډا، غْوائے، ګډ، څېرلے جنګ کښې یؤ بل سره سر جنګوي . په وروستو لاړ شي، بیا په منډه راشي، یؤ بل سره سر ؤجنګوي، چې اکثر د یؤ ښکر مات شي، ؤتښتي .

د اختر په ورومبۍ ورځ به د کلي بهر شګه کښې دا تماشې وې . په سر سرتور، په پښنو پښې ابله عوام به په کلي کښې کولې . مشرانې ښځې په تور سرپیچک سر ترې .



بحرحال د سر انساني کوپړۍ د ډېر ارزښت وړ ده . دننه پکښې سْپینه ماده "مازغهٔ" پْراتهٔ دي . هم دغه دماغ دي، د عقل اؤ شعور تولید کوي . یا دا چې د عقل شعور کار ئې دنده ده . "نارمل" اؤ "اېبنارمل" بېلابېل انسانانو کښې کېدلے شي . کهٔ دوي په امن کښې په مکالمه، ډائېلاګ نهٔ قانع کیږي، بیا د اختر په ورومبۍ ورځ شګه کښې د ځناورو یؤ بل سره سر جنګول اؤ دوي کښې څهٔ فرق شو؟ خبره په خبرو خلاصیږي . د هرې مسئلې حل شته دے . وزیرستان کښې ډرون حمله اؤ کُوز دیر کښې تازه دهشت ګردي هرګز سر په سر نهٔ دي ــــ بلکې د پښتون افغان خوار و زار اولس انسانیت سوزې المیې اؤ سانحې دي . انسان ته چې خدائے پاک سر سترګې ورکړې دي، باید مثبت فائده ترې واخلي، چې د مظلوم انسانانو د فلاح و بهبود باعث ؤګرځي .

---

په خوړ کښې ډېر کاڼي پْراتهٔ وي
خلق په سر پسې ملکونه لټوینه

# کالاباغ ڈیم نامنظور





# محمد علي جناح د انځورونو هنداره کښې








رحمت، مریم، شیرین او فاطمه



ايمي جناح او احمد علي جناح



دينا جناح او محمد علي جناح









د پیرئیار رامسوامي اؤ بي آر امبېډکر سره





د کانګرېس لخوا مسلم لیګ سره جرګه کښې



6 دسمبر 1946 هېدرو هوائي ډګر لندن





باچاخان سره




پاکستان کې د موبائېل ټېکنالوجۍ راتګ سره د ژوند په بېلابېلو اړخونو کښې ګڼ شمېر بدلونونه منځ ته راغلي دي. د اولس خپلو کښې اړیکې پراخه شوې دي اؤ دغسې نه یوازې دا چې روزګارونه ورسره ښه شوي دي، بلکې نورې لارې هم د روزګار اؤ معاش پُرانستې شوې دي.

خپله د اتصالاتو ګڼې کمپنۍ دلته تاده شوې چې لوی شمېر ځلمي پکښې په روزګار شول اؤ د ګرځنده (موبائېلز) د خرڅ، رغؤنې اؤ نورو لوازماتو د پاره د ځایونو پُرانسته اؤ د ځلمو په کار کېدلو ته لاره هواره شوه.

له بده مرغه، دې ټېکنالوجۍ ځان سره څه سُتونزې اؤ څه پرُېوتې اغېزې هم راؤړې. دغه سُتونزې اؤ پرُېوتې اغېزې څه خو د اولس د خپل ژوند ډول له مخه اؤ څه د سرکار دې لړ کښې پاملرنه د نه کولو له امله منځ ته شوې. د ګرځنده کېمرې سره کهیؤ خوا د کورونو ستر مات شو، نو بلخوا د ټېښتې، نشئي توکو خرڅ اؤ نورو بدیو لارې هم برڅېره شوې. دغسې د ژوند په هر اړخ هر ډول بدلون راغلو.

د حکومت لخوا د پېژند (شناختي کارډ) سره د موبائېل سم تړون که نور څه کوي اؤ که نه. خو د جرائمو شرح به تر ډېره حده راټیټه کړي. دې لړ کښې د هېواد د راتلونکي فکر اؤ د اولس د ژوند په لوري خیال کول پکار دي. باید دا لړۍ د څه مفاهمتونو ښکار نه شي.


امن امن امن امن
زمونږ غوښتنې


د
سیاستدانانو
لوظونه


که د وزیرانو، مشیرانو،
بیوروکریټو او لوړو افسرانو
تنخاګانې ټیټې کړې شي،
نو........




یوه ورځ به لوږه
نه وي وږي به دا
ماړه وخوري


دکار پیل نه اګاهو
ئې د سرته رسولو
پامته دار اوسه!






شام
غزه

د پښتون مرام پښتون ويار شهيد

# اودل سمد خان اڅکزے بابا

دوست افغان

عبدالصمد خان اڅکزے (7 د جولای، 1907 ز - 2 د ډېسمبر، 1973 (په انگرېزي: Abdul Samad Khan Achakzai ) د سوېلي پښتونخوا يؤ مخور اولسي مبارز، سياسي مشر اؤ نامتو ادبي شخصيت ؤ. هغه د خپلو سياسي فعاليتونو اؤ په سياست کښې د ښکېل پاتې کېدلو په سبب د بْرېطاني هند د واکمن حکومت لخوا اؤ بيا وروسته د پاکستاني حکومت لخوا په وار وار زنداني شوے. نوموړے د "انجمن وطن" په نامه د يؤ اولسي غورځنگ مشر اؤ بنسټگر ؤ، چې بيا دغه اولسي غورځنگ د هند د کانگرېس اؤ خدائي خدمتگارو لخوا په رسميت ؤپېژندلے شو.

**نيوليک**

1: مخينه او زده کړې
2: سياسي فعاليتونه
3: ادبي هلې ځلې
3.1: چاپ شوي آثار
3.2: ژباړې
4: مړينه

## 1. مخينه او زده کړې

خان شهيدعبدالصمد خان اڅکزے د نور محمد خان اڅکزي زوے ؤ. هغه د سهېلي پښتونخوا په گلستان نومې سيمه کې زېږېدلے ؤ. نوموړے چې د خان شهيد په نامه هم شهرت لري، خپلې لومړنۍ زده کړې تر اتم ټولگي پورې په منظمه توگه ترسره کړې وې. بيا ئې نورې زده کړې په دوديزه توگه د سيمې له ديني عالمانو ترسره کړې وې. کله چې په 1929 ز کال کښې د سياسي ښکېلتيا په سبب په 14 کاله بند محکوم شو، نو بيا ئې په بنديخانه کښې په غير رسمي ډول د فاضل پښتو، فارسي، مېټرک اؤ ايف اے په ازموينو کښې گډون ؤکړو اؤ د برياليتوب سندونه ئې ترلاسه کړل. نوموړے په پښتو، دري، اردو اؤ عربي ژبو ښۀ پوهېدلو اؤ احاطه ئې پرې درلودله. هغۀ خپل ټول عمر په زده کړه، فرهنگي اؤ سياسي فعاليتونو تېر کړے اؤ د سياست په ډگر کښې له هېواد سره د مينې په گناه د مچ، هري پور اؤ ملتان په زندانونو کښې ئې سختې شپې ورځې تېرې کړې دي.



## 2. سياسي فعاليتونه

اڅکزے په 1930 ز کال هند ته لاړ اؤ د لاهور د کانگرېس په کلنۍ غونډه کښې ئې گډون ؤکړو. په دې غونډه کښې ئې د ښکېلاک ضد شعارونه

اؤ خبرې واؤرېدلې ـ کله چې بېرته کور ته راستون شو، په حال اؤ احوال کښې ئې بدلون راغلے ؤ ـ



دغه حال ئې محمد ایوب خان اڅکزي اؤ خپل ورور عبدالسلام خان ته بیان کړو، چې دوي درې وارو د یوې ملي سیاسي ټولنې په جوړېدو لاس پورې کړو ـ کله چې انګرېزان د دوي د فعالیت څخه خبر شول، د دوي دغه ګوند ئې غیر قانوني ؤبالۀ اؤ درې واړه ئې بندیان کړل ـ کله چې هغوي له بنده خوشي شول، نو په 1932 ز کال کښې ئې په سوېلي پښتونخوا کښې د یؤ سیاسي مرکز په جوړولو لاس پورې کړو، چې د همدغه کال په ډېسمبر کښې د سندهـ او سوېلي پښتونخوا په پوله په یعقوب اباد نومې سیمه کښې د "انجمن وطن" په نامه د خان عبدالصمد خان په مشرۍ، د یؤ اولسي تحریک بنسټ کېښودۀ ـ دغه انجمن د هند د کانګرېس اؤ د خدائي خدمتګارو لخوا په رسمیت ؤپېژندلے شو ـ نوموړي په 1936 ز کال کښې پخپل شخصي لګښت یوه چاپخونه هم رانیوله اؤ د 1938 ز کال په جنورۍ کښې ئې په پښتو اؤ اردو ژبو د "استقلال" اخبار چاپ اؤ خپور کړو ـ دغه اخبار په 1950 ز کال کښې د پاکستان د حکومت لخوا مصادره اؤ ضبط شو اؤ پخپله عبدالصمد خان زندان ته لاړو ـ کله چې هغه له بند خلاص شو، نو بیا ئې دوه نور ګوندونه هم جوړ کړل، چې یؤ ئې د "ورور پښتون" اؤ بل "د اسمان ګل" په نامه یادېدۀ ـ د لومړي ګوند مشري پخپله د صمد خان په غاړه وه اؤ د دوېم مشري ئې شهزاده عبدالکریم خان بلوڅ کوله ـ

په 1954 ز کال کښې چې د ملي خودارادیت څپې څپڅپانده وې، د پاکستان پوځي حکومت د هغو د ارامولو اؤ له منځه وړلو په خاطر بندېزونه لګولي وو اؤ خان ئې د مارشل لاء د قوانینو څخه د سرغړؤنې په تور 14 کاله بندي کړو.



### 3. ادبي هلې ځلې

عبدالصمد خان اڅکزے یوازې یؤ سیاسي اؤ ټولنیز شخصیت نۀ ؤ، هغه یؤ هر اړخیزه وګړے ؤ، چې د رسنیو د چاپ تر څنګ په ادبي اؤ علمي چارو کښې هم بوخت پاتې شوے اؤ ګڼ شمېر فرهنګي خدمتونه ئې کړي دي ـ دۀ برخېره په دې، چې د "استقلال" په ورځپانه کښې ئې خپلې لیکنې خپرولې، د "ګلستان" له مجلې اؤ نورو ملي خپرؤنو سره ئې هم همکاري کوله ـ د دۀ لیکنې په یوې سیمې پورې محدودې نۀ وې، بلکې د افغانستان، بلوچستان اؤ پېښور په مطبوعاتو کښې وخت په وخت خپرېدلې ـ

### 3.1. چاپ شوي آثار

**صمد اللغات:** د پښتو ژبې سیند چې په لس هاو زره لغتونه پکښې راغلي ـ دا سیند په 1953 ز کال کښې د کوټې په جېل کښې لیکلے شوے

ISSN201212

**دے زما ژوند**: په دې اثر کښې د خان صاحب ژوند پېښې په 790 مخونو کښې راغلې دي.
**پښتو ژبه او لیکدود**: دا یوه کوچنۍ رساله ده، چې په 1956 ز کال کښې په کوټه کښې چاپ شوې ده.



3.2. **ژباړې**

**ګلستان**: د شیخ سعدي د "ګلستان" منظوم پښتو ژباړه. دا کتاب په 1950 ز کال کښې د هري پور په زندان کښې ژباړلے شوے دے.
**ترجمان القرآن**: دا د مولانا ابوالکلام آزاد د "ترجمان القرآن" پښتو ژباړه ده، چې په 1947 ز کال کښې د مچ په زندان کښې ژباړلې شوې ده.
**کیمیاے سعادت**: د امام غزالي د "کیمیاے سعادت" پښتو ژباړه.
**سیرة النبي**: د شبلي نعماني د "سیرة النبي" د لومړي ټوک پښتو ژباړه.
**د آزادۍ پاے**: د چارلټ اوډایس مارټر د کتاب (Future of Freedom) پښتو ژباړه.
**آزادي کا افق**: د همدې پورتني کتاب اردو ژباړه.

4. **مړینه**

عبدالصمد خان اڅکزے یؤ تول منلے پښتون مبارز، د ګڼ شمېر فرهنګي اؤ ټولنیزو چوپړونو وروسته په 2 ډیسمبر 1973 ز کال د کوټې په ښار کښې د خپل کور په مېلمستون کښې د لاسي بم په بُرید کښې شهید کړے شو.

# لاهور هائي کورټ کښې د شهید اڅکزي بابا بیان

اکتوبر 1954

سیال سباؤن

جناب والا! غواړم د خپل بیان پېل د قران عظیم الشان د دې سپېڅلي ایت څخه ؤکړم،

و تعاونوا علی البر والتقوی و لا تعاونوا علی الاثم و العدوان

(د خېر کارونو کښې یؤ بل سره کومک کوئ اؤ د بدۍ اؤ ګناه کارونو کښې د یؤ بل کومک مۀ کوئ)

جناب والا! زما باور دے، چې دا ایت د انسان د ژوند هغه منشور دے، چې کۀ عمل پرې ؤکړي، نو د ټولې نړۍ ستونزې به حل شي. دا ایت زما د ژوند لاره ده اؤ دا زما عقیده اؤ باور دے، چې زۀ به مدام د خېر په کارونو کښې د مخ په صف کښې ولاړ یم اؤ د بدو اؤ ګناه به مخالف یم. هم پرون مخالف ؤم، هم نن مخالف یم، هم به تر مرګه مخالف یم. په ما تور لګولے شوے دے، چې ما په حېدراباد کښې تقریر کړے دے ـــ دغه تور یا دروغ نۀ دي، رېښتیا دي. ما تقریر کړے دے اؤ کۀ نن بیا هغه غونډه وي، زۀ به دغه تقریر بیا کؤم. ځکه چې زۀ د قېد یا مرګ د وېرې نه د قران پاک د مقدسو ایتونو نه سرغړونه کولې نۀ شم. د حق په ملګرتیا کښې اؤ د باطل خلاف په مبارزه کښې د زندان یا مرګ سزا هېڅ معنا نۀ لري.

پاکستان سره زمونږ یوازې د مذهب اړول دے. د افغانستان سره زمونږ د مذهب، ژبې، جغرافیه، کلتور اؤ تاریخ تلپاتې تړون دے. مونږ کۀ تاسو سره ژوند کوو، نو په شرائطو به ئې کوو. تاسو به مونږ وېشئ نۀ ـــ زمونږ د ژوند سپکاوے به نۀ کوئ ـــ زمونږ په وسائلو به مونږ له واک راکوئ اؤ کۀ د جبر لار خپلوئ، نو نۀ زندان نه وېرېږم نۀ دار نه. (اودل سمد خان اڅکزے شهید)

ISSN201212

# اشر د پښتنو د ټولنیز ژوند نیازبین رنګ

ویاړ راپور

یوازې د کلیوال ژوند خبره نهٔ کوو، چرته چې هم ټولنیز ژوند کیږي، هلته د ژوند اسانتیاوې منځ ته راوړلو د پاره وګړي داسې لارې ویستلې دي، چې ټولنه ښېرازه او سوکاله لري ـــ "اشر" ټولنیز ژوند ته د اسانتیاو راوړونکې هم داسې یوه لاره ده ، چې ډېر نیازبین رنګ لري.

پهٔ پښتنه ټولنه کښې د اشر تاریخ ښکاره نهٔ دے او نهٔ داسې څهٔ روایت لرو، چې پښتنې ټولنې سره اشر د کومې مهذبې او پرمختللې ټولنې نه اخستے شوے دے او دا خبره د دې ریښتیا پخلاوے کوي، چې د ټولنیز ژوند سره مینه کوُنکو پښتنو اشر د پېړیو راهسې خپل کړے ۇ.

کله چې د زمکه کروندې د پاره چمتو کیږي ـــ
کله چې کښتونو کښې کرونده کیږي ـــ
کله چې پاخهٔ کښتونه رېبلے کیږي ـــ
کله چې کښتونه خوندي کیږي ـــ اشر کیږي.



اشر د پاره به کلي کښې نغاره ۇهلې شوه او غږ به ۇشو، چې سبا له به د پلانکي کښت کښې اشر وي، نو د ټول کلي ځلمي، سړي او مشران به لاړل. دا به د ټولنې د یو بل سره د اړیکو ټینګولو بانه هم ۇګرځېدله.

د چا چې به اشر ۇ، هغهٔ به تۇدې چې او غوړې پراټې اشر کوُنکو د پاره راوړې. ۇچې خېټې به غوړې شوې او کار به هغه ورځ راۇنغښتلے شو. پهٔ بله ورځ به د بل چا اشر ۇ او دغسې به د ټول کلي کښتونه او فصلونه خوندي شول.



اشر یوازې کښتونو سره تړلے نهٔ ۇ. د ژوند پهٔ نورو لارو هم د اشر اغېزه ښکاره وه. غم ښادۍ کښې به د کلي ځلمي جوپې جوپې خدمت ته ولاړ وو. یوازې سړي نهٔ، د ښځو به هم پهٔ تنور پېښې کولو، پهٔ ګودر د یو بل منګي ډکولو نه واخله، تر مالوچو ډانډت کولو، د بړستنو ګنډلو، غنمو چڼې کولو او غم ښادۍ کښې د اخلي پخلي کارونو پورې د اشر څرک څرګند ۇ. د پښتنو کورونو کښې دېوالونه وو، خو زړونو کښې نهٔ.

اشر د پښتنو د جرګې پهٔ ښونه د ټولنې د ژوند یوه ګټوره برخه ۇګرځېدله او پهٔ هره ښه بده، هره ورانه سمه، هر باران جاکړ او هر موسم کښې پښتانهٔ د اشر پهٔ مورچل د یو بل سره اوږه پهٔ اوږه ولاړ وو.

د وګړي پهٔ ژوند کښې د مشینرۍ راتګ چې چرته خواري لږه او لږ وخت کښې د ډېر کار ویستلو سره نور بدلونونه راوستل، هلته ئې د ټولنیز ژوند ډېر رنګونه هم ۇترورل. د ټولنیز ژوند دغه پیاوړو رنګونو څخه د اشر رنګ هم رو رو تت کېدلو او تر دې چې زیاتره برخو کښې بیخي ورک شولو او دغسې ډېرې داسې ګټې او خوندونه ورسره هم لاړل، کوم چې د اشر له مخه ټولنه کښې وو.

د نولسمې پېړۍ ورومبيو دوؤ لسيزو کښې پښتنې ټولنې د اشر نه ډېرې ګټې لاس ته راؤړلې. د خدائي خدمتګار خوځښت کارکوؤنکي به کلي په کلي ګرځېدل، لارې کوځې به ئې جارو کولې ـــ په رنګ شوؤ دېوالونو به ئې ردې وهلې ـــ جوماتونه اؤ حجرې به ئې ودانولې اؤ د پښتنو د ټرېګنيو اؤ منځنو شخړو د منځ نه ويستلو هڅې به ئې کولې. د خدائي خدمتګار خوځښت بدرګه چې کوم کلي، کوم ښار اؤ کومې سيمې ته هم تلې ده، هلته په پښتنه ټولنه د اشر رنګ زيات ګټور اؤ زيات څرګند شوے دے، خو د نولسمې پېړۍ اخيرۍ لسيزې کښې د ژوند ډېرو کارونو نه مشين خپل لاسونه تاؤ کړل اؤ دغسې ئې د اشر په مرۍ ګوتې کېښودلې. خو اشر خپل ارزښت اوس هم بائېللے نۀ دے. په ټولنيز ژوند کښې ډېر داسې کارونه شته، چې هلته اوس هم اشر يؤ اغېزمن رول لري. په ټولنيز ژوند کښې اوس هم چرته چې مينه ده، جذبه ده ـــ هلته اشر په څۀ نا څۀ رنګ کښې شتون لري.



اوس اوس د افغانستان په څو سترو ښارونو کښې د صفايۍ د پاره د اشر غږ شوے دے اؤ ګڼو ښارونو کښې د پوهنتونونو ځلمي اؤ د ټولنيزې ښېګړې د ډلو کارکوؤنکي په دغه غږ د خپلو ښارونو ښکلا د پاره راووتل. د ټولنې مشران د دغه ځلمو تر څنګ وو، چې د اشر د بيا ژوندي کولو په اړه يؤ ګټور ګام دے.

اوس چې د پښتنو خاؤره د بدامنۍ په موسم کښې ده، د اشر په ټرخ کښې د قامي لښکرونو يوه شعوري هڅه شوې ده. د قامي لښکر تاريخ هم د پښتنو په ټولنيز ژوند کښې خپل درناوے لري. دغسې د پښتونخوا د امنيت په اړه د اشر فکر يوه ارزښتمنه لاره ده، چې کۀ مشران کښيني اؤ دې ته ځېر شي، نو د امنيت د ټينګولو ګڼې لارې به ؤمومي.



دې لړ کښې د کلي ځلمي بايد ؤهڅولے شي اؤ د ښوونځو، ليسو اؤ پوهنتونونو زدکړه کوؤنکي هم دې پېښاوړي کار کښې ځان سره بدرګه کړے شي. د پښتونخوا د امنيتي ځواکونو مشران اؤ لارښود په دې اړه مهم رول لوبولے شي.
ژوند د بدلون نوم دے. دا هم د ارتقاء برخه ده، چې د ژوند کومې ښکلاګانې، کومې اسانتياوې اؤ کوم ښۀ ځيزونه حالاتو زمونږ لاسونو نه ټروړلي دي، هغه بيا خپل کړو. د اشر بيا ژوندي کول به يؤ لوي برياليتوب وي اؤ د دغه رڼا څۀ وړانګې مونږ د افغانستان لويو ښارونو کښې ؤليدلې.



ISSN201212




# د دانشورو بتېربازانو دام اؤ د افتاب شېرپاؤ لُومه

"اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيْهِ رَاجِعُوْن"

"وه د پيتوګي پلاره! بيا څوک مړۀ دي، چې د مړي اوږدې کليمې دې شروع کړې دي؟"

"وه د عقل دښمني! سر دې سپين شو، زړۀ دې شين شو، خو عقل اؤ دين دې په دوه درې سر کښې مکين نۀ شو . دا د مړو نۀ، د هر حادثاتي خفګان خبر په اوږېدلو وئېل پکار وي".

"خواره! په تا کوم د شين اسمان تندر راپرېوتو، چې د مړو کليمې دې شروع کړې دي؟"

"ولې تۀ نۀ ئې خبر څۀ؟"

"د څۀ نه؟"

ښخ دې وُځه! زمونږ "مشر خان" حيات خان شهيد چې د لاړکانې نه کومه پيپلې بي بي راوستلې وه اؤ د هغۀ د شهادت نه پس وراثت کښې "کشر خان" مېجر افتاب احمد خان ته پاتې شوې وه، پرون مړه شوه اؤ بلا دې واخلم، مېجر صېب په سُرنا ډولکو خاؤرو ته وُسپارله".

"خبر شوې وُم، چې د څۀ مودې راهسې ډېره خفه وه . د ډيپريشن دورې به پرې راتلې . د قمري تبر را ته وئېل، چې خان سياسي ډاکټرانو، روحاني پېشواګانو، دانشورو بتېربازانو ته هم ښودلې وه.

لا دانشورو بتېربازانو ورته وې، چې دا تا ډېره جنګوله، وېرېدلې ده . روحاني پېشواګانو ورته مشوره ورکړې وه، چې دا د تېغ، تُورې اؤ غشي نه وېرېږي اؤ تيارې نه هم ـــ دې ته به شپه ورځ ډيوه بلوې . "خان" غريب خواري وُکړه . د پيتوګي پلاره! د اجل حکيم نۀ وي؟ خدا ے دې اخره خاتمه په ډولکو کړي".

"قمرې وئېل، چې ښۀ وُشو . اوس به خان د قندهار ننګرهار، پېښور، اشنغر پښتنه بي بي راولي . دانشورو بتېربازانو ورته لُومه اچولې وه، نيولے ئې دے . کۀ خېر وي، نن دے کۀ سبا، خو دا مال د زرغون شاه . تکړه دانشور بتېربازان دي، خپله بولاره به ورته رغ کړي (خپله بولاره خپل مرزان) . دې دانشورو بتېربازانو لېونے فلسفي غني خان بابا ته د جرګې "بولاره" جوړه کړې وه، افراسياب خټک ته انقلابي "بولاره" اؤ افضل خان لالا ته قومي "بولاره" ـــ دا بېله خبره ده، چې ټولې بولارې د مرزونو نيولو نه وړاندې خپلې منطقي انجام ته وُرسېدې . قمرې وئېل، چې دا ځل دانشورو بتېربازانو وئېل، چې مونږ د هغه تجربو نه ډېر څۀ زده کړي دي . د خان "قومي وطني" مرز به جنګ ګټي . زاړۀ مرزان بګيلي شوي وو، پنجرې ته ئې واچول، چې نوے کلے وُکړي . روانه "چارشنبه" کښې به هغه هم جنګوي".

"وه د پيتوګي پلاره! څۀ اوتې بوتې دې شروع کړې دي؟ پښتانۀ به اوس ستا هر صېب ته د مشرتابه شمله ترې؟ـــ پيش نۀ شي!"

"هغوي ډېر هوښيار دي . کۀ "دستار" لري، نو د دستار سر هم پېژني . ګنې نو د "ګل اباد د خان

ځوي" خو لکه د جامو تولي سياسي "بولارې" فوجي "ګارې" بدلې کړې او اوس خو مې اوريدلي دي، عمران خان نيازي "غازي" کوي، خدا ے دې ورته خير کړي، دا ځل "غازي" ئې "شهيد" نۀ کړي"

"د پيتوګي پلاره! يقين مې نۀ شي، کۀ دا ځل دې خان د ګوهرشاه مولانا "تعويز، دَم، درود" هم د سرکار د کرسۍ يار کړي. خان به دې د مشر خان په مزار دا ټپه کوي،

زما نصيب کښې جانان نشته

کۀ د تعويز په ځا ے مُلا په غاړه کړمه"

"د پيتوګي موري! هغه د پښتنو متل د ے، "زوړ ورک شه مړه! سَخا د ے". واړۀ ناست دي، لکه د خان دې شَپيلي کښې واړوه چې، زوړ هغه، نو ے دغه".

## ډرون، ناټو سپلائي، عافيه اسلام اباد او مولانا فضل الرحمان

"د پيتوګي مور! هغه د پنډۍ د لوي کور هغه زړه ور او زورَور خان دې ياد شي؟"

"نيکبختې! د پنډۍ د لوي کور کوم خان زړه ور او زورَور نه ؤ؟ د پنډۍ د ابغ نبغ خانانو نوم اخله!"

"وروستے خان يادوم نيکبختې!"

"خدا ے دې پخپلو قدرتونو اخيرے کړي!!!"

"هغه چې اسلام اباد کښې کښيناستلو، نو خپلو "کرام الکاتبينو" ورته "عملونه" او "مجلس عملونه" په مېز کېښودل. که ياد دې شي؟ خرو سترګو کښې ئې د "رنا" رانجه هم اچولي وو".

"توبه توبه! سم ډير چغمټ ئې! "عملونه وايه، خو "مجلس عملونه" مه وايه!"

"نيکبختې! چې نه وايم، نو "تور" به "سپين" شي؟" "غوړ غوړ يم درته".

"که خيال دې وي، نو قاضي صيب چې چرته د "نُوک" ځاى مونده، هلته ئې "سُوک" منده". چرته چې د پنډۍ د لوي کور خان ته د سرونو شمير پکار ؤ، هلته به ئې سرونه شميرل او چې چرته به ئې پکار نه وو، هلته نه به ئې "واک آوټ" کوؤ. دې سره ئې ډرون بُريدونه روا کړل، ناټو ځواکونو د پاره ئې سپلائي ؤسپړدله ـــ عافيه صديقي ئې ورته ؤسپارله، جامعه خفصه ئې رنګه کړه او سُور جومات ئې شهيد کړو. د سُور جومات "غازي" ئې "شهيد" کړو او د "شهيد غازي" ورور ته ئې توره فيشني بورقه په سر کړه او بيا پنځه کلونه چې ئې ؤخوړل ؤښکل، نو اوچتې موريې ته ؤختلو او تولي ګوتې ئې مولانا فضل الرحمان ته ؤنيولې. د دوه لاسونو د شلو ګوتو په ډيرشو بندونو کښې يؤ بند خو ځه، يؤ "نُوک" ئې هم ځان ته نه کړو او مولانا فضل الرحمان دا ټپه کوله،

غلطۍ دې تولي په ما بار کړې

را ته ښکاريږي له يارۍ اخلي لاسونه"

"ځه خوار مه شې! دا مولانا صيب تا ته دومره ساده ښکاريدلو ځه؟ په سُور جومات کښې چې وينې بهيدلې، قاضي صيب د جمهوريت "ميثاق" د ابۍ (انګلستان) په نغري ناست لاسليک کولو".

"ژبه دې ؤريژيږه! خبره نيمه کښې اخلې. ما هم دغه وئيل، چې ډيرش کلونه د افغانستان د جهاد "مهر" خوړونکو يؤ بل پسې لستوني رانغښتي دي، خو د "مهر دهنده" ملازه ئې ژبې نه سَپړي. پرون ئې د ډرون، ناټو سپلايۍ، عافيه سَپارنې خوړله ـــ نن ئې د دې په ضد په احتجاجونو ګتي. او اولس خو به دغه وائي،

په ما دې کومې کوډ ې کړې؟

په مخ مې سَپينې او ښکې ځي، خَله درکؤمه"


ISSN201212




# قبائيلي سيمو
## کښې اصلاحات

افراسياب خټک

د وفاق تر انتظام لاندې قبائيلي سيمو (فاټا)کښې د سياسي هلوځلو پېل يؤ تاريخي ګام دے . 1870ء کښې هغه وخت دغلته پوليټيکل ايجنسۍ نظام پېل شو، کله چې برېطانيې څۀ افغاني سيمې ؤنيولې اؤ د برېطاني هند برخه ئې کړې . قابضې واکمنۍ خپل تکړه ځواکونه اؤ ځيرکه انتظاميه د روسيا سره دې "پولئيزې سيمې" کښې د خپلو ګټو خونديکولو د پاره ؤټاکله . فاټا افغانستان ته څېرمه د برېطاني واکمنۍ خوندي کولو د پاره يؤ ډال ؤ، ځکه ئې د هر ډول سياسي هلوځلو اؤ بدلونونو څخه په ښنده د ساتلو تابيا ؤکړې شوه . په فاټا کښې فکري زمکه داسې شنډه ؤساتلې شوه، چې څۀ ډول سياسي بزغلے پکښې زرغون نۀ شي . دې خبرې نه مخ اړولے نۀ شو، چې پيرنګي واکمن دغه فکر کښې تر ډېره حده برياليے شوے ؤ . فاټا د ژوند د ښستېزو غوښتنو حق لرونکو وګړو د استوګن په ځاے د پرزؤنې اؤ جنګ مېدان ؤګرځؤلے شو . دې سره فاټا کۀ يؤ اړخ ته د غازي امان الله خان د ټولنيزو اؤ کلتوري بدلونونو د پاره داسې دېوال شو، چې ختيځې پښتنې سيمې نه ئې د دغه بدلونونو اغېزې ؤتمبولې اؤ بل اړخ ته ئې په ختيځه پښتنه سيمه کښې د اوچت شوے د باچاخان سياسي تحريک افغانستان ته پرېښنبودلو .

له بده مرغه، د برېطانيې د هند نه په وتلو هم د پاکستان برېطاني فکر لرونکو واکمنانو د فاټا د پاره هماغه د پيرنګي واکمن قانون په ځاے ؤساتۀ .

تاريخ د قابضې برېطانيې لخوا د فاټا سياست نه لرې ساتلو تګلاره غوره ښکاره کړه، ځکه چې هم دا خاؤره د روسيا اؤ لويديزې نړۍ تر منځه جنګ کښې په افغانستان کښې په روسي ځواکونو اؤ مفاداتو برېد د پاره پکارولې شوه .


ISSN201212

ملکي او نړیوالو ترهګرو ډلو د فاټا سیمې نه د بلا خُمځ او د ښامار کور روغ کړے دے ۔ د فاټا استوګن په دې ترهګرۍ کښې له هر چا ډېر ځپلي شوي دي، خو بیا پُرې څوک غوږ نهٔ ګروي ۔

1970ء نه سیاسي ګوندونه فاټا کښې څهٔ نا څهٔ شتون لري ۔ ځنې ګوندونه خو قامي اسمبلۍ او سینېټ ته د خپلو غړو لېږلو کښې هم بریالي شوي دي، خو د ګوندیز کاندید (امیدوار) په ځاے د یؤ "ازاد امیدوار" په توګه ۔ اوس د پولیټیکل پارټیز ایکټ سره به سیاسي ګوندونه دغه سیمو کښې خپلې هلې ځلې د ګوند د بیرغ او تګلارې سره کولې شي ۔

د خیبرپښتونخوا د ګورنر بېرسټر مسعود کوثر لخوا فاټا کښې د سیاسي هلوځلو تګلاره ټاکلو د پاره د سیاسي ګوندونو یوه غونډه د اکتوبر په څوارلسمه نېټه بللې شوې وه، چې د لسو سیاسي ګوندونو غړو په دې مازغهٔ شاربونکې غونډه کښې ګډون کړے و ۔ دې غونډه کښې په ډاګه کړې شوه، چې دې هلوځلو د پاره د فاټا استوګنو ته هغه ټول حقونه ورکول لازمي دي، کوم حقونه چې بندوبستي سیمو کښې اوسېدونکو ترلاسه کړي ۔ دغه بنسټیز حقونه د پاکستان ائین او نورو عدالتونو ورکړي دي ۔ تر څو قبائیلي سیمې د پاکستان نورو سیمو نه په ائیني او عدالتي اړه شوکېدلې دي، نو دغه سیمو کښې به د بنسټیزو حقونو ورکړه څنګه یقیني کولې شي؟ د خیبر پښتونخوا حکومت غونډه کښې برخه اخستونکو سره ژمنه وکړه، چې د بنسټیزو حقونو د ورکړې د پاره به هره ممکنه هڅه وکړي ۔

سیاسي ګوندونو لوظ وکړو، چې څهٔ ډول وسله لرونکي به خپلو سیاسي غونډو ته نهٔ پرېږدي او خپلو وېناؤ کښې به کرکه نهٔ ځاے کوي ۔ ګورنر ګډون کوُنکو سره پخلاوے وکړو، چې پولټیکل انتظامیه به د سیمې د سیاسي مشرانو لخوا د اولس د شکړو په حقله غوښتنې سر ته رسوي ۔ هغه سیاسي ګوندونو ته ووئېل، چې په هره یوه ایجنسۍ کښې دوه غړي د انتظامیې سره اړیکو او خبرو د پاره وټاکي ۔

پېبل کښې به ځنې مذهبي سیاسي ګوندونه دغه سیمو کښې سیاسي هلې ځلې کولو کښې بریالۍ وي، ځکه چې د ترهګرو لخوا هغوي ته په تندو ګونجې نشته (جماعت اسلامي دغلته څو سیاسي غونډې وکړې)، خو د وخت تېرېدلو سره هیله لرو چې دغه سیمو کښې د ترهګرو لخوا بې وزله شوے او زورلے شوے اولس به نورو سیاسي ګوندونو ته هم پخپل درشل هرکلے ووائي، ځکه چې څهٔ سیاسي مذهبي ګوندونه دغه ترهګرو سره اوړه په اوړه ولاړ دي او قبائیل ئې د خپلو کړاؤنو او ځپلې ژوند ذمه وار ګڼي ۔

د سیاسي ګوندونو نه پرته، فاټا کښې د رسنیو (میډیا) مرسته هم کول غواړي، ځکه چې د دغه سیمو د رسنیو ګڼ خبریال او غړي تښتولې شوي او وژلي شوي دي ۔ د فاټا د ودانۍ په لړ کښې د رسنیو د ګټور کردار نه مخ څوک هم اړولے نهٔ شي ۔

دا خبره څرګنده ده، چې په فاټا کښې ټولنیز، معاشي او سیاسي پرمختګ به هله امکان ولري، کله چې حکومت دغه سیمې نه د ترهګرۍ مونډ وباسي او د سیمې بې دخله شوي قبائیلي مشران او اولس بیا په ځاے کړي ۔ دغسې اولس دا هیله لري، چې د فاټا د نور پاکستان سره ترون د پاره به حکومت نور ځلور شپېتهٔ کلونه لاره نهٔ څاري ۔

(لیکوال د پاکستان د سېنټ غړے او د یؤ سیاسي ګوند صوبائي سرمشر دے)

# په قبائیلي سیمو کښې د تعلیم اصل صورتحال

احسان داور

په قبائیلي سیمو کښې د تعلیم جاج اخستل ما ډېرې خواشینۍ ته څېلمه کوي. یؤ اړخ ته د شپږ سوه نه زیات ښوونځي لکه د پیریانو ورکو ترهګرو د ترهګرۍ په نوم نخښته کښې رنګ کړل اؤ بل اړخ ته د فاټا د تعلیم د محکمې ناخوالۍ اؤ د فاټا سېکرټرېټ معنیخېزه چپیا اؤ د لوي افسر نه ورکوکي منشي پورې د دغه مسئولینو ناچاقي. کۀ په تېرو لسو کلونو کښې رنګ شوي ښوونځي بیا ودانول هر څو ضروري ده، خو دې نه هم زیات اهم د شته ښوونځو دننه د زدکړې لړۍ پېل کول دي. د باوري لارو نه دا وېنا شوې ده، چې په فاټا کښې د ښوونځو، لیسو اؤ پوهنتونونو دننه بلډې اؤ د خپلو فرائضو نه د ښنډې کولو رویه دې حد له تلې ده، چې زده کوونکي اوس دغه ادارو ته راتګ هم نۀ کوي. دوي زیاتوي، چې لوي شمېر کښې استاذان د فاټا تعلیمي مسئولینو لره جېبونه تۆدوي اؤ بیا په نورو نجي ادارو کښې هم تنخاګانې ترلاسه کوي اؤ ګڼ خو پکښې د هېواد نه بهر په خلیجي ملکونو کښې وظیفې تر سره کوي اؤ دلته د حکومت نه هم خپله تنخا په وخت وخت اخلي. د سرکاري ښوونځو هلکان داسې حالاتو کښې د بهر نه په ټیوشن اخستلو مجبور دي اؤ د سویلي وزیرستان ګڼ شمېر طالبعلمان په بنو اؤ نورو نزدې ښارونو کښې پړاتۀ دي. د رنګ شوؤ ښوونځو سره ودان ښوونځي هم له دې امله د پیریانو کورونه شوي دي، خو بیا هم د دغه ځاے استاذان خپلې تنخاګانې اخلي.




د فاټا په اووۀ ایجنسیو کښې د کامرس اووۀ کالجونه دي، چې دغه ټول د پېسو اؤ بډو اډې ګرځېدلې دي اؤ په زرګونو طالبعلمان نورو ښارونو ته د خپلو زدکړو په غرض تلي دي. د دې ځاے د ټېکنیکل تعلیم مسئولینو هم ځانونه راندۀ کانۀ کړي دي، چې دغسې د حکومت اؤ د اولس لوي زیان دے، ځکه چې کۀ هر څو مالي سټونزې لري، خو طالبعلمان دې ته مجبوره کړے شوي دي، چې د پېښور، بنو، ډي آئي خان اؤ نورو ښارونو په نجي ادارو کښې خپل تعلیم مخ په وړاندې بوځي. زمونږ د یؤ ویاند تر مخه د ګڼو لیسو مشران د تېرو درې کلونو نه دغه ودانیو ته ښکاره شوي هم نۀ دي، خو په کاغذونو کښې دغلته حاضر وي اؤ خپلې غټې تنخاګانې جېب ته کوي اؤ هم دا امل دے، چې د لیسې مشر نۀ وي، نو هلته مونږ د ښوونکو حاضري څنګه منلې شو؟ دغه اوس اوس د ګورنمنټ ډګري کالج میرعلي پرنسپل په بنو کښې مېشته طالبعلمانو ته نوټس لېږلے وؤ، چې هغوي دې کالج کښې حاضري وؤکړي، خو طالبعلمانو په دې وجه هلته تګ وؤ نۀ کړلو، چې ښوونکي د خپلو فرائضو نه ډېره پاملرنه پراټېوېټ ګټې ته کوي. په بنو کښې ټیوشن کوونکي یؤ طالبعلم وؤوې، چې خپلو زدکړو ته ځېر اؤ ملاترلي به چرې هم د خپلو سیمو (فاټا) لیسو ته مخه نۀ کړي، ځکه چې داسې کول به خپل وخت خرابول وي.

چې د هلکانو د ښوونځو اوړ لیسو دغه حال دے، نو د جینکو د ښوونځو اوړ لیسو خو به څهٔ هم نهٔ وایو. د اوسني راغلي شمېر تر مخه په فاټا کښې د جینکو د تعلیم شمېر 0.60% دے، چې په نړۍ کښې د هرې سیمې نه ډېر لږ دے، خو په سرکاري کاغذونو کښې د فاټا په 2349 ادارو کښې د 195,000 پورې شمېر ښودلے شوے دے، چې ټروپ دروغ دي. دا شمېر د فاټا د پاره د سپښټ سټېنډنګ کمېټۍ ته یوه غونډه کښې وړاندې کړے شوے، چې څوکیوال ئې هم د سویلي وزیرستان څخه سېنېټر محمد صالح شاه قریشي دے. دې غونډې ته فاټا سېکرټرېټ پخپل راپور کښې وئیلي دي، چې د جینکو په 1551 پرائمري سکولونو کښې 124,424 جینکۍ اینرول دي. دغسې په 158 مډل سکولونو کښې 19,614 اوړ 42 هائي سکولونو کښې 13,837 جینکۍ اینرول دي. دوي لیکلي دي، چې په پنځهٔ هائر سېکنډري سکولونو کښې 1,134 جینکۍ، په 534 کمیونټي سکولونو کښې 32,105، دیارلس ګورنمنټ ډګري کالجونو کښې 2,532 جینکۍ دي. دې غونډې ته راپور کښې لیکلي شوي دي، چې 3,627 ښوونکې په پرائمري ښوونځو کښې، 1,157 په مډل کښې، 508 هائي سکولونو کښې، 109 هائر سېکنډري کښې، 184 په ډګري کالجونو کښې اوړ 849 په کمیونټي سکولونو کښې دي. د فاټا سېکرټرېټ دغه شمېرې چې په کاغذونو کښې څومره زړهٔ راښکونکې دي، دغومره دروغژنې دي. په عملي توګه دې ښوونکو کښې 80% د سیمې د تعلیم مسئولانو ته هره میاشت 5,000 روپۍ ورکوي اوړ بې وېرې بې ترخې خپلو کورونو کښې ناستې وي.

په ټوله پښتونخوا کښې اوړ په ځانګړې توګه په فاټا کښې چې چا ښوونځي د پاره ځاے ورکړے دے، د هغهٔ د کور نه یوه تورسرې د استاذې په توګه اخستې شوې ده، چې دغو کښې زیاترې خپل نوم هم لیکلے اوړ لوستلے نهٔ شي. دا ډول استاذانې په فاټا کښې د جینکو په زدکړو کښې د یؤ لوي خنډ په توګه دي، ځکه چې د بهر نه دغه ښوونځو ته راتلونکې استاذانې هم دغو ته ګوري اوړ داسې د جینکو په تعلیم اور بل شوے دے. دې حالاتو کښې مونږ ته په فاټا کښې د اصلي تعلیمي شرحې اندازه کېدلې شي.




په قبائیلي سیمو کښې د تعلیم د نیشتون ټولو نه لوي لامل په تعلیمي نظام کښې د چېک اېنډ بېلنس نیشتوالے دے. هر کال د پرمختګ په کلیزو منصوبو کښې تعلیم د پاره پیسې ویستلې کیږي، خو د دې پرته هم په دغه سیمو کښې د تعلیم شرح، هغه د هلکانو وي کهٔ د جینکو، خو وده نهٔ کوي. مونږ په فاټا کښې د ترهګرۍ اوړ کړکېچ وده کښې د تعلیم سره د مېړنۍ مور دا رویه هېرولې نهٔ شو. تر څو چې د فاټا د ځلمي کهول (هلکانو اوړ جینکو) د تعلیم یافته کولو د پاره شعوري اوړ عملي هڅه شوې نهٔ وي، تر هغې دغه سیمه کښې د سولې اوړ پرمختګ خبره کول هسې بوس بادول دي. وخت راغلے دے، چې په فاټا کښې تعلیمي نظام ته په سنجیدګۍ وکتلے شي اوړ په دې لار کښې ولاړ خنډان له مونډه وویستلے شي.


ISSN201212

# غزه: ژبې کوموګوتو نیولې

عمر ختك

یوه اوونۍ (هفته) د فلسطین اولس د اسرائیل د مرډکو باران ته پرېښودلو نه وروستو هیلري کلنټن نېټن یاهو سره تل ابیب او مرسي سره قاهره کښې مخ شوه او د د مرګ او ژوبلې دغه اور ئې مرکولو د پاره د نړۍ سترګو کښې رانجهٔ پورې کړل. لویدیزو رسنیو (مغربي میډیا) د فلسطین د اولس د وژنې لړۍ ایسارېدلو ته "جنګ بندي" ؤوې او دا ئې هېر کړل، چې جنګ تل د دوه ښکرورو منځ کښې وي ـــ فلسطین کښې جنګ نهٔ بلکې "اسرائیلي جارحیت" دے.

د 1946ء نه تر دې دمه ـــ د فلسطین خاوړه یهودي پوځ د وخت په بېلو بېلو پړاو د یرغلونو په ترڅ کښې لاندې کړې ده او تر دې، چې اخره کښې ئې فلسطین یوې لپې خاوړې کښې راؤنغښتلو.

2000-1946 د فلسطین بائیللي خاوړه




په نړۍ کښې د قام پرست سیاست نوغے ویستونکي عرب بادارانو هغه وخت خپلې دووه مخې ته پلؤ ؤ نهٔ نیولے شو، کله چې ئې اسلامي وروروليٖ ته د "عرب لیګ" دېوال انګړ کښې ؤوهلو. د هغې ورځ نه ئې د مسلمان زور هم مات کړلو، خو د قام پرستۍ لاره کښې خندونه جیګول ئې هم پرېنښودل او مونږ وینو، چې یوازې اوس غزه نهٔ، دا لړۍ د نړۍ په هر څېق او لوېشت روانه ده او مسلمانان وژلے کیږي.

په دې خبره باید څوک سترګې څوچنې او تندے ترېو نهٔ کړي،، خو دا یؤ ریښتیا دي، چې داسې اورونه د اسلام د "آفاقي مواخاة" او د "د خېر پېل خپل کور نه کوه!" د وېنا برعکس دي، چې دغه د مذهبیت فلسفه ئې ټولو مسلمانانو ته په عمومي توګه او هغه مسلمانان، چې نورو مذهبونو سره شریک ژوند کوي، ته ئې په خصوصي توګه زیان رسولے دے.

د فلسطین دننه چې کله هم د انسان وینه تویږي، په کشمیر کښې چې کله هم مسلمان وژلے کیږي او د نړۍ په نورو برخو کښې چې کله هم څهٔ داسې پېښه منځ ته راځي، د پاکستان دننه داسې مذهبي ډلې او سیاسي دیارېمار سرکونو ته راشي او خپلې مرۍ ؤچې کړي. د یؤ انسان په حېث، زهٔ د هرې داسې پېښې په ضد د دغه مذهبي ډلو او د دغه سیاسي دیارېمارو ملاتړ کؤم، خو هغه خبره چې زما او د دې مذهبي ډلو او سیاسي دیارېمارو په منځ کښې کرښه راکاږي، هغه خبره دا ده، چې د پښتنو په وینه دوي ولې غلي دي؟ پېښور،

ISSN201212

کابل، کوټه او کراچۍ کښې د پښتنو وینې دوي ته ولې نۀ ښکاري؟ د پښتنو د وینو توئېدلو لاره نیولو کښې کۀ مرسته نۀ کوي، نو د احتجاج او غندنې د اخلاقي مرستې کولو نه د دوي لاس چا نیولې دې؟ ـــ دا خبره د ایلم هومره کرښه ده.




قام پرست سیاست په دې اډانه دے، چې ورومبے خپل ځان، خپل کور، خپل کلے خوندي کړه او دې پسې د بل کلي غم وخوره. د پاکستان دننه رائج العمل اسلام د قام پرستۍ په ضد دا دریز خپل کړے دے، چې "د خپل کور اور له ګوتې مۀ وړه او د نړۍ په نورو برخو د اور چغې وهه". اوس دې ځاے کښې دا کرښه نوره هم ژور ګرنګ او دنګ دېوال شي. د "ذَوالقُربیٰ" په تفسیر مې زما ځان، زما کور او زما کلي ته پام کوي او په تعمیل ئې را ته زما ځان، زما کور او زما کلي نه د سترګو پټولو ښونه کوې؟ ژور ګرنګ او دنګ دېوال.

زۀ خو دا خبره کوم، چې د پښتون مرے دې د بل مسلمان د مړي شا ته نۀ پټولے کیږي ـــ د پښتون وران شوے کور ته دې د بل مسلمان وران شوے کور نۀ مخامخ کیږي او د پښتون توې شوې وینې رنګ دې د بل مسلمان د توې شوې وینې په رنګ نۀ تت کولې کیږي.

د انسان د وینې حرمت له دې د مذهب جواز نۀ لټولے کیږي، ځکه چې هم دا د نړیوالې ورورولۍ او د اسلامي فلسفې د پاره لوي زیان دے. د نړۍ په مخ روان جنګ د معاشي توان تر لاسه کولو او د اقتصادي پرمختګ د پاره په غلطه لاره تګ دے او د دې جنګ ټول زیان د نړۍ اسلامي استوګنو ته دے. اوس وخت راغلے دے، چې د جذباتیت په ځاے د عقلیت نه کار واخلو. اوس وخت راغلے دے، چې د نعرو په ځاے عملي ګامونه پورته کړو.

هاغه ورونو، چې د فلسطین د اولس سره د غم شرکندوني د پاره ئې د امریکا او اسرائیل او نورو مغربي هېوادونو بېرغونه په لوېه لاره سېزل، هغوي ته خواست دے، چې لا کورونو ته نۀ ځي. هغوي ته خواست دے، چې د پاکستان د دفاع او بقاء د پاره او د پښتون اولس د وژنې لاره نیولو د پاره جمهوري لاره خپله کړي او د اسلام اباد ایوان او د راولپنډۍ ماڼۍ نه غوښتنه وکړي، چې د پښتنو د وینې حرمت په ځاے کړي او په قبائیلي سیمو او نوره پښتونخوا کښې د امن راوستلو د پاره عملي ګامونه پورته کړي.

باید دا هېر نۀ کړو، چې د پښتنو په خاوره ـــ د پېښور، کابل، کوټې او کراچۍ اور یوازې د پښتنو نۀ، د پاکستان او ایشیاء په وجود اور دے.



د پېښور، کوټې، کابل او کراچۍ د پښتنو او نورو قامونو وینې ټول پاکستان، ټوله ایشیاء او ټولې نړۍ ته چغې وهي،

د دنیا د ودانۍ دعوې دروغ دي
چې تر څو د پښتنو کورونه وران دي

# د افغانستان د ځوانانو دموکراتیک سازمان



**اسد افغان**

د افغانستان د ځوانانو دیموکراتیک سازمان یؤ داسې ټولنیز جوړښت دی، چې شنه شونده ځلمو ئې غړیتوب ترلاسه کړو، تر څو د هېواد ټولنیزه ښېګړه اؤ پرمختګ کښې برخه واخلې.

## پېژندګلو اؤ تګلاره

الف) د افغانستان ځوانانو دیموکراتیک سازمان

ب) د لومړنیو سازمانونو دندې:

- سازمان ته د نوؤ غړو منل
- د هېوادپالنې، سربښندنې اؤ له هېواده په ننګه له ځان تېرېدو په روحیه د ځوانانو روزل
- د هېواد د بیا رغؤنې اؤ اقتصادي پرمختګ په برخه کښې د ځوانانو د فعالې ونډې اخیستنې تأمین
- د با احساسه ځوانانو په روزنه، پرمختګ اؤ اصلاح کښې له ښوونځیو اؤ خلکو سره همکاري اؤ د اړیکو د پراختیا تأمین
- د ځوانانو د تحصیل، کار اؤ اوسیدو په برخو کښې د هغوي له حقونو څخه ننګه
- د ښوونځو په زده کړو کښې، لوست کښې اؤ د کلتوري کچې د لوړولو په برخه کښې د ځوانانو هځؤنه
- د منفي کلتوري پدیدو په وړاندې مبارزه
- د ځوانانو تر منځ د نوښتونو د فعالیتونو پراختیا
- د لوبو اؤ بدني روزنې په برخه کښې د ځوانانو هڅول
- د هنري، شعر اؤ ادب محفلونو جوړول
- د ځوانانو لخوا د نشئي توکو اؤ الکوحلو په وړاندې د مبارزې تأمینول
- د هېواد د وضع شوؤ قوانینو تطبیقیدو ته اؤ د فساد په وړاندې مبارزې ته د ځوانانو هڅول
- د ځوانانو په منځ کښې د مسئولیت منلې روحیې جوړول
- د مافوقو کمېټو د پرېکړو اؤ مصوبو اجراء



## د غړیتوب لار

د غړیتوب شرطونه:

i. هر هغه افغان ځوان، چې د پنځلس کلنۍ عمر ئې بشپړ کړی وي، اساسنامه ئې منلې وي اؤ د سازمان په کوم یؤ ارګان کښې فعاله برخه اخیستې وي، د سازمان د چارواکو تصمیمونه اؤ لارښؤنې ئې منلې اؤ ترسره کړې وي اؤ د غړیتوب حق ورکړي، کولای شي د ځوانانو د ملي اؤ ډېموکراتیک سازمان غړی شي

ii. د ځوانانو د ملي اؤ ډېموکراتیک سازمان ته د غړیتوب منل په انفرادي ډول ترسره کیږي

الف: په داوطالبانه ډول د سازمان د غړیتوب فورمه ډکوي اؤ د سازمان د یؤ غړي له خوا پېژندل



ISSN201212

کیږي

ب: د غړيتوب د منلو مسايل د سازمان په لويه غونډه کښې، لومړۍ د ډاګيزې رايې له لارې د تصويب کمېټۍ ته رسيږي

ج: د ګډون مخينه د سازمان د لويې غونډې د پرېکړې له تاريخ څخه پيليږي

د: د غړيتوب کارت د تنظيم واک د افغانستان د ځوانانو د ملي اؤ ډېموکراتيک سازمان د مرکزي کمېټۍ دی اؤ د ويشلو واک ئې هم د همدغې کمېټۍ دی



## د غړو دندې

د سازمان هر غړی مکلف دی چې:

الف: اساسنامه اؤ د مرکزي کمېټۍ اؤ د سازمان د اړوندو کمېټو مصوبات به رعايتوي اؤ د سازمان د موخو اؤ فعاليتونو په اړه به د ځوانانو په منځ کښې تبليغ کوي

ب: اساسي قانون اؤ د هېواد نور قوانين به مراعتوي اؤ د اسلام د سپېڅلي دين احکام به جدي په پام کښې نيسي

ج: د اړونده لومړي سازمان اؤ د مافوق کمېټو په فعاليتونو کښې به فعالانه برخه اخلي اؤ د سازمان د ليکو د پراختيا، ټينګښت د هغې د يؤوالي لپاره به کار کوي

د: په منظم ډول بايد د غړيتوب حق ورکړي



هـ: خپل خوږ هېواد پرې ګران وي اؤ د ملي يؤوالي، بيا رغؤنې اؤ د ټولنې د رغؤنې لپاره مبارزه ؤکړي اؤ ملي ګټو ته په شخصي ګټو لومړيتوب ورکړي

و: بايد رېښتينی، بې کبره، مهذب، د خلقو مرستې ته چمتو وي اؤ خپل شخصي ژوند، کورنۍ اؤ ټولنې ته متقي اوسي

ی: د سولې په لار کښې، د ملي خپلواکۍ په ټينګښت کښې، د ځمکنۍ بشپړتيا اؤ د ټولنيز اقتصادي پرمختګ په برخه کښې فعال وي اؤ د نشئي توکو د کارؤنې، کرکېلې اؤ قاچاق په وړاندې مبارزه ؤکړي.

د افغانستان دېموکراتيک ځوانانو دا جوړښت خپلو ټولو غړو نه هيله کوي، چې هغوي به د خپلو ذاتي موخو، غرضونو اؤ غوښتنو پرته، خپل ځان اؤ خپل وخت د هېواد اؤ اولس د ژوند ښېګړې، پرمختګ اؤ ښېرازۍ لپاره سپاري اؤ څۀ ډول شخصي ګټې به دغه لار کښې نۀ خنډ کوي.






# سوشل میډیا چې څۀ په خلۀ ورځي

زرګل مومند

یؤ وخت ؤ، چې ورځپاڼې راغلې اؤ بیا مجلې شوې ـــ بیا چې کله ټیلي ویژن راغلو، نو غږ په لږ وخت کښې ډېر اولس ته په زیات مؤثر انداز د رسېدلو لاره هواره شوه. د رسنیو په لړ کښې د ټیلي ویژن ارزښت اوس هم پرېوتے نۀ دے. وخت تېرېدلو سره د سېټلائټ راتګ نړۍ نوره هم را ونغښتله اؤ بیا د سېټلائټ په اشارو صحافت تر ټولو مهمه پېشه ؤګرځېدله. خو په دې هر څۀ د پاسه، ځېلو قامونو اؤ بې وسه غړونو به ګیله لرله چې دغه میډیا د وخت د واکمنو اؤ زورورو د خوښې انځورونه وړاندې کوي اؤ خبرې غږوي.

د نړیوال ویب په لار کښې د فیسبوک، ټویټر اؤ نورو اتصالاتي شبکو راتګ سره نړۍ د ګلوبلائز دور په نوي بام ؤدرېدله. د خپل اکاؤنټ پرانستلو د پاره زیات زړۀ چاؤدون هم نۀ غواړي. یؤ سړے ځان د پاره، چې څومره غواړي، نومونه پرانستلې شي اؤ چې څۀ ئې په خلۀ راځي، وئېلے ئې شي.

د اولسمشر نه تر یؤ عام کلرک ـــ د ارمي چیف نه تر یؤ عام پولس ـــ د قاضي القضاة نه تر یؤ وکیل اؤ د رئیس العلماء نه تر یؤ چنې ـــ چا ته چې څۀ هم په خلۀ ورځي، تول ئې نۀ کوي ـــ ډنګ ورکوي

دې سره اوس د برېښنائي رسنیو زور ختم نۀ شو، خو تر ډېره حده ورسره یؤ مساوي اؤ متساوي قوت مخې ته راغلو، چې د بې غږو غږ شو.

لکه څنګه چې وئیلې شوي دي، هر چا پکښې د خپلې خوښې اؤ د خپل ضرورت ځای موندلې دی اؤ د خپلې خوښې اؤ خپل ضرورت خبره پکښې کوي. د سوشل میډیا دغه مخ اؤ استعمال چې څومره پیاوړې دی، دومره کرکڅن هم دی. په قامي مسئلو د نظر ورکولو په لړ کښې دا فکر نۀ کېږي چې زۀ د کروړونو انسانانو د ژوند په اړه خبره کوم اؤ زما د خبرې به د انسانانو په ژوند څۀ اغېزه پرېوځي. دغسې تصویرونه تدوین کوُنکو پروګرامونو تر لارې د خبرې مخ اؤ رنګ دواړه په بله واړوي، چې هغه د یؤ لوی اؤ ستر مشر وي، که د یؤ څاروي.



نړیوالې پېښې، چرته چې زمونږ څۀ کار هم نۀ وي، هلته هم د سوشل میډیا تر لارې برجق لیکنې اؤ د خپل وطن یوه خبره خو زرها زاویو نه وړاندې کېږي اؤ داسې هنر سره وړاندې کېږي، چې کله

کله ذهن د هغه خبرې منلو ته غاړه کیږدي، چې هغه دروغ وي ـــ او دې خبرې نه ثابتیږي، چې سوشل میډیا د پراپېګنډه کولو د پاره بهترینه وسله او لاره ده. لرې خبره خو نه ده، چې د سوات سیمې ملاله د ترهګرۍ ښکار شوه او که دغه لرې وي، نو اوس اوس د نوموړي خبریال حامد میر د واقعې خو لا انګازې هم راستنې شوې نه دي. دغلته دا واقعې ؤشوې او یؤ شړنګ شو ـــ په پوستې پاسه پوستې او د کمال خبره دا ده، چې دا پوستونه کؤنکي هاغه څوک دي، چې پرون پورې د حامد میر د خلې نه وتلی هر لفظ د هغوي د پاره یؤ مستند دلیل ؤ.

هغه څوک چې سوشل میډیا پکاروي، باید دا خبره پام کښې ؤنیسي، چې دې دور کښې ساه اخستلو پسې ټولو نه زیات وخت فېسبوک ته ورکولی کیږي (چې څوک ئې کوي). د دې دور د ټولو نه لویه نشه د سوشل میډیا سره تړون دی او په دې تڼخ کښې باید هېر نه کړو، چې هره خبره او هر انځور هم زمونږ ترلارې نورو ته رسیږي، چې هغه د سولې وي، د امن وي، د پرمختګ وي او د وهمونو سره مو نور ګانه نه کړي. د پاکستان او افغانستان دننه د اولس تر منځه کړکې له پوکی ورکؤنکي د یوې تاکلې شوې تګلارې لاندې دغه سوشل میډیا پکاروي او له بده مرغه پاکستانیت او افغانستانیت په نوم د پښتنو افغانانو منځ کښې کرښې راکښلې کیږي. مونږ چې د کرښې هر اړخ ته هم اوسیږو، دا زمونږ ټولو نه ورومبي مذهبي، قامي او اخلاقي فرض دی، چې هلته د امن او سولې د پاره خپل رول ؤلوبوو او د هرې داسې هڅې مخه ؤنیسو، چې زمونږ په سیمو کښې بې اتفاقي او انتشار راؤړل غواړي.

کتابتون ډاټ کام کښې دا ځل د نوموړي مستشرق راورټي د پښتو لغت او د سرمحقق دوست شینواري "ژبپانګه" خوندي شوي. دوي سره سره د "انجمن ترقي پسند مصنفین بنو" لخوا "نظرونه۳" (چې د پښتون شعري صنفونو زده کړه کؤنکو د پاره پکښې د لیکچري غونډو ګټور رودادونه دی) او د څېړنکار محمد عثمان زیارمل "تړیوال انقلابي غورځنګونه" شامل دي. دې سره د نور ګڼ علمي کتابونه په دې پاڼه موندلی شئ.

پښتو ډاټ نېټ کښې دا ځل

دوه نوي کتابونه په لیکه شوي دي او دواړه شعري ټولګې دي. د ملګري محمد الیاس ثاقب "د نمر په څیره" او د ملګري سالار یوسفزي شعري ټولګه "په سازونو کښې سندرې".

لکه څنګه چې مونږ په تېره ګڼه کښې هم لیکلي وو، میاشتنی "ویاړ" هم د پښتو ډاټ نېټ په پاڼه په داسې ښکته ورکړی شوي درک لوستلی او ځان سره خوندي کولی شئ.

http://pukhto.net/wyaarh/index.php

# ويښ پښتون اوده پښتون

سيال سباؤن

پښتون چې ويښ دے، نو د خپلې ښځې غبرګ کښې پځپل کور دننه هم ويښ دے او چې اوده دے، نو په سنګر کښې هم اوده دے.
کومو ته چې د پښتنو نيکونو کليمه زده کړې ده، هغوي نه په پښتنو د خپلې خوښې اسلام مني — چا چې جمهوريت د پښتنو د جرګې نه زده کړے وُ، هغوي ورله جمهوريت د غاړې پړے کړے دے — د چا معيشت چې د پښتنې خاؤرې په ودانۍ کښې دے، هغوي د پښتنو خاؤرده د خپل معيشت د پاره په جنګ سپارلې ده — او پښتون؟



پښتون د خپلې ښځې غبرګ کښې، د خپلو بچو منځ کښې، د خپلو برګو لاندې پروت دے. هر سحر د خپل يؤ ورور، يؤ ګاونډي، يؤ کليوال جنازه کوي او مابنام بيا راشي او بل سحر بلې جنازې پورې ځان مرکړي. يوه ورځ ئې پخپله هم چرته جومات، بازار، لار کښې مړکے په برخه شي.
هغه غواړي، چې خپل ځوے او لور ښوونځي ته ؤليږي، خو چرې هم د هغه چا په ضد احتجاج او غندنې ته نۀ پاځي، ځوک چې ئې د ځوي او لور ښوونځي رنګوي — هغه د چا جاګيرونو او ماڼو ته پسخيږي نۀ، غواړي چې دوه وختونه سپوره توره دې ؤخوري، خو چې د هغۀ انګڼ کښې د هغۀ او د هغۀ د کورمې ژوند خوندي وي، خو کۀ چرې د هغۀ ژوند د چا له لاسه دړکې سره مخ وي، نو د اسلام په نوم ډېر زر د مرګ خلې ته منډه وهي — د هغۀ روزي کۀ د وفاق په لاس کښې چاړه نيولے قصاب تړوري، نو هغه د هاغه چا مُلاتړ نۀ کوي، چې د دۀ د برخې تپوس کوي — ځکه چې هغه هر سحر ژوندے کيږي او هر مابنام د بل سحر پورې مړ کيږي. کاش دغه ژوند د پوهې، شعور او احساس ژوند هم وُ، يوازې ساګانې نۀ.
د خپل هېواد په هره لاره او کوڅه کښې ئې اور بل دے، خو ويني ئې نۀ. د هغۀ سترګې کشمير ويني هاغه کشمير چې پخوا ګانړه کړے شوے دے — د هغۀ سترګې فلسطين ويني، هاغه فلسطين چې د اسلام د واکمنو د سترګو وړاندې سوزي او ځانونه ئې پرې ړاندۀ کاڼۀ کړي دي. خپل کابل، پېښور، کوټټې او کراچۍ باندې بل شوي اور د پاره چرته هم په سرک نۀ ؤدريږي، خو د فلسطين يا کشمير د پاره د خپل ورور اتڼ، ګاډے، کور او هر څۀ، تر دې چې ورور باندې هم اور بلوي — دا ولې؟ — دا ځکه چې د اسلام په نوم او د وطنيت په نوم د هغۀ قام په مرګ سپارونکي د هغۀ سر د دغه تيارو نه برجق کړے دے.

هغه د ډرون په ضد هر وخت په چغو وي، خو کومو مذهبپالو او د وطنيت چغې وهونکو چې د ډرون لاره پرانستلې ده، هم د هغوي په مشرۍ کښې احتجاج کوي او کوم قام پرست چې د دغه ډرون بهانه د منځ نه ؤباسي او ځانونه ئې مرګ ته نيولي دي، هغوي پسې پچموزې کوي — دا ولې؟ — دا ځکه چې، پښتون يؤ ساه اخستونکے ځناور دے — پښتون د مهذبې نړۍ اوسېدونکے نۀ دے — پښتون خپل کور او سنګر دواړه ځايه اوده دے — دواړه ځايه د اجل نمړۍ دے.


ISSN201212



# ملاله یوسفزۍ د پاکستان لور نۀ ده

خان زمان کاکړ

هم دا کال په جنورۍ کښې، په لیکوال مجله کښې د ملالې یوسفزۍ په حقله زما لیکنه خپره شوې وه ملالې او پلار ئې ماته فون کړے ؤ. ملالې وئیل، "ډېره خوشاله شوم چې د دومره ښه سوچ خلق په پښتنو کښې موجود دي". او پلار ئې وئیل، "ستا په دې خبره مې ؤژړل، چې ملاله یوسفزۍ د پاکستان لور نه ده، بلکې افغانه لور ده — د پاکستان لور عافیه صدیقي ده. ملالې ته یوازې تا په خپل اصل تناظر کښې کتلي دي. ته به سوات ته خامخا راځې". زه سوات ته نه لاړم او ملاله دجنتي سوات په ننګ د برمنګهم په یؤ روغتون کښې پرته ده. زما نن هم هغه رایه ده، چې ملاله د پاکستان لور نه ده، خو پاکستان هغې ته لور وئیلي. طالبان خپله اثاثه ګڼونکے ملک د طالبانو د وحشت ښکار ملالې ته خپله لور وائي. څوک دا منطق منلے شي؟

د کوم پاکستان چې یوه لور عافیه صدیقي ده، د هغه بله لور ملاله یوسفزۍ جوړول یوه انتهائي غېرفطري او احمقانه خبره ده. د پاکستان د ریاستي مزاج او د ملالې رشته جوړول یؤ ناممکن امر دے. تر څو چې د پاکستاني ریاست او طالبانو رشته قائمه وي، تر هغې پورې به دا ملک د ملالې، کائنات او شازیې لپاره یؤ زندان او مقتل وي. په فاټا کښې د انساني حقوقو او د زنانو د تعلیم لپاره د مبارزه کؤنکې فریدې اپریدۍ قتل دے کړے د جمالیاتو د پرورش کؤنکي غزاله جاوید قتل او کړه په وحشت مخالفې ملاله یوسفزۍ یرغل — یوه پېښه هم د ریاست له دائرهٔ اختیار بهر نه ده شوې. خلق پوهېږي چې ریاست د تحفظ ضمانت نه ورکوي، بلکې تحفظ لوټي.

د طالبانو ملاتړ کؤنکي آرمي چیف چې کله ملالې ته د خپل سوچ نمائنده ؤوئیل، نو خلکو دا خبره د یوې مسخرې په توګه واخیسته. د دفاعِ پاکستان کونسل د روح روان جماعتِ اسلامي او د طالبانو په حق کښې د لانګ مارچ کؤنکي عمران خان مبهم مذمتي بیانونه هم مسخرې وې. کوم مسلم لیګ چې د ځان او طالبانو په پالیسي کښې فرق نهویني او کالعدم تنظیمونو ته له سرکاري خزانو شکرانې ورکوي، د هغه مذمت به څوک سنجیده اخلي؟


ISSN201212

پښتانه الطاف حسېن او طالبان د يوې سکې دوه مخونه ګڼي، د رياست د ناوړه دسيسو ايجاد ئې ګڼي . الطاف حسېن چې کله د طالبانو خلاف تقرير کوي، خلک د سياسي منافقت په رموزو سوچ کوي.



جماعتي اؤ جهادي مېډيا ملالې ته ټول کوربېج د خپل رېټنګ لپاره ورکړے . د پاکستان مېډيا څه نوے فکري تناظر خو نه قائموي.

د عوامي نېشنل پارټۍ خلک وائي، چې په ملاله يوسفزۍ د طالبانو د يرغل مذمت په ټوله دنيا کښې وشو، خو د طالبانو خلاف اوس هم يوازې مونږ په مېدان کښې ولاړ يو . د پاکستان بل هيڅ يؤ ګوند د مرستې لاس نه راکوي . مرسته خو پرېږده، اکثره ګوندونه د طالبانو حمايت کوي . د دنيا د طالبانو مخالفت همداسې دے لکه درويش درانے چې وائي:

د يزيد هر سړے خلاف دے مګر دا به ګورو
چې له حسېنه سره څو تنه مېدان ته رسي

خلق په دې ښه پوهېږي چې په ملاله حمله د آرمي له محل وقوع څخه بهر نه ده واقع شوې . رحمان ملک سمدستي يؤ احمقانه بيان ورکړو ،چې حمله آور د افغانستان څخه راغلي وو . پوښتنه دا ده چې په کومه لار دا راتلل، آيا دا د آرمي په کنټرول کښې نه وه؟ ترهګر د افغانستان څخه سوات ته راغلو، په لال قلعه باندې خپل بېرغ درونکے رياست چرته اودہ. وؤ؟ رحمان ملک ته خو دا هم معلومه ده چې ترهګر افغانستان څخه سوات ته راغلو، خو له پېښې وروسته سوات څخه بيا چرته لاړو؟ په دې حقله هغه هيڅ معلومات نه لري آرمي په ملاله کېس کښې نه يوازې طالبان مخالف عناصرو ته يؤ پېغام ورکړو، بلکې د دنيا په وړاندې ئې ددې د ثابتولو کوشش هم وکړو، چې مونږ يوازې "يومِ عشق رسولﷺ" نمانځونکي خلق نه يو، بلکې د ملالې د روغتيا لپاره "يومِ دعا" نمانځونکي خلق هم يو . ليکن دنيا پوهېږي چې دا ملک د ملاليو اؤ ګلمکيو لپاره موزون نه دے ـــ دا د "فضل الله" اؤ "بيت الله" د پاره دے . دنيا په دې هم پوهېږي، چې په سياسي حواله پي پي پي اؤ اې اېن پي خپلو خلکو ته نه شي تلے . رياست ټولې لارې ځانمرګو ته سپارلې دي، لېکن دفاعِ پاکستان کونسل اؤ عمران خان هر چرته تلے شي، طالبان ئې د سيکورټۍ ضمانت هم اخلي . که څه هم د سېکورټۍ ضرورت نشته.

ملاله د يؤ سوچ علامت دے، د ترهګرو خلاف د يؤ مقامي سوچ، د خدائي خدمتګار تحريک سوچ ـــ دا د هغې پښتنې ټولنې سوچ دے، چې کله ئې هم طالبانو ته دا موقع ورنه کړه، چې هغه ځان د يؤ مقامي تحريک په حېث معرفي کړي، بلکې همېشه ئې دا تاثر ورکړے دی، چې طالبان رياست پيېچکاري کړي دي . طالبانو ته که چرته په دې ټولنه کښې د غوړېدلو ګنجايش هم موجود دے، نو هغه د رياستي پاليسۍ، مذهبي سياست، تعليمي نظام اؤ تبليغي جماعت په واسطه دے . کومه ټولنه چې د خدائي خدمت ګار


ISSN201212

تحریک غوندې د عدم تشدد یؤ تاریخي سیکولر تحریک پېدا کوي، هغې څخه د طالبانو لپاره د کلتوري ګنجایش توقع نه شي کېدے. په ترهګرو چې څه هم کوي، د دې مقصد په بنیادي توګه په دې سیمه د خدائي خدمتګار تحریک د تاریخي اثراتو تسلسل ماتول دي. اوس چې په دې رواداره ټولنه کښې ریاست د دنیا جهان ترهګر راغونډ کړي دي، نو خلقو سره د نجات دوه لارې دي ـــ یؤ مقامي مزاحمت، چې ملاله ئې ښه مثال دے اؤ بل ډرون حملې! ـــ مقامي مزاحمت خو د ریاست تر وحشت لاندې دے، ای این پي ئې له یؤ عام کارکنه تر مرکزي مشره په نخښه کړه. د ترهګرو خلاف جوړېدونکي قامي لښکرونه ئې تباه و برباد کړل. د پښتونخوا اؤ فاټا خلق اوس په څرګنده وائي، چې زمونږ په استطاعت اؤ د ریاست په استطاعت کښې ډېر فرق دے. مونږ په یؤ تباه حال انفراسټرکچر، کمزور معیشت اؤ منقسم سیاست څنګه د یؤ سیکورټي سټېټ مقابله کولے شو؟ ـــ نو ځکه یوازې د ډرون حملو آپشن پاتې کیږي. ډرون باید دوام ؤکړي. خلق پاکستان ته د ډرون ټیکنالوجۍ د ورکولو هم مخالفت کوي، ځکه چې د پاکستان په سرپرستۍ کښې کومې طیارې الؤځي، د هغوي نخښانه همېشه د غل په ځاے د کور مالک وي. ما ته په خپله د وزیرستان خلقو وئیلي چې کله د پاکستان طیارې راشي، نو مونږ په وېره کښې یو، چې داسې نه وي، زمونږ کورونه په نخښه کړي ـــ خو د ډرون د راتللو په وخت وېره نه محسوو، ځکه چې د ډرون نخښانه متعینه وي. د ډرون په حقله مقامي ډسکورس له ریاستي ډسکورس څخه بالکل برعکس دے. عمران خان چې کوم لانګ مارچ ؤکړو، هغه په بنیادي توګه د ډرون حملو خلاف د ترهګرو لانګ مارچ ؤ. دې هرګز د مقامي نقطه نظر عکاسي نه کوله. په دې لانګ مارچ کښې دا کوشش ؤشو، چې ترهګر بې ګناه ثابت کړي اؤ په دې لړ کښې له جماعتِ اسلامي ورسته شاید چې څا دومره بداخلاقي کړې وي. په کوم ملک کښې چې د ترهګرو حامي عمران خان دبدلون علامت وي، په هغه ملک کښې د ملالې یوسفزۍ غوندې خلقو لپاره د اوسېدلو ګنجائش نه وي اؤ څوک هم د دې منلو ته نه شي تیارېدے، چې ملاله یوسفزۍ د پاکستان لور کېدې شي.



پاکستان خپل کاروبار کوي، ملایان خپل، این جي اوز خپل اؤ مېډیا خپل ـــ خو مونږ؟ ـــ مونږ جنګ ځپلے قام ملالې یوسفزۍ ته خپله قامي اتله وایو، ځکه چې د سر د بقاء په جنګ کښې سواتۍ ملالې د کندهارۍ ملالې غوندې ټپه وهلې ـــ د سوات ملاله یوه بې توپه بې تفنګه ملاله ـــ د عدمِ تشدد ملاله ـــ د ټوپکسالارانو خلاف د بلاګنګ اؤ یادښت لیکنې په سنګر کښې ولاړه ملاله ـــ دا سنګرونه دې اباد وي ـــ د ملالیو نسل دې دوامداره وي.

دا وګړي ډېر کړې خدایه!<br>
ستا په مینه له هر ځایه<br>
لویه خدایه! لویه خدایه!




# موسيقي اؤ تهاټهونه

خيام يوسفزے

د تهاټهـ د تفصيل اؤ بنيادي ځېړنې نه پس د تهاټهونو نوټېشن څۀ په دې ډول دے :

**بلاول تهاټهـ**

سا ـ رے ـ ګا ـ ما ـ پا ـ دها ـ ني ـ سا

ټول پاخۀ يا سوچه سُرونه دي

**کليان تهاټهـ**

سا ـ رے ـ ګا ـ ما ـ پا ـ دها ـ ني ـ سا

"ما" تېور سُر دے

**کهماج تهاټهـ**

سا ـ رے ـ ګا ـ ما ـ پا ـ دها ـ ني ـ سا

"ني" کومل سر دے

**بهيرو تهاټهـ**

سا ـ رے ـ ګا ـ ما ـ پا ـ دها ـ ني ـ سا

"رے" اؤ "دها" کومل سُرونه دي

**پوروي تهاټهـ**

سا ـ رے ـ ګا ـ ما ـ پا ـ دها ـ ني ـ سا

"رے" او "دها" کومل سُرونه اؤ "ما" تېور سُر دے

**مروا تهاټهـ**

سا ـ رے ـ ګا ـ ما ـ پا ـ دها ـ ني ـ سا

"رے" کومل سُر دے اؤ "ما" تېور سُر دے

**کافي تهاټهـ**

سا ـ رے ـ ګا ـ ما ـ پا ـ دها ـ ني ـ سا

"ګا" اؤ "ني" کومل سُرونه دي

**اساوري تهاټهـ**

سا ـ رے ـ ګا ـ ما ـ پا ـ دها ـ ني ـ سا

"ګا"، "دها" اؤ "ني" کومل سُرونه دي

**تودي تهاټهـ**

سا ـ رے ـ ګا ـ ما ـ پا ـ دها ـ ني ـ سا

"رے"، "ګا" اؤ "دها" کومل سُرونه دي اؤ "ما" تېور

**بهيروي تهاټهـ**

سا ـ رے ـ ګا ـ ما ـ پا ـ دها ـ ني ـ سا

"رے"، "ګا"، "دها"، "ني" کومل سُرونه دي

څنګه چې ما مخکښې وضاحت کړے ؤ، چې ټهاټ زمزمه کیږي نۀ، خو ولې د ټهاټ نه وتلے هر راګ زمزمه کېدے شي. د هر راګ ځان له ځان له وخت وي ، خو دلته به لنډ وضاحت د ټهاټ د وختونو په حقله ؤکړم اؤ کۀ ژوند ؤ، نو تفصیلي بیان به وړاندې راځي.



د ټهاټ اؤ د هغې نه د وتلي راګ موضون وختونه

### بلاول ټهاټ

څۀ راګونه ئې هر وخت غږولے شو، څۀ راګونه ئې د شپې د لسو نه تر یوې پورې غږول زیات تاثیر لري اؤ څۀ د ماښامي راګونه دي.

### کلیان ټهاټ

څۀ راګونه ئې سحر د اووۀ نه تر لسو پورې غږول تاثیر لري اؤ څۀ په ماښامي کښې د اووۀ نه تر شپې لسو پورې اؤ څۀ د شپې د لسو نه تر د شپې یوې بجې پورې استاذان غږوي یا زمزمه کوي.

### کهماج ټهاټ

د دې ټهاټ اکثر راګونه استاذان د نیمې شپې غږوي.

### بهیرو ټهاټ

سحر د اووۀ نه تر ساختي یعنې د لسو بجو پورې

### پوروي ټهاټ

د دې ټهاټ اکثر راګونه د ماښامي غږولے شي.

### مروا ټهاټ

د دې ټهاټ اکثر راګونه د ماښامي غږولے شي اؤ څۀ چرګبانګ د څلورو نه تر سحر اووۀ بجو پورې

### کافي ټهاټ

د کافي ټهاټ نه وتي اکثر راګونه د سحر لسو بجو نه تر غرمې یوې بجې پورې غږول زیات زړۀ قبلؤنکي وي، څۀ د نیمې شپې اؤ څۀ راګونه د باران د وخت پکښې هم دي لکه د مثال په طور "رامداسي ملهار" مونږ د باران په وخت غږوو.

### اساوري ټهاټ

د دې ټهاټ راګونه څۀ دشپې اؤ څۀ د سحر په وخت غږول تاثیر لري.

### تودي ټهاټ

د سحر څلورو نه تر سحر اووۀ پورې اؤ څۀ راګونه د ماښام اووۀ نه تر شپې لسو پورې.

### بهیروي ټهاټ

سحر ماښام غږولے شي.

(نور بیا کۀ ژوند ؤ)

---

## ځان مې ؤموندو.....

ښار ته تلونکي ساده سړي خپله پښه پسې چیرړه ؤتړله، چې چرته ورک نۀ شي. چیرړه ؤسپړدلې شوه اؤ پړېوتله. د بل سړي پښه ژوبل وه. هم دغه چیرړه ئې ؤموندله اؤ خپله پښه ئې پڼې ؤتړله. څۀ وخت وروستو دغه سړے هغه ساده ته مخامخ شو. ساده په چیرړه لیدلو سره ور منډه کړه،

"هله دا یم!
هله دا یم!
ځان مې ؤموندۀ"




**ويار راپور**

"چارلس سپنسر چېپلن" د اپرېل په شپاړسمه نېټه 1889ء د چارلس چېپلن سینئير او هنا تونستېن کره په لندن (برېطانيه) کښې زېږېدلې ؤ. د هغهٔ پلار د خپل وخت د سټېج نومورے اداکار او سندرغاړے ؤ. دغسې ئې مور هم په سټېج د يوې نومورې سندرغاړې او اداکارې پېژندګلو لرله.



چارلي چېپلن په لس کلنۍ کښې د پلار د ناڅاپه مرګ او د مور په ناروغتيا ځان ته په غاړه شو. د خپل ورور سيډني سره هغهٔ هم د هغه تهېټر لاره ونيوله، کوم چې ئې په وينه کښې غورځنګ کولو او "دي اېټه لېنکشائر لېډز" کښې ئې کار پېل کړو، چې د خندونکي ناڅي (رقاص) په حېث زر وپېژندلے شو، د هغهٔ سټرګو بل مرام لټولو. د تهېټر په دغه تؤدو سرو کښې هغهٔ ته وخت د ويليم ګليټ سره په نومورې لوبه "شېرلوک هولمس" کښې کردار ورکړو او دغه ځاے نه د چارلي دننه د تهېټر اتل

څرګند شو. د امريکا په تهېټرونو کښې د هغهٔ هرکلے وشو. 1913ء کښې هغه په سنېما کښې په يؤنيم سل ډالر (اووني/هفته) ځاے شو.
راتلونکي کال پورې په تهېټر د خندا او چړچقو سره د هغهٔ نوم دومره اوچت شوے ؤ، چې د "ميوچوَل فلم کارپورېشن" سره ئې په يؤ اېر دولس فلمونه وکړل چې پکښې "سحر يوه بجه"، "نواب"، "د پردې په شا"، "اسانه کوڅه" او "بې هېواده" ياد دي.



"ميوچوَل" سره د شوي لاسليک پايله کښې هغهٔ د خپلې سټوډيو تاده کولو باندې لاس پورې کړو او ورسره ئې په 1918ء کښې د "فرسټ نېشنل" سره په يؤ مليون ډالره د اتهٔ فلمونو لاسليک وکړو. دغه لړ کښې ورومبے فلم "د سپي ژوند" وړاندې کړے شو، چې د سنېما پوهانو ورته "د سنېما ټولو نه ورومبے او مکمل شاهکار" ووې. هم دغه وخت ورومبۍ نړيواله نښتنه کښې د امريکا د پاره پنګه غونډولو د پاره هغهٔ د پنځهٔ څلوېښت دقيقو يؤ فلم "پوځيان (Shoulder Arms)" جوړ کړو، چې خپله هڅه کښې بريالے شو.
هم دغه ورځو کښې "مېلډرډ هېراس" سره ئې وادهٔ وکړو، چې د هغې لخوا پړې تور پورې شوے ؤ. چارلي د خبرې منځ باندې پوهه ؤ، ځکه ئې په نهٔ زړهٔ مېلډرډ خپله کړه، تر دې چې يؤ ځوے ئې ترې هم وشو، چې د زېږېدنې په درېمه ورځ مړ شو او

وروستو ئې مېلډرډ سره خپل ترون غوځ کړو. د
دغه ترون سره د هغهٔ ژوند ډېر بې ځایه شوے ؤ.
هغهٔ غوښتل، چې د "فرسټ نېشنل" سره کړي لوظ
نه لاس واخلي، خو قانون دې ته ؤترلو، چې دغه
لوظ سره ته ؤرسوي. "د یوې ورځې خوند" د دغه
لوظ اخیرۍ پانړو کنبې وه، تر څو بیا هغه د
"یونائیټډ ارټسټس" سره کار پېل کړي، چې
اګست 1919ء کنبې ئې د سنېما بل لوي یادګار
"ماشوم" وړاندې کړو. په وړومبي ځل هغهٔ خندا
اؤ ډرامه یؤ ځاے کړل اؤ دا فلم ډېر زیات خوښ
کړے شو. وئېلے شي، چې دا فلم د چارلي د خپل
ماشومتوب رنګ ؤ، چې خپلو ټولو احساساتو
سره ئې وړاندې کړو.

ستمبر1921ء کنبې شاؤخوا لس کلونه وروستو
چارلي خپل وطن انګلستان ته د تګ تابیا ؤکړه.
"د دیارۍ ورځ" اؤ "زیارت" د "فرسټ نېشنل" سره
د هغهٔ لوظ هم سره ته ؤرسولو.



1923ء کنبې د "یونائیټېډ ارټسټس" تر سیوري
لاندې هغهٔ خپل وړومبے فلم "د پېرس یوه ښځه"
وړاندې کړو. دې فلم کنبې هغهٔ پخپله څهٔ رول
لوبولے نهٔ ؤ. هر څو کهٔ هغه په دې فلم ډېر
ویاړېدلو، خو اولس ورته زیاته پاملرنه ؤ نهٔ کړه.
دا ځل هغهٔ د خپل ژوند د ټولو نه لویه توقه تابیا
کړه اؤ د یؤ ملیون ډالرو په لګښت ئې "د زرو زور"
وړاندې کړو، چې یؤ په پنځهٔ ئې ګټه ورکړله.

24 نومبر 1924ء هغهٔ د لیتاګرے سره د وادهٔ
ؤکړو. دغه وخت چارلي پنځهېږش کلن اؤ لیتا
شپاړس کلنه وه. د لیتا پښبه دړنه شوې وه اؤ د
میکسیکو قانون چارلي په دغه تور نیولے شو. په
پنځمه نېټه د مئ د میاشت 1925ء د چارلي
ځوے چارلس سپېنسر چېپلن جونئیر ؤزېږېدلو.



لیتا د چارلي راتلونکي فلم "سرکس" کنبې
لوبغاړې وه. هم د "سرکس" دور کنبې د هغهٔ اؤ
لیتا بل ځوے سیډني چېپلن ؤزېږېدلو اؤ بیا د
لیتا اؤ د چارلي تر منځ د وادهٔ ترون د عدالت یوې
پرېکړې ختم کړو، چې چارلي شپږ لکهه ډالره
باندې ځان لیتا نه خلاص کړو. د عدالت دا کېس
د چارلي د ژوند یوه ډېره ناوړه پېښه وه، چې په
اولس کنبې ئې هم د هغهٔ په لمن تورونه پورې کړل
. د "سرکس" خپرېدلو سره په هغهٔ د ستائنې اؤ
ډالرو باران ؤشو، خو د لیتا انځور د هغهٔ ژوند په
تیارو سپارلے ؤ.



"د ښار رڼاګانې" چې هغهٔ پېل کولې، تر هغې په
هولیوډ کنبې د ګویا فلمونو ټیکنیک ترلاسه
کړے شوے ؤ، خو هغهٔ بیا هم یؤ غلے فلم تابیا

کړو . دوه کلونو کښې سر ته رسېدلې دا فلم چې
سنېما کښې وړاندې شو، نو داسې ښکارېدل،
لکه چې د دوه کلونو خواري او دوه ملیونه ډالره د
لګښت سیند یوړل، خو دې فلم د هغهٔ نوم نور هم
ځلند کړو او پنځهٔ ملیونه ئې وګټل . دې سره هغه د
یورپ په سېل ووتلو او کال پورې هغهٔ پښه په
ځائے و نهٔ لګوله ـــ دې سېل کښې هغه د نړۍ ګڼو
نومورو پوهانو او مشرانو سره مخ شو او د هغهٔ
خیال ته نوې پراخه لارې پرانستلې شوې . هغهٔ په
بېروزګارۍ سترګې ښخې کړې او و ئې ګڼل، چې
د مشین راتګ سره وګړي د بېکارۍ سره مخ شول
او هم دې فکر "نوي وختونه" برخېره کړو . دا ځل
هم هغهٔ د ګویا فلم نه ډېره زیاته ځنډه وکړه او
چرته چرته ئې قیصې کښې غږ له ځائے ورکړو . دا
ځل چارلي د خپلې درېمې ښځې پاؤلیتې ګوډار
سره دا فلم پېل کړو . فروري، 1936ء سنېماګانو
کښې وړاندې شوے دا فلم هاغه وخت د دې د
سیاسي ژبې او نیوکو له مخه زیات خوښ نهٔ کړے
شو، خو نن ورته یؤ ستر فلم وئیلے کیږي . "د
هانګ کانګ یوه خانخېله" د هغهٔ نوم سره جوړ
شوے د 1966ء اخیرے او د هغهٔ د ژوند ورومبے
رنګین فلم و .

1942ء کښې، چې پاؤلیتې او چارلي کښې
بېلتون منځ ته راتلو، چارلي په "نوي وختونه"
شوې نیوکې بیا یؤ اړخ ته کړې او په سیاسي فکر
ئې یؤ بل فلم تاده کړو ـــ "ستر آمر" په فاشزم یؤ
طنزیه برید و . د چارلي او هټلر ترمنځه څهٔ خبرې
یؤ وې . د دواړو زېږون کښې څلور ورځې فرق و
ـــ دواړه وني نه مندري وو ـــ د دواړو برېت د
سپېړمو هومره وو او دواړو کوچنیوالې نژدې
نژدې یؤ رنګ حالاتو کښې تېر شوے و . دوه کاله
په قیصه کار کولو نه وروستو هغهٔ په ستمبر
1939ء کښې په فلم کار پېل کړو . دغه وخت
کښې په هټلر بلوڅېدل درکې نه لرې نهٔ وو، خو د
چارلي زړهٔ د هغهٔ وني نه ډېر غټ و . اکتوبر
1940ء کښې دا فلم وړاندې کړے شولو او د
پنځهٔ اکېډمي اېوارډ د پاره ومېرلے شو . هم دې
فلم سره د چارلي د یهودیت ګنګوسه خوره شوله .

16 جون 1943ء ـــ څلور پنځوس کلن چارلي د
اتلس کلنې اُونا اونېل سره وادهٔ وکړو . د دواړو
اتهٔ بچي وشو، چې هم د چارلي په ژوند ئې
کورونه ودان شول . چارلي په 25 دسمبر 1977ء
مړ شولو او اُونا د هغهٔ مرګ نه څوارلس کلونه
وروستو مړه شوله .

چارلي د خپل ژوند لویه برخه امریکا کښې تېره
کړه او د ژوند وروستو کلونو کښې هغه د
"مېکراتیزم" تناظر کښې د امریکائي مفاداتو په
ضد هلې ځلې کولو باندې امریکا نه بې دخله
کړے شو . هغهٔ باندې د کمیونسټ ټاپه ولګولې
شوه او هغهٔ بیا زیات وخت په سویټزرلېنډ کښې
تېر کړو . تر دې، چې هم هلته مړ شو او هم هلته ئې
خښ دے .



د یؤ توقمار خنډونکي اداکار، څېرک قیصه
لیکونکي، خواریکښ هدایتکار او خوږ
موسیقار په توګه به نړۍ چرې هم هغه هېر نهٔ کړي
یقیناً چې په سنېما د بشپړې خندا پېل د چارلي
چپلن راتګ سره شوے دے .

# د چارلي چپلن څو یاد فلمونه














































# پښتو فلمي قيصه او سندره

روزي خان ناز

هغه تېره ورځ د حيات صبب خوا ته پېښ ؤم، څۀ ليکنه مې ورله ورېې وه. هلته مې د چارلي چېپلن په ژوند د ليکلي راپور پروف ريډنګ کولو، نو حېران شو، چې په يوه يوه قيصه به څو مياشتې، تر کال پورې او کله کله دوه دوه نيم کلونه هم دوي اخستل او بيا مې خپلې پښتو ته ؤکتل.

د هوليوډ او بوليوډ خبره به نۀ کوو او د لوليوډ سنيما خو د پنجاب د کلتور واکمنو په بوليوډ هسې هم خرڅه کړې ده ــــ زمونږ د پښتو ژبې سټر نوم او اداکار عجب ګل هغه تېره ورځ ؤوې، چې




د پښتو فلمونه ليکونکي د شمېر دوه درې کسان دي - يؤ يؤ پنځۀ پنځۀ فلمونه ليکي، نو قيصه کښې به څۀ خوند او فلم کښې به څۀ ژوند راشي؟

د هغۀ خبره بيخي ريښتيا ده، خو د پښتو فلم د پاره اوس عجب ګل پاپلې پل کاکے نۀ دے. هغه د پښتون فلم پېژندګلو ده. زمونږ ټولنه کښې به کله د ځان منځ نه ويستلو د پاره د بانې په ځائے څۀ حل راؤباسو؟ د پښتو فلمونو کتونکي او ناقدانو په کرت کرت ؤوئېل، چې د سنېما پاملرنه دې ؤشي او د پښتون کلتور د قتل مخنيوے دې ؤشي خو مجال شته. کۀ څوک پرې غوږ ګروي. زۀ خو نن بدرمنير او اصف خان ته هم په دې اړه نيوکه کؤم، چې هغوي کولے شول، چې د سنېما د

پاره ئې د سمت تعين کړے ؤ، خو هغوي د وختي نوم او په سپينه پرده د درينجقونو وهلو او ډوزو ويشتلو نه ؤزګارېدل نۀ. دغه يؤ خو اوس د بخښانې شو او د بل هم ضمانت نشته. خو اوس په ارشد خان، عجب ګل، جهانګير، ارباز او داسې نورو نومونو باندې لوئې ذمه وارۍ دي. د ذمه وارۍ قبولو په ځائے هغوي خپلې جاجرې ښې ډکې کړې او د لاهور ګډېدونکو ته ئې نوره هم په اغوستن خرچه کمه کړه. دوي د کوم پښتون کلتور ښودنه کوي.

مونږ په تصوير توي شوې اوښکې ؤچې کړې نۀ وې، چې په سندرو وکښې مو هم تشدد له ځائے ورکړے شو او دا هغه سندرغاړو ؤکړو، کوم چې هم د دې تشدد په سبب د خپلو سيمو نه متيز تلي دي. خدائے دې د دغه شاعرانو سترګې ړندې کړي او د دغه سندرغاړو په مرۍ کښې دې دانې راولي چې اوس زمونږ د مينې سندرو له هم د تشدد معنا او لهجه ورکوي.

د پښتون قام بدمرغي ده، چې سياست دان، مُلا، ملټري، بيورو کريټ او د کلتور ستوري ـــ د هرې خوا نه پرې شيشکې شخوند وهي. دې لړ کښې مونږ د پښتونخوا په پښتون قام پرسته واکمنه ډله هم دا غږ کوو، چې کۀ هغوي يؤ خوا د پښتنو د ژوند خوندي کولو د پاره ځانونه دړکو ته ښپلمه کړي دي، نو بل اړخ ته ئې د کلتور په مرګ په ځان غوږونه هم راچولي دي، چې دا توقع ترې نۀ کېدله



# مسافري دې نصيب مهٔ شه!

شاهد قماش ـ امارات



وائی، ''ناوادهٔ کړي خبر نهٔ وي، وادهٔ کړي حال نهٔ وائي''، زمونږ د کلي هغه سفيدپوش غټ خيټي چې به د اماراتو نه کلي ته راغلل، نو په سپينو جامو به ئې داسې قسم پرفيوم شيندلي وو، چې مونږ کليوالو به ورپسې تر ډيره وخته په فضا کښې سپيږمي په بره بره راکښلې . هسې خو اماراتو ته د تلو چينجې په ما کښې د وړوکوالي نه وُ، خو دغه چينجي له وده دغه غټ خېټو ورکړې وه ـ په کلي کښې به د دغه خلقو ډېر عزت وُ اوُ دوي به هم غټې غټې کولې ـ په رو رو دغه چينجي دومره وده وُکړه، چې په کلي کښې مې بيا زړهٔ تنګېدلو اوُ اماراتو ته راغلم ـ ما خو وئېل، دلته به زهٔ هم لکه د دوي مزې کوُم ـ څنګه چې کلي کښې به ئې په ځان عطر مښلي، په سپينو سپينو کښې ګرځېدل، دغسې به دلته هم وي ـ خو دلته مې بل حال وُليدلو ـ ځوک په سخا جامو کښې په خولو کښې ډوب پراتهٔ وو، چا چا پکښې تش بنېن اچولې وُ ـ څوک د کټ د لاندې اودهٔ وو، څوک د کټ د پاسه په بل کټ کښې اودهٔ وُ، چې پاسنے کس به په ډډه واوړېدلو، نو په لاندينې کس به زلزله شوه ـ چا د دولسو نه تر دولسو ټيکسي چلولو ـ کهٔ هسې به چا ستوماني ويستو لپاره لاس اوچت کړو، نو صاحب به ورسره خوا کښې ټيکسي وُدرولے وُ ـ څوک کجهورو پوري لکه د شادوګيانو نخښتي وو ـ کجهورې ئې شوکولې ـ چا د سړک غاړې بوټو ته اوبهٔ اچولې، چا د سکول بسونه چلول ـ سحر وختي به ئې د کور کور نه ماشومان اوچتول اوُ غرمه به ئې خپل خپل ځائے ته واپس رسول ـ څوک د بلاك په ترکاڼ سره ولاړ وو ـ دا زمونږ د کلي هغه اماراتو والا وو ـ هر هغه کار ئې دلته کولو، په کوم چې ورته کلي کښې ځان بدي ښکارېدلو ـ ما چې د دوي د کلي خرش پرش سره د دلته ژوند موازنه وُکړه، نو خندا راغله، خو پخپلې بېوقوفۍ ژړا هم راغله (ځکه چې زهٔ هم اوس اماراتو ته راغلے وُم اوُ زما حال هم اوس د دوي نه بدل نهٔ وُ ـ

زهٔ دلته څوکيدار يم، خو کهٔ کلي کښې چاته وايم نو بيا به راپوري خاندي ـ چې څوك رانه تپوس وُکړي، نو زهٔ وايم، ''سيکورټۍ کښې ډيوټي کوُم'' نو لږ عزت مې جوړ دے ـ

په کلي کښې خلق د کور د حفاظت لپاره سپي ساتي اوُ دلته سيکورټي ساتي، خو کلي کښې سپي ته د غپلو پوره اجازت وي چې د دغه اجازت نه مونږ سيکورټي محرومه يو ـ دلته د غپلو اختيار صرف مالك ته دے، چې ''ارباب'' ورته وائي کلي کښې سپے موګي سره د اوسپني په زنځير تړلے شي اوُ دلته سيکورټي کرسۍ سره د قانون په زنځير ـ

وړومبيو ورځو کښې خو سخت په عذاب وُم، ځکه چې زهٔ د کلي نه راتلم، نو ځان سره مې پښتو راوړې وه اوُ څنګ چې د پښتون يوه خبره وي، دغسې به ما هم په يوه خبره عمل کولو، چې د هغې د لاسه چا په يوُ ځائے نهٔ پرېښودم ـ فټ بال ئې را نه جوړ کړے وُ، خو بيا را ته يوُ دوست وُوئېل، ''يا به پښتو سر ته رسوې اوُ يا ډيوټۍ؟'' اوس چې منېجر راشي، وائي ''دروازه پرانيزه! اے سي بند کړه! خرچه کيږي، نو زهٔ وايم ''ښه


ISSN201212

جي". چې ساعت پس راشي اوّ وائي، "دروازه دې ولې پرانستې ده اوّ اے سي ولې بند دے. نو زۀ وایم، "غلطي ۆشوه سر!" کۀ راته وائي، "صرف په ناسته نۀ کیږي، په بلډنګ چکر هم وهه!"، زۀ وایم، "ډېره ښه ده". چې بیا راشي اوّ زۀ په بلډنګ چکر وهم، نو راته وائي، "تۀ به تشې چکرې لګوې کۀ ډیوټي به هم کوې؟". زۀ ورته وایم "سوري سر!". کۀ ورته وایم، چې "د رزیل بچیه! دا خو راته تا وئېل"، نو بس ځان لره دې بیا کار ۆکتلو. بس اوس په دې خبرو ځان شپېلے کۀم . هغه هم خوشحاله شي اوّ زۀ هم په ځاے پاتې شم . مځکښې به په دې خبرو ډېره غصه راتله، چې نقصان به ئې ټول ما ته رسېدلو. اوس خبره په یۀ غوږ اوّرم، په بل ئې ۆباسم، نو اوس مې صحت هم لږ ښۀ شوے دے، خېټه مې غټه شوې ده، خو هغه پښتو مې ډېره ضعیفه شوې ده.

دلته چې څوک راشي، نو بیا ټرې ډېر په ګرانه سره ۆځي. د چا هغه خبره چې "اماراتو ته څوک راشي نو اول د ویزې پېسې خلاصوي ــــ بیا کور جوړوي ــــ بیا ورونو خوېندو لره ودونه کوي ــــ بیا خپل وادۀ لره مزدوري کوي ــــ مور پلار حج له لیګي ــــ خپل بچې ئې ۆشي، د هغوي د سکول خرچو اوّ جامې پېزار لره مزدوري کوي ــــ بیا ځان له ذاتي کور جوړوي ــــ بیا اولاد لره د وادۀ کوېژدن غم کوي اوّ په دې چل کښې زندګي په اماراتو کښې خاوّرې شي.

دلته هر څۀ ډېر دي، خو د یۀ شي پکښې کمے دے ــــ هغه کمے د سکون دے. د زړۀ سکون پکښې نشته. دلته ورته خلق ټېنشن وائي. زما یۀ ملګري وئېل، چې اماراتو ته راغلم، نو ټولو به وئېل، "ټېنشن اوّ ټېنشن". د یۀ نه مې تپوس ۆکړو، چې وروره! دا ټېنشن څۀ ته وائي؟ وئېل ئې، چې هغه د ټېنشن په معنا پوهه کړم نو د هغه ورځې نه را ته د ټېنشن بیماري لګېدلې ده. دلته زمونږ د مسافرو ډېر بد حال دے. خصوصاً د مزدورې طبقې ــــ خو کۀ د اماراتو نه راغلو غټ خېټو چا ته حقیقت بیانولے اوّ د دوه رنګۍ نه ئې کار نۀ اخیستلے، نو زما غوندې کم عقلو به د اماراتو خوبونه نۀ لیدل اوّ ځان له به ئې وطن کښې څۀ خوارې مزدوري کوله.



هغوي به په سپینو جامو کښې، د څرمن بوټانو اوّ پټېدار واسکټ کښې کارۀ ګرځېدل ــــ زیره ګرې به ئې په مروند ځنګېدله ــــ د پرفیوم ډډوزې به ټرې ختلې. مونږ به ګڼل، چې د ډېر قبنج نه نبغ هم نۀ ځي. اوس دلته پوهه شو، چې د خوارانو لینګې مړاوې شوې وي. کلې ته لاړ شي، چې مڵا ئې نیغېږي، بیا راغلي وي.

زۀ په ثواب اوّ ګناه څۀ پوهېږم
په جنتي خاوّره نهر ګرځمه
زۀ یۀ پښتون خانه بدوش د وطن
خاوّرې په سر اوّ در په در ګرځمه

خداے دې زمونږ پخپل وطن کښې امن راولي، چې د پردو وطنونو په شکو کښې مو ګلونه نۀ رژېږي، نۀ تالا کیږي.

خدایه! د عربو کوهان تش کړې
چې د شنې شونډې یار مې خپل کور ته راځینه



















پښتو يوه ښېرازه، مړه اؤ لرغونې ژبه ده
مونږ دا وايو، چې پښتو کښې ډېر توري
نشته، خو داسې نهٔ ده

د وياړ اداره به ډېر زر د حمنا پبليکېشنز پښتونخوا له
اړخه د نوموړي ژېپوهه خاطر مانړوال په زيار ترتيب
شوے پښتو اردو لغت تاسو ته وړاندې کړي
چې د ژبې زده کوونکو د پاره به سُترد فرهنګي پنګه وي



wyaarh.ashnaghar@gmail.com




داسې حالات کښې چې د پښتنو سيمه د جنګ حالت کښې اؤ د
ترهګرو بُريدونو لاندې ده، په صوبه کښې رېکارډ ترقياتي کارونه
کولو باندې مونږ د صوبې ځلمي وزيراعلیٰ **امیرحېدرخان هوتي**
ته د زړهٔ له کومي مبارکي وايو

WYAARH advertise 0300 933 9128

عبدالولي خان پوهنتون — روښانه پښتونخوا تعليمي پروګرام — روايتي هنرمند سکيم — پښتونخوا هنرمند سکيم — وران شوي ښوونځي اؤ سړکونه ودانول
ضلع تورغر اؤ کوهستان کښې تعليم کوونکو جينکو د پاره وظيفې اؤ ښځينه استاذانو له مراعات — باچا خان روزګار سکيم — پښتونخوا هنرمند روزګار سکيم
آئي ډي پارکس — ستوري د پښتونخوا سکيم — نوے سحر لېپ ټاپ سکيم — مفت ټيکنيکل اؤ ؤکېشنل تربيتي پروګرام
د هيپيټائټس سي ناروغو لپاره بېنظير هېلتهـ سپورټ پروګرام — صوبه کښې د مشيني کروندې فروغ — بېګم نصرت بهټو آنکالوجي خدمات
نرسنګ اؤ فزيوتهراپي کښې د سکل ډوېلمپنټ پروګرام ترمخه د وظيفو اجراء — صوبه کښې د صنعتي پرمختګ لپاره د طويل المدت قرضونو اسانتياوې



# عوامي نېشنل پارټي

قامي لارښود

## ډاکټر حېدر علي خان

ايم پي اے

خوازه خيله (سوات) خيبر پښتونخوا

